# د زره اوازونه

(د بېلابېلو لیکنو ټولګه)

Ketabton.com

سردار محمد همدرد

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زړه اوازونه

(د بېلابېلو ليکنو ټولګه)

ليکوال

**سردارمحمد همدرد**

**۱۳۹۴ل کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library




# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: د زړه اوازونه

لیکــوال: سردارمحمد همدرد

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

ډیـزایـن: ضیاء ساپی

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکــال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۱۰۹)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زړه اوازونه ټولګه سوه

د هغه چا په هکله چې د هجرت د ټولو ناخوالو سره سره يې په نابلده سيمه او نا اشنا وخت کې ادبي هڅې شروع او تر نن ورځ يې را رسولي دي.
د هغه چا په هکله چې، په هلمند ولايت کې يې د ډېرو خيريه کارونو او ټولنيزو ستونزو د حل په برخه کې لومړني ګامونه په زياتې دلاورۍ سره اخيستي دي.
د هغه چا په هلکه چې، نن ورځ د هلمند ولس د خپلو مشکلاتو او ستونزو د حل لپاره مخ ورته را اړوي زيات خوښ سوم چې د ملي تحريک مشر ښاغلي محمد اسمعيل يون په هلو ځلو يې د مقالو ټولګه د چاپ تر پولو ورسېده.
دا ښاغلی سردار محمد همدرد دی چې د خپل زړه خواله يې د مقالو په بڼه د وخت او شرايطو په غوښتنه په ليکنيز ډول د ولس سره شريک کړي دي.
اوس يې د مقالو ټولګه ولس ته د خپل تاريخ او په ژوندانه کې د خپل نيت په باب پرېښودل.
دا کتاب به ولس ته د دې زمانې ستونزې او مشکلات په ښه ډول شرحه کړي او تر اړخ به يې لوستونکو ته دا هم وښيې چې په روانو وختونو کې پر ولس، وطن او وجدان د چا لخوا څه تېر سوي دي؟
په پای کې ښاغلي همدرد ته، د ده، د دغو هڅو د پايلې مبارکي وايم، پر ګوتو او قلم يې برکت.

درنښت
الحاج محمد اسماعيل شريعتيار
هلمند
۱۳۹۴ل/۱۲/ ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما خبرې

زموږ په ټولنه کې لیکنې ډېر خلک کوي خو لیکوالان مو د ګوتو په شمېر دي. لیکوالي یو لوی هنر دی، پراخې سینې او لوی فکر ته اړتیا لري.

ما که څه هم له پخوا څخه په ادبي برخه کې یو شمېر لیکنې کولې، شعر مې هم لیکه، خو کله چې د مهاجرت له ترخو شپو بېرته خپل خوږ هېواد ته راستانه سولو نو دلته یو شمېر ستونزو، د ځینو خلکو کړنو مې د ضمیر غلی غږ راوېښ کړ او د قلم له بې تابۍ مې وخت نا وخت یو څه لیکنې وکړې چې یو شمېر پښتو ویب پاڼو کې خپرې سوې هم دي.

درونډ مشر او منلي استاد ښاغلي محمد اسماعیل یون راڅخه وغوښتل چې خورې ورې لیکنې مې راټولې کړم او یو کتابګوټی ترې جوړ کړم، نو د استاد په بیا بیا غوښتنه مې دا دی دا کار وکړ.

دا مقالې چې په بېلابېلو وختونو کې مې لیکلې دي، ټولنیزې، سیاسي او ادبي پکې شاملې دي. دا ټولې لیکنې په واقعیت کې زما د زړه دردونه او زما د زړه اوازونه دي.

کله چې مې خپلې لیکنې راټولولې نو بیخې ډېرې وې خو یو شمېر یې داسې وې چې د وخت سره سمښت خواړه او یو شمېر یې داسې وې که اوس ولوستل سي هم بې ګټې نه دي.

زما د لیکوالۍ ډېری تمرکز پر ادبي لیکنو دی، ځکه ادبي لیکنې زړښت نه لري، د هر وخت لوستونکو لپاره پکې نوي مالومات وي.

د دې کتاب په لومړۍ برخه کې تر ډېره سیاسي او ټولنیزې مقالې راټولې سوي دي خو په دویمه برخه کې یې ادبي لیکنې دي، داسې ادبي لیکنې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو شمېر ادبي شخصيتونه پکې پېژندل سوي دي، د دوی پر هنر خبرې سوي دي.
د هلمند په اوسنيو ځوانانو کې يو شمېر داسې فرهنګي شخصيتونه وو چې نور افغانستان يې له نوم سره نا اشنا و ، ما هڅه کړې د هغوی پر ژوند او هنر مې يو څه ليکلي دي.
تر دې وړاندې مې د ماشوم د ادبياتو هم يو څه کتابونه چاپ ته تيار دي، خو د محترم استاد او يو شمېر ملګرو په بيا بيا غوښتنه مې دلته يو شمېر ليکنې راټولې کړي دي، هېله ده ستاسو په درد دوا سي.

ستاسو خواخوږی
سردار محمد همدرد هلمند

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغان سوله بيه نه لري

له کومې ورځې چې افغانستان کې کورنۍ جګړه پيل سوې ده، بېلابېلو بنسټونو هېوادونو، ادارو د افغانستان د سولې لپاره مجلسونه او ناستې کړي دي.
زه د تېرو څلورو لسيزو د جګړې په اړه د سولې پر هڅو خبرې نه کووم، يوازې دې ته راځم چې، د طالبانو د رژيم د ړنګېدو وروسته د وسله والو طالبانو سره پر سوله باندې د بېلابېلو غونډو، کنفرانسوو او ناستو باندې بحث کووم.
اوس خبره دا ده چې، ځينې خلک وايي که د طالبانو سره سوله کېږي نو د تېرو ۱۳ کلونو لاسته راوړنې دې له پامه نه غورځوي، نور بيا وايي چې طالبان وحشيان او د دې وطن دښمنان دي او د هغوی سره سوله نه ده پکار، د ملي وحدت د حکومت پر ګدۍ ناست چارواکي عجبه ضد او نقيض خبرې کوي، يو چارواکی يې پر خپل سر وايي: «د طالبانو سره سوله نه ده پکار.» دا راته ډېره جالبه ده چې ارګ بيا د سولې په تلاش پسې له هرې ممکنه لارې څخه کار اخلي.
خبره دا ده چې، د افغانستان د ولسونو لوی هېله او ارمان سوله ده او هغه څوک چې د سولې مخالفت کوي هغوی د جګړې تاوان او ضرر نه دی ليدلی، له لوکسو دفترونو خبرې کوي، زموږ بېچاره ولس چې هره ورځ د دغې ناوړې او بدبختې جګړې قرباني دی هره ورځ ترې رنج وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان دښمنان هیڅکله په افغانستان کې سوله نه غواړي، دوی د خپلو ناوړه موخو لپاره له هر ډول مکارۍ څخه ګټه اخلي، ترڅو خپل ناوړه اهداف سرته ورسوي.
زما په اند که په افغانستان کې جګړه بندیږي او سوله راځي، دا سوله هیڅ قیمت نه لري، دا که په هر بیه کیږي د دې هېواد دولسونو په خیر دی.
دا که په هره قربانۍ او هره غوښتنه کیږي، باید وسي، ځکه موږ هره ورځ ګڼ شمیر خلک په جګړه کې له لاسه ورکوو، د جګړې د بندېدو، د ولس د خوندیتوب او مصؤنیت لپاره باید دولت او سوله کې ښکېلې غاړې باید له هرې لارې کار واخلي او هیڅ خنډ باید خپلې مخې ته پرې نه ږدي.
د افغانستان سوله لپاره بین الافغاني مذاکره پکار ده او دا باید د افغانانو څخه یوه اجماع جوړه سي، صداقت، رښتینولي، اخلاص په کولو سره کېدلی سي ډېر پرمختګونه وسي.
تېرو ۱۳ کلونو کې چې د ښاغلي کرزي په مشرۍ د سولې کومه شورا جوړه سوه، دغه ډول شورا ګانې جوړول نتیجه نه ورکوي، ځکه په دې شورا کې داسې خلک موجود وو چې سوله یې نه غوښتله.
سوله کې ولسي خلک او هغه خلک چې په سیمه او منطقه کې ا وسي، باید کار ترې واخیستل سي او د سولې په خبرو کې باید ونډه ورکول سي ځکه دوی اغېزمن تمامېدلی سي.
د سولې لپاره چې طالبانو کوم شرطونه وړاندې کړي دي د افغانستان د حکوم په ګټه دي، په دغه شرطونو کې په قطر کې د دغې ډلې سیاسي دفتر په رسمیت پېژندل، د ملګرو ملتونو له تور لست څخه د طالب مشرانو ایستل، د طالب زندانیانو خوشي کول او د سولې پرضد تبلیغاتو مخنیوی شامل وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

طالبانو دغه شرطونه د قطر پلازمېنې دوحه کې د پګواش په نوم یوه څېړنیز مرکز له خوا جوړه شوې غونډه کې وړاندې کړي دي.
دغې ډلې، بحث ته د افغانستان په کړکېچ کې ټول ښکېل لوري ور بللي وو ، خو افغان دولت دغه بلنه نه وه منلې.
اوس پوښتنه دا ده چې افغان دولت د سولې لپاره نارې وهي، له ګاونډیانو تر نړیوالو ټولو ته چغې وهي چې سوله باید وسي خو د مخالفې ډلې لخوا هغه شرطونه چې د حکومت له وسه هم دي ولې یې نه مني؟
مالومه خبره ده چې حکومت کې داسې خلک شتون لري چې یا به سوله نه غواړي او یا به د سولې په وړاندې خنډونه جوړوي.
جګړه کې له ټولو ښکېلو خواو هېله کووم چې په رښتیني ډول دې د سولې لپاره له اخلاصه ډک قدمونه واخلي، د دې خاورې او ولس په خاطر دې باید نوره جګړه بنده کړي.
سوله یو داسې الهي نعمت دی چې په دې هېواد او دې خاوره کې د هر اوسیدونکي په ګټه دی، که په جګړه او د بهرنیانو په شتون او د دوی پر سیاست او پیسو جوړېدلی نو اوس به مو وطن جوړ وای، خو تر څو چې خپله افغانان لاس په کار نه سي او ښکېلې خواوې صادقانه هڅې ونه کړي نو بله لار نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پر موږ قیامت دی

د یو چا سره مې بحث کاوه د افغانستان پر حالاتو مو خبرې کولې هغه دوست مې بیا د اوسني عربو او سوریې حالاتو باندې هم خبرې وکړې او بیا یې په ډیرې ناهیلۍ راته وویل چې اخیره زمانه ده او قیامت کیږي، دده تر دې خبرې پورې ماته هغه کیسه راپیاد سوه:

(( یو وخت یو چا په مځکه کې جوار کرلي وه نو بیا یوه ګیدړه په روږدې سوې وه او دده جوار به یې خوړل، سړی ډېر په غوصه سو اخیر یې یوه تلکه ورته کښېښودله او ګیدړه یې په ونیوله وروسته یې په درخته پورې وتړله او خپل زوی ته یې وویل چې ورسه توپک راوړه، ګیدړې چې وکتل چې د سړي سترګې سرې دي او په غوصه دی او نه مې پرېږدي نو سړي ته یې وویل پام کوه چې وه مې نه ولې او که دې زه وویشتم قیامت کیږي، سړي ورته وویل چې څنګه قیامت کیږي؟ ګیدړې ورته وویل چې ما به ستا لس یا شل جوار خوړلي وي ته ددې لپاره پر ټوله دنیا قیامت راولې؟
سړی چې ډېر ساده و پړي ته یې لاس کړ او ګیدړه یې ایله کړه، ګیدړه چې لږ مخته ولاړه لږ لرې ودرېده سړي ته یې وویل پر نوره دنیا که قیامت و او که نه و پر ما خو قیامت و. ))

زموږ د هیواد حالاتو ته په کتو سره وروسته له دیارلسو کلونو نړیوالې ټولنې په خپلو ټولو ژمنو سره سره په افغانستان کې نه جګړه بنده سوه، نه افغانانو د ارامۍ او سوکالۍ ساه واخیسته.

په تېره میاشت کې په هلمند کې د مازدا موټر بم، په بدخشان کې غمیزه، په خوست کې غمېزه، په ننګرهار کې ناورین.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ټولې پېښې سره له دې چې لسګونه بې ګناه ولسي وګړي پکې ووژل سول، ژوبل سول، ځوانان، ماشومان، ښځې او سپین ږیري پکې له منځه ولاړل له ځان سره ځینې دردونکي او بوږنونکي کیسې هم لري.

په هلمند کې یو سپین ږیری چې په سترګو ړوند و او شل زوی یې ورسره و ماته راغلل او راته وې ویل چې بې ګناه زوی مې بندي دی، هیڅ جرم یې نه دی کړی، تاسې مرسته راسره وکړئ او زما اواز پورته کړئ، ما د دوی ستونزه د هلمند د ولایتي شورا له مشر سره شریکه کړه، هغه وویل را وایستوه، ما چې دا سپین ږیری ور واستو تصادفاً د ولایتي شورا مشر ته یو کار پیدا سوی و او د خپل کارځای څخه وتلی و، نو دغه سپین ږیری د خپل شل زوی سره د نوموړي د دفتر په دروازه کې هغه ته منتظر و چې څو شېبې وروسته د ولایتي شورا د مشر د شخصي دفتر مخته د مازدا موټر بم یوه درنه چاودنه وسوه چې ټول ښار یې ولړزاوه او دغه ړوند سپین ږیري او شل زوی یې هغه هېلې چې د پوره کېدو لپاره د ولایتي شورا د مشر دروازه ټکوله د تل لپاره له ځان سره خاورو ته یوړلې او ړوند پلار او شل زوی دواړه شهیدان او بندي زوی یې هماغه شان بندي پاتې سو.

پېښې خو ټولې دردونکي دي، د هر مسلمان او افغان غم او وژنه دردونکې ده، خو ځینې بیا داسې پېښې وي چې د انسان زړه لړزوي.

دویمه دردونکې پېښه چې هر افغان یې په اورېدو ولړزېد د ننګرهار په وروستۍ وحشیانه چاودنه کې د دوه داسې ورونو وژل کېدل و چې له واده یې یوه اونۍ تېرېده. دغه دواړه ورونو په یو وخت ودونه کړي و. د ناویانو د لاسونو څخه یې د واده د نکریزو خوشبویي لا نه وه تللې، د خپل خوږ او ارمانجن ژوند یې فقط اوه شپې او اوه ورځې تېرې وې چې د دواړه ورونو په وینو سره جسدونه د ناویانو مخې ته کېښودل سول. دا صحنه هیڅ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زغملو نه ده او د دې نړۍ د هر سخت زړه لرونکی انسان به حتمن ورته وژاړي.

تر دې مخکې د خوست دردناکه پېښه باندې د خوست د ښار هر دېوال وژړل، ډېرې خویندې او میندې د ویر په ټغر کښېناستې.

دغه راز د بدخشان پېښې هم د افغانانو سترګې نمجنې کړې او په ټوله کې د هېواد وروستیو پېښو، نا امنیو د بشر وجدان ته ټکان ورکړ او پر افغانانو قیامت جوړ سو.

دیارلس کلونه د امنیت په اړه بېلابېلو ژمنې راسره وسوې خو لا هم موږ د امنیت او پرمختګ خوبونه وینو، پر ځای ددې چې هېواد کې مو ارامي او سوکالي راسي ورځ تر بلې مو هېواد کې د نا امنۍ اور تازه کیږي. چاودنې کیږي، پر لویه لاره مو مسافرین تښتول کیږي چې دغه کار او نا امنیو په ټوله کې د هېواد د خلکو او ولسونو اندېښنې را پارولي دي، هر څوک که دولتي دنده لري که شخصي په بیره کې دی او ځان مصؤن نه احساسوي.

یو بل جنګ هم راباندې پیلیدونکی دی، یو بل قیامت هم راباندې جوړیږي، د داعش په نوم د وسله والې ډلې نوي فعالیتونه او د دوی وسله والو بریدونو د خلکو په زړونو کې ډېره ویره خپره کړې ده. هر څوک په دې فکر کې دی چې خدای ج مکړه کورنۍ جګړه به پیل سي او زموږ سرنوشت به څه وي.

دا ټول حالات لومړی د ولسمشر او اجرایه مشر لخوا راباندې راپېښ دي او په دوهم قدم کې فاسد او ظالم چارواکي چې دوی هر ډول امکانات لري، د وسله والو په کیسه کې نه دي، که هر څومره نا امني جوړه سي دوی کولی سي ځانونه خوندي کړي یا په هېواد کې او یا له هېواده بهر، خو عام ولس به څه کوي، همداسې په وینو کې به لمبیږي لکه په ننګرهار، هلمند، خوست، بدخشان او د هېواد په نورو بېلابېلو سیمو کې چې ولمبېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امنیت ترځنګ مو بل لوی مشکل په ټول هېواد کې د فقر څادر خپور دی، هر ځای لوږه ده، بېکاري اوج ته رسېدلې، ولسمشر کله وایي اقتصادي څرخ په خوځښت راولم، کله یوه ژمنه او کله بله خو زموږ په ولس قیامت او د قیامت ورځ جوړه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په افغانستان کې د امریکا ژوبل سیاست!

نږدې یوه نیمه لسیزه وړاندې چې کله امریکا پر افغانستان حمله وکړه او د طالبانو حکومت یې ړنګ کړ، ورسره سم یې په دغه هېواد کې نوی حکومت رامنځته کړ، پرمختیایي کارونه یې پیل کړل او پر بېلابېلو سیاسي او پرمختیایي طرحو یې کار وکړ. چې په ترڅ کې یې ملیاردونه ډالر ولګول، او له بله اړخه یې زرګونه پوځیان یې مړه سول خو لا تر اوسه هم په خپله جګړه ګیر پاتې دي.

مهمه دا ده چې امریکا د څه لپاره په افغانستان کې جنګېدله او څه یې وکړل؟

د طالب او القاعدې سره جګړه د امریکا ډېره ستره او لویه سیاسي پلمه وه چې، ګواکې په افغانستان کې ورسره جنګیږي، خو د امریکا هدف یوازې د طالب او القاعدې ختمول نه و بلکې د دوی له لوري د هغه وسله وال مقاومت له منځه وړل وو، چې په سیمه کې د دوی د ستراتیژیکو موخو د عملي کولو په وړاندې یو اساسي خنډ وو.

هر څوک په دې پوهېږي چې امریکا ملیاردونه ډالر په افغانستان کې مصرف کړل خو تر اوسه څوک دې ته ځیر نه دي چې په کومو برخو کې یې مصرف کړل او څه معلومه ګټه یې وکړه؟

امریکا پر داسې پروژو پیسې ونه لګولې چې بنسټیزې وې او ګټه یې تل پاتې وه، بلکې په داسې هوایي پروژو یې پیسې مصرف کړې چې یوازې یې د دوی د جګړې د ګټلو لپاره کمپاین، او د سیمې خلک په یو بې ثباته ټولنیز، اقتصادي او سیاسي چاپېریال کې وساتي، چې ببلګې یې د فساد تخم شیندل، جنایت کاران حاکمول، یو ځانګړی قوم له سیاسي او طبیعي ژونده بې برخې کول، او نور دي. ددې ترڅنګ د ولس د عامه فکر د بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثباتۍ لپاره يې په سلګونو استخباراتي مطبوعاتي رسنی رامنځ ته کړي، چې هر ګړۍ زموږ په ناخبره ټولنه کې د زهرو د شيندلو په توګه استعماليږي.
بل پلو کله چې افغان ملي اردو جوړه سوه، امنيتي ځواک جوړ سو، بېلابېل برخو کې پوځيان وروزل سول خو پوره تجهيز او هوايي ځواک يې حمايه نه سو. امريکايانو د طالبانو روانه جګړه مهار نه کړای سوه، په افغانستان کې يې د ايران، پاکستان او نوروګاونډيو سياسي، نظامي او کلتوري لاسوهنو پر وړاندې بې تفاوته پاتې سو او ځان يې يوازې د افغانستان په کلي کور کې دننه جګړې ته وقف کړ چي لا دوام لري. په رښتيا بايد امريکا او د دوی متحدينو د کورني کړکېچ ته د ودې ورکولو پر ځای د افغانستان بهرني او په ځانګړي توګه سيمه ييز سياست، اړيکو، سمون او پراختيا ته پاملرنه کړې وای.
د پاکستان مداخله په افغانستان کې دومره ښکاره وه چې څو څو ځله يې په افغانستان باندې نظامي يرغلونه هم وکړل، خو امريکا او د دوی متحدين يې پر وړاندې چپ پاتې سول. او پدې اړه يې هيڅ سياسي دريځ ونښود.
ښکاره او روښانه ده چې په افغانستان کې روانه جګړه له امريکې پېښه ده او غځېدل يې هم دوی پورې تړاو لري، د خپلې بهرنۍ پاليسۍ له مخې يې زموږ په هېواد کې د جګړې د ختمېدو لپاره په تېره يوه نيمه لسيزه کې ګڼ کنفرانسونه جوړ کړل، د سيمې هېوادونه يې راوبلل، مشورتي غونډې يې وکړې او د خپلو موخو د ښه عملي کولو لپاره يې د بېلابېلو هېوادونو دريځونه تحليل کړل تر څو د خپلو موخود پلي کېدو لپاره زمينه مساعده او ممکنه مخالفتونه له منځه يوسي.
پخواني هېواد مشر حامد کرزي د حکومت په وروستيو کلونو کې نوموړی په دې وپوهېدو چې امريکا د افغانستان ساتنې او افغانستان جوړونې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای یوازې خپل ستراتیژک اهداف عملي کوي، د هیواد مشر کرزي له لوري د امریکې سره د افغانستان د امنیتي تړون نه لاسلیک د امریکا لپاره یو ستر سیاسي ګذار وو. چې سربیره پردې امریکا خپل سیاسي فشارونه زیات کړل خو کرزی یې سیاسي ګوتځنډونو ته تسلیم نه سو.

د امریکا اهداف یوازې په افغانستان پورې محدود نه دي، په سیمه کې پاتې کیدل، د هندوستان د چټکې ودې په وړاندې مبارزه او ورسره ملګرتیا، پاکستان، د چین سره د نویو سیاسي ګټو پالنه، د کسپین د هېوادونو، روسیه، سوداګریزي لارې، د افغانانو د نادره ځمکني عناصرو (REEs) ته لاس رسی او نور دي.

ددې ترڅنګ هر وخت امریکا ضد او نقیص خبرې کوي، کله غونډه جوړه کړي او استخباراتي اداره یې اعلان وکړي چې نور افغانان پر پښو ودرېدلي دي او کولی شي د نړیوالو له شتون پرته د خپل هېواد ساتنه وکړي، د دغه اعلان تر شاه چې خپلو موخو ته په رسېدو کې پاتې راسي نو بیا ووایي چې طالبان به څو کاله نور هم په افغانستان کې د جګړې توان ولري، بیا بل وخت اعلان وکړي چې په افغانستان کې د امریکا شتون ته اړتیا نشته موږ باید ولاړ سو، بل وخت د امریکا بل لوړ پوړی چارواکی بیا اعلان وکړي چې امریکا باید څو کاله نور هم افغانستان کې پاتې سي.

له یوې خوا د امریکا د استخباراتي ادارې مشر وینسنټ سټیوارد خبر ورکوي چې طالبان به تر ۲۰۱۸ز پورې په افغانستان کې د حملو توان ولري، بل پلو بیا د امریکا بل لوړ پوړی چارواکی خبر ورکړي چې افغانان کولی شي د طالب وسله والو مخه ونیسي.

دا او ورته د امریکا تاکتیکي څرګندونې دي، چې د روانو حالاتو پورې اړوند د دوی پر ګټو او ناګټو راڅرخي، له بله اړخه د امریکا دغه ډول خبرو او څرګندونو په افغانانو کې یو ډول ناروغي پیدا کړې ده، چې نه سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فیصله کولای سی او نه هم ځاني، هر افغان ورځ تر بلې ځان نا امنه احساسوي، د خپل امنیت او خوندیتوب لپاره مجبور دي چې هر څه پر ځان ومني او هر ډول ډلو ټپلو سره لاس یو کړي.
که امریکا غواړي چې افغانستان د ثبات لوري ته بوزي، نو تر ټولو لومړی باید جګړه ودروي. په افغانستان کې هغه خوځښتونه حمایه کړي، چې په رښتیا سره د افغانستان د ژغورنې اود سیمې د ثبات لپاره اغېزمن دي.
افغانستان باید نور د ازمویل سوي حرکتونو او حزبونو د ولکې څخه ووځي. د اداري فساد له منځه وړل یوازې او یوازې د فاسد سالارانو او جنایت سالارانو په مجازات ورکولو سره کیدای سی، نه په مکافات ورکولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بیده لا وژل کېږو!!!

افغانستان کې رواني جګړې خورا ډېر وخت ونیو، کلونه کلونه پر دې خاوره اورونه بل سول، ځوانان، پېغلې، مېندې، پلرونه او تنکي تنکي ماشومان مو د بمونو، باروتو او د جګړې سرو لمبو خوراک سول.
وینې وبهېدې، اسمان وژړل، زړونه وچاودېدل، ارمانونو کوکې وکړې، د بې ګناه انسانانو چغې تر اسمانه ورسېدې خو د افغانانو د دښمن زړه یخ نه سو.
د کابل پر ښار وروستي وسله وال بریدونه چې خلک یې له درانه خوبه ویښ کړل، ځینې په خپلو وینو کې ولمبېدل، ځینو خپل د بدن خواږه غړي له لاسه ورکړل خو ځینو مېندو او پلرونو د خپل زړه ټوټې په خپلو سترګو په وینو لژنده ولیدل او اسمان ته یې په وازه خوله کوکې وکړې.
سره له دې چې په دې وروستیو کې زموږ هېواد له هره پلوه وټکېده، اقتصادي بحران رامنځته سو، بې کاري ډېره سوه، غلاوې، تښتونې او نور ویره اچوونکي پېښې په زیاتېدو سوې، ورسره د نا امنۍ بې رحمه څپې هم ورځ تر بلې په لوړېدو دي او په پوره غرور افغانان په خپله غېږه کې غرقوي.
یوه مشهوره اصطلاح ده وایي: «تر بد ترو بد ترې سته»
رښتیا هم، چې موږ د نن په حالاتو ځوربږو خو د سبا حالاتو ته مو فکر نسته، د هغه توپان مخه نه نیسو چې سبا را روان دي، په داسې حال کې چې راتلونکي توپان ته په ښو ښو سترګو ګورو، خو غم یې نه کوو.
پخوا به نا امني محدوده وه، یوازې په لویو بازارونو، څلور لارو، ګڼ میشتو ځایونو کې وه، که به چاودونه وسوه هغه به هم داسې ځای وه چې، سیمه کې حاضر خلک به پکې مړه او ژوبل سول، نور په کورونو کې به

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک خوندي و ، دښمن به هم داسې ځای برید نه کاوه چې کورونه او عام خلک دې ډېر زیانمن سي.
خو اوس کیسه بل ډول ده، له بد ترو بدترې راغلي دي، په وروستیو بریدونو کې چې د کابل په ګڼون د هېواد په لر او بر کې وسول، کورونه یې رانسکور کړل، انسان پکې د لویو لویو ودانیو تر دېوالو لاندې سول، ویجاړې پېښې سوې، ماشومان په کورونو کې په لوبو او ساتیرو بوخت ول، ښځې او د کور مېرمنې په خپلو کارونو لګیا وې چې د دښمن بې رحمه بریدونو ښامار خپلې خولې ته واچولې.
اوس په خپلو کورونو کې هم خوندي نه یو ، په ډاډه زړه څوک ډوډۍ نه سي خوړلی، سهار چې کوم زوی له کوره وځي نو مورجانه یې په دې خاطر په ځیر ځیر ورته ګوري چې فکر نه کوي زلمی زوی به یې بېرته کور ته روغ او سلامت راسي، پر افغانانو هره ورځ ویر، هره ورځ مرګ او هره ورځ قیامت تیرېږي.
په نننۍ عصر کې نړیوالو، ګاونډیو او نورو ګڼو هېوادونو د افغان وژنې لپاره بېلابېلې طرحې وازمایلې، خپلې سیاسي واګې یې پرې ټینګې کړې، تجربې یې ترلاسه کړې او پر افغان وژنه یې یو له بل سره سیالۍ وکړې.
د وسله والو وروستي بریدونه چې د کابل په شا شهید او نورو سیمو کې ترسره سول، د افغان وژنې لپاره لویه دسیسه وه چې سلګونه عام وګړي پکې ژوبل او بې کوره سول.
له یوې خوا افغانستان کې د وسله والو ډلو ډېرښت، بل پلو د دوی ترمنځ اختلافات او ترخنګ یې داسې لوی بریدونه چې سري عام پکې قتل ترسره سي، دا به د هغه هېوادونو چې افغان وژنې لپاره دلته بېلابېلې ډلې روزي بله نوې لوبه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وسله والو په ډېرى بريدونو کې عام خلک وژل کيږي، په دې وروستيو کې د يونما د يو راپور له مخې چې په تېر يو کال افغانستان کې ۷۰ سلنه ولسي خلک د دولت د وسله والو په بريدونو کې وژل سوي او ژوبل سوي دي، که څه هم طالبانو د يونما دغه راپور رد کړ، خو دا ډول بريدونه لکه په دې وروستيو کې چې يې کابل او نورو ولايتونه شاهدان و، د يونما راپور ته برى ورکوي.

په ټوله کې افغانستان کې هغه ډلې چې دولت ضد جګړه ييز فعاليتونه کوي، په ښکاره ډول رسنيو کې ځانونه افغانان بولي، دوى وايي جګړه له دې لپاره کوي چې افغانان له جنګه وباسي او ارامي رامنځته سي.

اوس پوښتنه دا ده دغه جګړه مارې ډلې چې د افغانانو سوکالي غواړي ولې افغانان وژني؟؟

ځواب څرګند دى چې دا په اصل کې د افغانانو دښمنان دي، په دې خاطر افغان وژنه کوي.

په ټوله نړۍ کې د جګړې لپاره خپل اصول او قوانين وضع سوي دي، جګړه کې ښکېلې خواوې مالومې دي، دوى يو بل پېژني او د يو بل په وړاندې جګړه ييزې کړنې ترسره کوي، نور چا ته زيان نه اړوي، خو افغانستان هغه هېواد دى چې عام افغانان پکې د جګړې قربانيان دي، د افغانستان په جګړه کې د بل سوي اور خس او خشاک ولسي وګړي دي، دوى نا خبره او بې ګناه دغه اور ته غورځول کيږي او ښکېلې خواوې يې ننداره کوي.

اوس دا پوښتنه هم پيدا کيږي چې نړيواله ټولنه پر افغان وژنه ولې چُپه خوله ده، دوى خو ځانونه د بشر د حقوقو سرلاري بولي، د نړۍ په هر ګوټ کې چې کومه بشري او جنايي سرغړونه پېښه سي دوى يې په اړه ږغ پورته کوي، خو پر افغان وژنه ولې څه نه وايي؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالومه خبره ده چې ټوله نړۍ په افغانستان کې خپلې ګټې، موخې او ارادې لري، خو افغان مشران هغه مجبوره خلک دي چې مجبوراً هر څه ته غاړه ایږي دي، دوی نړیوالو ته اړتیا لري او دې ته مجبوره دي چې د دوی ډېرې خبرې ومني او د هېواد د یوې داسې بربادۍ لپاره یې عملي کړي چې ټول زیان یې عام ولس ته ورسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تبلیغات که واقعي جګړه ؟

افغانستان د نړۍ یو له هغه هېوادونوڅخه دی چې، د انقلابونو او جګړو لویه سابقه لري.
د نړۍ هر ځواکمن او امپراطور خپل زور همدلته ازمایلی دی چې په نتیجه کې یې په همدې سیمه کې په ګونډو سوی دی او په ډېرې بې شرمۍ تښتېدلی دی.
د تاریخ خواته نه ځو، اوسنۍ حالاتو باندې خبرې کوو. د روس د یرغل نه مخکې افغانستان په سیمه کې یو سیال هېواد و. هغه ګاونډیان چې اوس د افغانستان په سرنوشت لوبې کوي تازه زېږدلي وو، د روس یرغل د نړۍ د دوه سترو قووتونو ښېلګه وه. دواړ قووتونو چې روس او امریکا وو خپله سیالي ترسره کړه چې په دغه سیالۍ کې افغانستان ټوک ټوک، میلیونه خلک شهیدان، معیوبین او مهاجر سول چې اوس هم در په در دي، کور او کلی یې نه دی مالوم، کله یو هېواد ورته ګواښ کوي او کله بل ګاونډي هېواد.
د روس او امریکا په دې سیالۍ کې د افغانستان بنسټونه له منځه ولاړل لکه ملي پوځ، تاسیسات، عامه ځایونه او ټول ارزښتونه چور او تالا سول. چې په پایله کې د دې خاورې قسم خوړلو دښمنانانو ته ښه زمینه چمتو سوله او پر افغانانو یې داسې لوبې وکړلې چې زړونه یې یخ کړل او دا لوبه تر اوسه روانه ده، مالومه نه ده چې تر کومه به روانه وي ! !؟؟.
زه نه غواړم په دې لنډه لیکنه کې هر څه تشریح کړم، بلکې یوه یادونه یې کووم، د جنګ جنګ خبرې په دې هېواد کې دومره تکرار سولې چې په نړۍ کې یې ښېلګه نه پیدا کیږي. شاوخوا څوارلس کاله وړاندې پخوانی ولسمشر حامدکرزی د نړیوالې ټولنې په مرسته افغانستان ته راغی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت یې اعلان کړ. یو ځل بیا د افغانستان نوم په نړۍ کې د یو هېواد په توګه راڅرګند سو، په لومړیو کلونو کې د امنیت سره سره ځینې پرمختګونه رامنځته سول، خلکو ته هیلې پیدا سوې، ګاونډیو هېوادونو ته مهاجر افغانان بېرته هېواد ته راستانه سول، خو که د پخواني جمهور رئیس حامدکرزي په حکومت کې نور پرمختګونه رامنځته سول ورسره ډېرې بدبختۍ هم وزېږېدې، فساد اوج ته ورسېد، ځینو پخوانیو زورواکو ته په حکومت کې ښې ښې چوکۍ ورسېدې چې حکومت یې نور هم خراب کړ، امنیت خراب سو، خلک پر دولت بې باوره سول، د بهرنیو لخوا ولسي ډله ییزې وژنې ترسره سوې.

که څه هم د ښاغلي کرزي حکومت نږدې ۱۳ کاله دوام وکړ خو لومړني پرمختګونه او امنیت یې تر پایه برقرار ونه ساتو.

د کرزي له حکومت وروسته دا دی د محمد اشرف غني په مشرۍ نوی حکومت وپنځېده، چې دې حکومت ته خلکو هیلې او تمې په دې خاطر ډېرې وې چې فکر یې کاوه له یوې خوا به د تېر حکومت نیمګړتیاوې له منځه ولاړې سي، خالیګاوې به ډکې سي او بل پلو ولسمشر او اجرایه رئیس په ټاکنیزو مبارزو کې ډېرې زیاتې ژمنې له خلکو سره کړې وې، داسې ژمنې چې د پوره کېدو او سرته رسېدو امکان یې ډېر و، خو دواړه مشرانو ونه سول کولی چې پوره یې کړي، ځکه دوی له یوې خوا د نوي حکومت په مقرریو سره یوه خوله نه و او بل پلو د هېواد په لر او بر کې امنیتي ګواښونه، اندېښنې او ستونزې ډېرې سوې.

په افغانستان کې اوسنۍ جګړه چې ځینې وخت دولت وایي دا یوه تبلیغاتي جګړه ده، دا خبره هم سمه ده له یوې خوا به تبلیغاتي بڼه هم ولري، خو بل پلو واقیعت هم دی، ۱۵ کاله د وسله والو طالبانو جنګېدل، امنیت ته ګواښ پېښول، دننه هېواد کې خلک له یوې سیمې بلې ته کوچېدل او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې وروستيو کې د داعش يا د اسلامي دولت وسله والې ډلې راپيدا کېدل د جګړې واقعي اړخونه دي.
چې دغې واقعي جګړې د افغانستان شمالي ولايت کندز ته سقوط هم ورکړ.
زموږ په هېواد کې د جګړې په اړه په هره سيمه، کلي، کور، پټي او بانډه کې خبرې دومره ګرمې او تودې دي چې يو ډول رواني ناروغي يې هم پيدا کړې ده، که واقعي جګړه هم وي د خلکو اندېښنو، شته امنيتي ګواښونو په افغانستان د جګړې فضا حاکمه کړې ده، له هرې سيمې، هر ځای او حتی د خپل کور له خونو د خلکو ويره راځي.
د افغانستان د عامې روغتيا وزارت هم په دې وروستيو کې خبر ورکړ چې د دې هېواد دېرش فيصده خلک په رواني ستونزو او شل فيصده يې په رواني ناروغيو اخته دي.
جګړه بې کاري زېږوي او بېکاري د رواني ناروغيو سرچينه ده، بل پلو نورې نړۍ ته د افغانستان جګړه يوه فکري او رواني جګړه معرفي شوې ده، دوی داسې فکر کوي چې دغه جنګ تشې اوازې دي چې رسنيو کې انځورېږي، خو خبره داسې نه ده.
هغه وخت به د افغانستان جنګ هغه خلکو ته چې دا جنګ تبليغاتي او تشې اوازې بولي رښتينی او واقعي جنګ ښکاره شي چې خپله پکې خوږ سي، مالي او يا ځاني زيان ورته ورسيږي، بيا به هيڅ وخت ونه وايي چې دا يوازې تبليغاتي جګړه ده.
زه دا منم چې نن سبا تبليغات او رسنۍ د جنګ په غځولو او کرارولو کې ستره ونډه لري، خو که دولت د واقيعت په عينکو کې خپل هېواد ته وګوري نو ډېر داسې شيان به ووينې چې دوی يې له ولس او خلکو پټوي خو هغوی يې ويني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازې د کندز په جګړه کې له دواړه غاړو بې حده تبليغات وسول، خو زيان يې هغه چا وليد چې هلته کندز کې و.
يوه اونۍ په رسنيو کې دولت او طالبانو دواړو د ښار حاکميت ادعا کوله، خو واقعي انځور بل ډول و، ښار يوازې د ځايي خلکو په مرګ ژوبله بدل سوی و.
زه په وروستيو کې د يو بشر په توګه له ټولو غاړو دا هيله او غوښتنه کووم چې که په تبليغاتو جګړه مخته بيا يې هم په داسې توګه دې تبليغات کوي چې زيان يې عام ولس ته ونه رسيږي، لکه په کندز کې چې ولسي وګړو د دواړه غاړه د تبليغاتو په پايله کې ټوک ټوک سول، ووژل سول، ژوبل سول او بې کوره سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د حکومت بدیل لرو خو د نظام بدیل نه لرو

افغانستان د روس له راتګ څخه مخکې داسې یو نظام او حکومت درلود چې، د سیمې او نړۍ سره یې سیالي کوله، د روسانو د یرغل څخه وروسته چې افغانستان په کورنۍ جګړه کې ښکېل سو، هغه هېوادونه چې د افغانانو د قربانۍ له برکته یې خپله ازادي واخیسته هغوی هم پر افغانانو خپلې لوبې وکړې.
هغه نوی زېږول سوی ماشوم پاکستان نن د افغانستان په سرنوشت لوبې کوي، افغانستان یې د نړۍ د لویو قووتونو په خاص ډول امریکا او برېتانیا د رسۍ کشۍ مرکز وټاکه.
یو هېواد چې په کورنۍ جګړه اخته سي، بې سرپرسته سي، بیا نو هر څوک کولی سي چې د خپلو موخو لپاره په اسانه هلته کار وکړي او بېلابېلې سیاسي، نظامي او هر ډول تجربې او ازمایښتونه ترسره کړي.
په دغه ډول هېواد کې بیا ملي ارزښتونه، ګټې او د خاورې خپلواکي ساتنه ستونزمنه خبره ده، په داسې یو حالت کې بیا چې بېلابېل استخباراتي کړۍ په یو هېواد کې د خپلو موخو لپاره کار کوي، تر هرڅه وړاندې بیا هغه کسان چې د دې وطن ملي ګټو ته ژمن وي هغوی په نښه کیږي او له منځه وړل کیږي.
اوس اصلي خبره دا ده چې، په دې هېواد کې لا ولې موږ ملي ګټې نه تعریفوو؟
کله کله ځینې دوستان نظام ړنګوي او ځینې حکومت ړنګوي.
حکومت د یو هیواد له عالي او رسمي غړو څخه جوړیږي چې د کورنۍ او بهرنۍ تګلارې جوړول او پلي کول یې مهمه دنده بلل کیږي. په دغو عالي غړو کې د کابینې وزیران او نور لوړ پوړي چارواکي راځي چې په پارلماني

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظام کې د کابينې مشر صدر اعظم يا لومړی وزير وي او په رياستي نظام کې بيا د کابينې مشر ولسمشر يا جمهور ريس وي. د پارلماني نظام بېلګه لکه هند، او برتانيا، او رياستي نظام بېلګه لکه افغانستان او ايران. حکومت او حکومتي چارواکي په دريو ګونو مقننه، قضايه او اجرايه ځواکونو کې مخامخ ښکيل او ونډه لري او د حکومتي تګلارو د پلي کولو او نه پلې کولو چارې همدوی ته ورترغاړې دي.
د افغانستان د اساسي قانون د اويايمې مادې په يوه برخه کې د حکومت تعريف داسې سوی دی:
"حکومت له وزيرانو څخه جوړ دی چې د جمهور ريس تر رياست لاندې کار کوي". يانې حکومت اجرايوي ځواک دی.
په يو نظام کې بيا د يو هېواد د نوي او زړو حکومتونو ټولې لاسته راوړنې، اداري، سياسي، اقتصادي، پوهنيز، کرنيز، سوداګريز پرمختګونه شامل وي او ټول هغه څه چې يو هېواد يې پر پښو ودرولی وي، دغه ډله کې راځي. اوس راځو دې ته چې په اوس وخت کې موږ د حکومت بديل لرو خو د نظام بديل نه لرو.
د بېلګې په ډول: که له اوسني حکومت څوک راضي نه وي، کار نه سي کولی، ښايي نوی حکومت رامنځته سي، ټاکنې ترسره سي، ولسمشر له خپلې دندې استعفا وکړي، پر ځای يې بل ولسمشر وټاکل سي، نوی ولسمشر نوې کابينه اعلان کړي او باالاخره په حکومت شته ستونزې له منځه يو سي.
خو نظام چې د هېواد ټول پرمختګونه، که په هره برخه کې سوي دي، ړنګ سي نو بيا يې بديل نه لرو او بېرته يې جوړول ډېر وخت غواړي.
د بېلګې په ډول: نظام کې د افغان ملي پوځ هم شامل دی، که ملي اردو ټوله ليرې سي او يو ولسمشر وايي چې زه نوې ملي اردو جوړووم، نو دا به ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت واخلي، که يو څوک ووايي چې زه په ټول هېواد کې شته پرمختګونه له منځه وړم، نوی پيل کووم، نوی پوهنيز بهير پېلووم، روغتيايي خدمات له صفر شروع کووم، نو دا به هم کلونه وخت ونيسي.
نو په دې خاطر د حکومت بدیل لرو خو د نظام بدیل نه لرو.
بله مهمه خبره دا ده په اوس وخت کې که څوک په حکومت نيوکه کوي، داسې نيوکه دې وکړي چې نظام ته زيان وانوړي او نه پر نظام ګوذار وي.
نيوکه بايد اسې وي چې، ملي ګټې او ملي ارزښتونه زيانمن نه سي.

په هر هېواد کې کورنۍ جګړه د واک لپاره وي که سياسي جګړه وي او که نظامي، ښکېلې خواوې تل وايي د هېواد لپاره جنګيږي، ترڅو سم حکومت رامنځته سي، په ټوله نړۍ کې دا اصول دي چې د هېواد په کورنۍ جګړه کې د جنګېدونکې ټولې خواوې چې هره يوه يې واک ته ورسيږي نظام نه ړنګوي، ملي ارزښتونه، ملي ګټې او ملي شتمنۍ نه زيانمنوي، خو زموږ په هېواد کې چې تل د قدرت لپاره جګړه کيږي قدرت ته تر رسېدو وروسته واک ته رسېدلې ډله نظام هم ړنګوي، ټول هېواد لوټې لوټې کړي، ملي پوځ له منځه يوسي، شته پرمختګونه لولپه کړي چې بيا د بل حکومت تر رامنځته کېدو پورې هيڅ پرمختګ نه سي کولی او حتی لولپه پرمختګونه پر پښو نه سي درولی.
ترڅو چې زموږ د قدرت مئينانو ملي ارزښتونه نه وي پېژندلي، نظام ته وفاداره او ژمن نه وي، د واک نشه يې له فکره ونه وځي او ملي شتمنۍ ونه پېژني نو هېواد به مو دغه شان وروسته پاتې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د روسانو ماتې که د سیمې بریا؟

د ۱۳۶۷ د سلواغې شپږویشتمه د پخواني شوروي اتحاد پوځ خپله ماتې ومنله، په افغانستان کې تر نهه کاله تېرولو وروسته په ګونډو سول او دا هېواد یې پرېښود.

د روسانو په راتګ سره یوازې افغانستان هدف نه و، دوی د سیمې ډېر هېوادونه په ځانګړي ډول ګاونډیان لکه: ایران، پاکستان او غوښتل یې د هندوستان تر تودو اوبو پورې ورسیږي، په دې وخت کې روس د سیمې یو داسې لوی ښامار جوړ سوی و، چې ازبکستان، تاجکستان، ترکمنستان، اذربایجان، ارمنستان او ماورالنهر هېوادونه یې تر ستوني تېر کړي و.

دا سور ښامار داسې عافي سوی و چې یوازې اسیا نه بلکې غوښتل یې چې په نړۍ باندې خپله لویه امپراطوري جوړه کړي، دوی د خپل وخت موډرنې سلاوې، قوي نظامي او تخنیکي وسایل، زمیني او هوایي ځواک په درلودلو سره داسې لوی قوت و چې په نړۍ کې بل داسې قوت نه و چې د دوی مخه دې ونیسي.

نورو کوچنیو قووتونو لکه امریکا او برتانیه په خپلو کورونو کې له دې ښامار څخه بېرېدل او حتی ټولې نړۍ ځان خوندي نه باله.

دې سور ښامار د نړۍ د ټولو قوانینو خلاف په افغانستان تېری وکړ، دې تېري پوره نهه کاله وخت ونیو، افغانان د هېواد په لر او بر کې د دوی پر وړاندې راپورته سول، دوی داسې ظلمونه ترسره کړل چې؛ د بشر په تاریخ کې ساری نه لري.

ډلییزې وژنې یې وکړې، ماشومان، ښځې او بوډاګان یې شهیدان کړل او لوی لوی کلي یې تر خپلو توپونو لاندې کړل، چې اوس په ځینو ولایتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې پر هغه خلکو چې په ډلییز ډول شهیدان سوي دي څلي هم جوړ سوي دي.
د روسي لښکرو پر وړاندې د افغانانو بې سارې قربانۍ کې یو میلیون افغانان شهیدان، یو میلیون معلول او اوه میلیونه افغانان بېلابېلو هېوادونو ته مهاجر سول چې په دومره لویه کچه د افغانانو قرباني به همېشه په نړیواله کچه د تاریخ په پاڼو کې ثبت وي.
دغه سره لښکر غوښتل چې افغانان د ځمکې له سره ختم کړي چې د پلټنو له مخې د هرو دوه افغانانو په سر دوی یو ماین زموږ په هېواد کې ښخ کړی دی، کله چې دغه سره لښکر زموږ په هېواد کې ماتې وخوړه نو دا یې هم وویل چې زموږ ماینونه به زموږ له ماتې کلونه وروسته هم له افغانانو سره جنګیږي.
افغانانو دغه سره ښکېلاک ته په ماتې ورکولو سره هغه پیاوړې قوتونه چې له روس څخه ببرېدل د هغوی پر وړاندې یې د روسي لښکرو قوت مات کړ او هغوی ته یې هم لار هواره کړه چې د روس پر وړاندې په پوره جرآت راپورته سي.

په داسې حال کې چې افغانستان په کورنۍ جګړه کې ښکېل و امریکا او نړۍ ته پکار نه وه چې، د روس له ماتې وروسته افغانستان یوازې پرېږدي، کله چې روس په ګونډو سو؛ امریکا په خپله مخه ولاړه او افغانستان یې د داسې ګاونډیو لومو ته ورپرېښود چې، هغوی له خدایه دا غوښتل چې افغانستان د دوی په لاسو کې کښېوزي.
پر ځای ددې چې د افغانستان د ولسونو قدردانی سوی وای د نړۍ ډېرو هېوادونو په ځانګړې ډول ګاونډیانو د افغانستانو په کورنیو چارو کې لاس وهنې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاونډیو هېوادونو په ځانګړي ډول پاکستان او ایران له وخت ګټه واخیسته او افغانان یې په تنظیمونو او ډلو ووېشل او د افغانانو هغه متحدوالی چې د روس په څېر قوت یې مات کړ له منځه یوړو او په کورنیو جګړو اخته سول.

که له یوې خوا ګاونډیو هېوادونو افغانان ډلې ډلې کړل، بل پلو امریکا هم نه غوښتل چې د مجاهدینو یووالی او قوت دې همداسې پاتې سي.

پاکستان یوازې دا نه چې د سور ښامار له حملې د افغانانو د قربانۍ په وسیله وژغورل سو بلکې د قوي اقتصاد خاوند سو، اټومي بټۍ یې ورغولې او د وخت څخه په ګټې اخیستنې یې ځان ورساوه.

خو د افغانانو په دې بې سارې قربانۍ سره سره پاکستان داسې نامردانه مداخلې په افغانستان کې وکړې چې د افغانستان د کورنۍ جګړې لوی لامل بلل کیږي.

بل پلو ایران هم زموږ هغه ګاونډی هېواد و چې تر خپله وسه وسه یې په افغانستان کې لاس وهنه وکړه او د کورنیو جګړو په پراختیا کې دوی هم لوی لاس لري.

ورته وخت کې د افغانستان هغه رهبران چې د جهاد او مقاومت دروند مسؤلیت ورتر غاړې و، متاسفانه په دې ونه توانېدل چې دا با ارزښتنه بریا وساتي؛ دوی په خپلو منځونو کې د قدرت پر سر داسې شخړې وکړې چې، د جهاد سپېڅلی نوم یې تر خاورو لاندې کړ او هر مشر په دې نوم چې ګواکې جهاد یې کړی دی ځانته یې د واک او امتیاز غوښتنه کوله، د دغه رهبرانو خپل منځي شخړې او د قدرت پر سر اختلافات دې حد ته را ورسېدل چې هر مشر په خپله سیمه کې ځانته حکومت کاوه، پاټکونه یې جوړ کړل، غلاوې، چپاو او نور ظلمونه خپل وروستي حد ته ورسېدل، بالاخره چې د دغه مشرانو به هر څه خوښه وه هغه به یې کول، د دوی دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړنو د سپېڅلو او رښتینو مجاهدینو ارمانونه تر خاورو لاندې کړل او په ټوله کې یې د جهاد نوم بدنام کړ.
که افغانانو د روس په څېر ستر او زوره ور ښکېلاک ته ماتې ورکړه نو دا یې هم کولی سول چې د ګاونډیو له شره ځان خلاص کړي او د دوی مداخله ونه زغمي خو ځینو مشرانو د قدرت او واک په خاطر د میلیونونه افغانانو قربانۍ ته ونه کتل او ګاونډیو ته یې په خپل لستوني کې ځای ورکړ او دوی پخپله خپلې لمن ته داسې اور پورې کړ چې تر اوسه لا بل دی، خو په دې سترګې نه پټېږي چې قدرت پلوه مشرانو د سپېڅلو مجاهدینو او د افغان ولس په حق لوی تېری وکړ او داسې ناوړه کارونه یې وکړل چې زموږ او سنی نسل د رښتینو مجاهدینو په اړه منفي فکر کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عدم تشدد پر مرکز د تشدد ډک برید

د لوی افغانستان د جوړېدو او د پښتنو د یووالي ارمانجن ستر مبارز پاچاخان پر پوهنتون برید چې له امله یې ۲۰ بې ګناه کسان چې ډېری یې محصلین وو ووژل سول او ګڼ شمېر نور پکې ژوبل سول.

د عدم تشدد د دې سرلاري ستر مبارز مبارزه هم د تشدد په وړاندې وه، هغه د خپل ټول ژوند په مبارزه کې د ټولنیز عدالت، انصاف او برابرۍ لپاره هم ژمن و او هم یې په دې برخه کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې، د لوی افغانستان هرې سیمې ته یې سفرونه وکړل، له خلکو سره یې ولیدل، جرګې یې جوړې کړې او د پښتنو د پوهولو هڅې یې وکړې.

په دې وروستیو کې دې ته ورته ډېرې پېښې رامنځته سوې دي او دا پېښې د ډېورنډ له پولې اغاړې او دې غاړه په پرلپسې ډول ترسره سوي دي.

اوس ستونزمنه خبره دا ده چې، د دې قربانیو قربانیان یا پښتانه دي او یا هم نور افغانان، خو حکومتونه د خپلو ناوړه موخو لپاره داسې یوه لوبه کوي چې د خپلو ناروا ګټو لپاره پر دې خاوره باندې همدغه حالات روان وساتي.

نن چې د عدم تشدد د مبارزې پر سرلاري اراوښاد پاچاخان بابا پر پوهنتون دا برید ترسره کیږي نو دا مانا لري چې د عدم تشدد فکر د له منځه وړلو لپاره هڅې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس چې په دې سیمه کې کوم اور بل دی دا هغه وخت مړ کېدای سي چې د عدم تشدد فکر په ټولنه کې خپور سي او انساني حقوق اجتماعي عدالت د اسلام د مبین دین په رڼا کې خلک ترې برخمن سي.

د دا ډول پېښو مخنیوی په دې توګه نه سي کېدلی چې د وخت حکومتونه یو پر بل تورونه ولګوي، بلکې دا د ټولې سیمې دولتونو لپاره له اخلاصه ډکه اراده پکار ده.

دا یو څرګند سیاست ته اړتیا لري، یو د بل د کور په ورانولو هیڅکله په دې سیمه کې امن نه سي راتلی او دا هم باید ټول ومنو څوک چې د بل کور خرابوي هغه به هیڅکله په خپل کور کې د امن خاوند نه سي.

اوس خبره دا ده دا قربانۍ خو په دې سیمه کې روانې دي، اوس چې ارزښتونه زیانمن کیږي دا ډېره خطرناکه خبره ده.

پاچاخان بابا چې د ټول انسانیت د پوهولو او د دوی لپاره د پوهې پر ګاڼه سنبالېدل یې ارمان وو، نن سره له دې چې پښتانه څوک د هغه ارمانونو پوره کېدو ته نه پرېږدي، بلکې د هغه پر نوم پوهنتون باندې بریدونه هم دا په ډاګه کوي چې زموږ دښمن یو دی او د پښتون وژنې او افغان وژنې لپاره دلته لویه لوبه روانه ده، داسې لوبه چې د پولې دواړه غاړو ته پوهنیز مرکزونه هم خوندي نه دي او بریدونه پرې کیږي.

په ټوله کې بیا خبره پښتنو ته راځي او ګوته دوی ته نیول کیږي، ځکه اور د پښتون پر کور بل دی، هغه د یو شاعر خبره دلته ښه صدق کوي چې وایي:

«هلته هم زه مرم، دلته هم زه مرم»

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترڅو چې پښتانه يو نه سي، تر څو چې دوی د پاچاخان ارمانونه پوره نه کړي، ترڅو چې دوی زده کړې ونه کړي او خپل دښمن ته يو نه سي، ترڅو چې د نورو لاسوهنه په دې هېواد کې بنده نه کړي نو تل به د دغه ډول بريدونو ښکار يو، عام خلک به مو په وينو کې لړلي وي، ښوونځي، پوهنتونونه، روغتونونه، بازارونه او مسجدونه به پر وير ځايونو بدل وي او حتی د لمونځ کولو لپاره به له ويرې مسجد ته نه سو تلی، ښوونځي او پوهنتون ته به د دښمن د بريد له ويرې د زده کړو لپاره نه سو تلی او تر دې پورې چې خپله کوټه او مېلمستون کې به له مېلمه سره هم په ډېره ويره او اند يښنه ناست يو، ځکه داسې ځای پاتې نه سو چې دښمن بريد پرې ونه کړ او روغ پاتې سو، له مذهبه تر کلتوره او له ښاره تر کليو او کورونو هر څه نا امنه سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د یو بل ته ګوته پر ماشه ورونو میندې پر یوه تغر

د سرې میاشتې د ریاست له مخې تېرېدم، ډېرې اړمنې ښځې د مرستو په انتظار ناستې وې، ورغلم، دوه سپین سرې نږدې سره ناستې وې، خپلو منځو کې یې خبرې کولې، له یوې مې پوښتنه وکړه، ویې ویل زوی مې عسکر و، په جګړه کې شهید سو، بچیان او ماشومان یې بې سرپرسته سو، څوک یې پوښتنه نه کوي، دلته راغلې یم چې یو څه مرسته راته ورسیږي.

څنګ ته یې بله سپین سرې ښځه ناسته وه، مخکې له دې چې پوښتنه ترې وکړم، خپله یې وویل زوی مې په جګړه کې شهید سو، ما ورته وویل زوی دې څنګه شهید سو، ویل یې زوی مې طالبانو کې و خپل سر یې وبایله، هیڅوک نه سته چې بچیان یې وساتي، راغلې یم چې مرسته ورته ټوله کړم.

نږدې څلور لسیزو جګړو موږ ته همدغه میراث راپرېښود چې افغانان خود په خوده د نور په اشاره جګړه کوي، خو زیان یې ټول موږ افغانانو ته رسیږي.

همدغه افغانان چې یو بل ته ګوته په ماشه دي، میندې یې پر یوه تغر بچو ته خیرات ټولوي.

د روس او افغانستان ترمنځ جګړه چې وسوه، دا یوه مقدسه جګړه او جهاد وو، همدغه جګړه کې امریکا خپلې موخې ولټولې، ځان یې تر یوه حده ورساوه، خپلو موخو ته د رسېدو لپاره یې زمینه برابره کړه، بېلابېلې لومې یې جوړې کړې، د روس په وړاندې یې اسامه بن الادن وجنګاوه، خو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت بدل شو ، همدغه اسامه يې خپل دښمن وباله، پر ضد يې ټوله نړۍ راوپاروله او بالاخره يې پاکستان کې وواژه.

ياني دلته دوست او دښمن نه دی مالوم، خپله افغانانو ته دلته ځيني وخت يو شمېر خلک دښمنان وي، همدغه دښمنان يې بل وخت دوستان وي، ښه مثال يې د مشرانو جرګې پلاوی دی چې ورغی ا و له روس څخه يې مرسته وغوښته، هغه روس چې درې لسيزې وړاندې موږ جګړه ورسره وکړه او په خپل هېواد کې مو مات کړل.

همدغه روس چې افغانان يې پر وړاندې وجنګېدل، اوس د مشرانو جرګې پلاوی ورغی او د مرستې غوښتنه يې ترې وکړه.

که بل پلو وګورو پاکستان امريکا ته په دې خاطر ډډې ورکړې چې افغانستان کې د طالبانو پر وړاندې جګړه وکړي، د دې جګړې تر شا هم د پاکستان ګټې خوندي وې، خو کله چې جګړه اوږده سوه، امريکا يې په وړاندې تر ډېره پاتې راغله، د سولې د خبرو اوازې پيل سوې نو پاکستان طالبان خپل دوستان بولي او په ډاګه يې استازيتوب کوي.

که وکتل سي په مجموع کې جګړه د افغانانو نه ده، بلکې د نړيوالو او د سيمې د هېوادونو ده خو افغانستان يې د خپلې جګړې ډګر ګرځولی، پر افغانانو لوبې او ازمويني رواني دي، له هر لوري افغانان په يوه او بل نوم وژل کيږي، که نن دوه افغانان يو بل ته ګوته په ماشه ناست دي د همدغه نړيوالو او يو شمېر ګاونډيو هېوادونو لوبه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغې جګړې ډېرې ميندې بورې کړې، ډېرې کونډې سوې، ماشومان بې پلاره سول، که طالب وژل کيږي او که عسکر ټول زيان يې مور افغانانو ته رسيږي.

دا سې تور سرې چې چايي پلو هم نه سو ليدلی خو نن په بازار کې د همدغې بدبختۍ له امله فقر کوي.

جګړه اخر تر کومه؟

د خدای ج په خاطر، د همدغه بور او کونډو ميندو په خاطر نوره جګړه بس کړئ، نور جنګ ودروئ، نورې وينې مه تويوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سیاست که مسخرې؟؟

په دې باید لوی شکر ادا کړو چې زموږ افغانستان له سیاست پوهانو ډک دی؛ که دوه سپین ږیري خپلو منځو کې خبرې سره کوي نو د دوی پر خوله به سیاست وي، که په کور کې او کلي کې ښځې پر تناره خبرې کوي نو په روانو حالاتو به یې تود بحث شروع کړی وي، که هټۍ ته د سودا لپاره ورسې نو پر سیاسي موضوع به راګډ وي، لنډه دا چې په هر ځای کې، ښوونځي کې، روغتون کې، بازار کې، کلي او کور کې سیاست دی.
د پورته خبرو موږ او تاسې ټول شاهدان یو خو ما په دې خاطر وکړې چې، په خپل دفتر کې ناست وم یو دوا پلورونکی راته راغی، راته وې ویل غواړم ځان د ولسي جرګې را روانو ټاکنو کې کاندید کړم تاسې مرسته راسره وکړئ، د دغه ملګري خبره په لومړیو کې راته ټوکه ښکاره سوه خو له ټینګار وروسته یې پوه سوم چې ټینګه اراده یې ده، خو ما ته د نوموړي دا خبره ډېره جالبه ښکاره سوه، ځکه فکر نه کووم که تر اوسه د افغانستان پر روانو حالاتو هم خبر وي، که وو ایم په دې به هم خبر نه وي چې په افغانستان کې اوس څه ډول حکومت دی نو مبالغه به نه وي.
دغه ملګری راسره ناست و چې فېس بوک مې خلاص کړ، وار له واره مې د کابل پوهنتون استاد او سیاسي شنونکي ډاکټر فیض ځلاند پر پوسټ سترګې ولګېدې، زه د خپلو پورتنیو خبرو د ښه ربط لپاره د داکټر صیب څرګندونې کټ مټ رانقلووم:
ډاکټر فیض ځلاند لیکلي و: ((د ګران افغانستان د بربادۍ یو ستر لامل زموږ بې سواده سیاستوال دي. زموږ خلک چې بیکاره شي او یا مالداره شي، بیا نو سیاست ته مخه کړي. وه ځوانانو سیاست د بیکاره خلکو کار نه دی. سیاست د عالم، پوه او لوستو کار دی. هغوی چې د افلاطون

(c) ketabton.com: The Digital Library

(جمهوريت)، د ارسطو (سياست)، د روسو (ټولنيز تړون)، د ميکاولي )
شهزاده)، د هابز (ليوياتان)، د محمد عليه سلام (سيرت) يې لوستی نه
وي، د لينکن، ستالين، چرچل، روزلويلت، ماو، لينن، منديلا، ګاندي،
فخر افغان په ژوند او مبارزې خبر نه دي، د هغوی په سياست کې ګوتې
وهل د ځان او قوم شرمول دي)).
زه د ډاکټر صيب پورته خبرې تايدووم، رښتيا هم کله چې زموږ خلک ډېرې
پيسې پيدا کړي، کله چې زموږ خلک بېکاره شي نو دا سې مفکوره ورپيدا
سي چې راسه ته هم ځان ولسي جرګې يا ولايتي شورا ته کانديد کړه، که
بريالی سوې لوی سياستوال به درڅخه جوړ سي، په تلويزونو کې به پر
تودو بحثونو کې مېلمه کيږي، ټول خلک به دې وپېژني بالاخره به يو لوی
موقف ته ورسيږي.
دغه شان وسول، موږ او تاسې په اوسني افغانستان کې د ډېرو کاذبو
سياستوالو شاهدان يو، چې د سياست په مانا او مفهوم هم نه پوهېږي خو
د پيسو او زورواکۍ له مخې په يوه او بل نوم وکالت کوي او ځان ته لوی
لوی سياستوال وايي.
دغه کار په ډېرو بې سواده او ناپوهه پيسه لرونکو خلکو کې دا انګېزه
پيدا کړې ده چې سياست وکړي، د سياست په نوم په ټولنه کې ځان مطرح
کړي او دا فکر ورسره وي چې د سياست له لارې به زه لوی سړی سم، بله
ورځ به والي سم څه به سم او څه به سم.
زموږ د اوسني سياسي نظام د ناکامۍ يو لوی لامل دا هم دی چې ډېری
نالوستي خلک د سياست دعوه کوي، ځان ته سياسي شنونکي وايي خو د
دوی سياست د هېواد او ټولنې په زيان تمام سوی دی.
سياست لوی پوهې ته اړتيا لري، سياستوال بايد لومړی خپل ديني او
کلتوري ارزښتونه مطالعه کړي، په پوره مانا ورباندې وپوهېږي، د نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

روان بهير تر څار لاندې ونيسي، د خپلې ټولنې د ستونزو تل(بېخ) ته ورښکته سي، واقعي مشکلات پيدا کړي، لويه حوصله ولري، په پوره توګه ملي ګټو ته ژمن وي او د ټولنې د خلکو پراخ باور بايد ولري.
نو چې اوس درمل پلورونکی هم زموږ د هېواد په سياست کې ونډه اخلي، داسې څوک به څنګه د خپلو خلکو حق وغواړي چې د دوه خرو وربشې نه سي بېلولی؟؟
زما په اند دا زموږ د ناکام سياست پايله ده چې بې سواده خلک اوس دا جرآت کوي چې سياسي واګې په خپل لاس کې واخلي، زموږ د نالوستو خلکو هغه هېلې چې خپلو سياسينو ته يې لري مړاوې سوي دي، د خلکو د اميدونو څرکونه په تيارو بدل سوي دي، نو خامخا به يو نالوستي سره دا فکر پيدا کيږي چې راسه ته په سياست کې برخه واخله ګوندې خدای سياسي نظام مو سم سي او افغانستان د سيمې له نورو هېوادونو سره په سياست کې سيال سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زوړ دولت او اوسنی هلمند

هلمند د افغانستان یو له هغو ستراتیژکو ولایتونو څخه دی چې، د هېواد لسمه برخه تشکیلوي له بل پلو هلمند ته د ملي یووالی کور هم ویلی سو ځکه چې، د هیواد د ډېرو قومونو او ولایتونو وګړي پکې اوسیږي، له تاریخي پلوه هم هلمند داسې ولایت دی چې د هیواد سترې لوېې او د سترو امپراتوریو مرکز پاتې سوی دی.

زه نه غواړم چې تاریخ ته ولاړ سم خو په لنډ ډول هلمند کې د تېرو دیارلسو کلونو په اړه ځغلنده کتنه کووم، څومره چې پکار وه، دې ولایت ته هغه شان کار نه دی سوی، دا بېلابېل لاملونه لري، چې په لنډه توګه به ورته اشاره وکړو:

یو ډول داسې ستونزې وې چې ټول هېواد ورسره مخ و، لکه پراخ اداري فساد، پر مهمو دولتي څوکیو د ناسمو اشخاصو ګمارل، نا امني، بېکاري او دې ته ورته نورې ستونزې.

هغه خلک چې د هلمند په نوم یې په مرکز کې استازیتوب کاوه هغوی هم فقط شپې سبا کړې او د هلمند رښتیني استازولي یې ونه کړه.

له امنیتي پلوه هلمند هره ورځ د جنګ شاهد پاتې سو په داسې حال کې چې شاوخوا (۳۵۰۰۰) پنځه دېرش زره افغاني پوځونه دلته شتون لري خو دې ځواک ته په کتو سره د هلمند (۲) دوې ولسوالۍ لکه دیشو او باغران چې تر اوسه د دولت د حاکمیت څخه بې برخي پاته سوې، شمالي هلمند کې یوازې د ولسوالیو د مرکزونو پرته زیاته سیمه د وسلوالو تر ولکې لاندې؛ ده مرکز ته نږدې تریخ ناور او نهرالسراج هره ورځ د جګړې شاهد پاتې سوی او دې ته ورته په مرکز او ولسوالیو کې ګڼ قومي مشران، علماء کرام او د دولت کارکوونکي ترور سول او ووژل سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې په برخه کې هلمند پوهنتون د خپلې ودانۍ خاوند نه سو، د یوسل او د پرشو ښوونځیو په شاوخوا کې تړلي پاتې سول په خاص ډول په شمالي هلمند کې ښوونیز بهیر د نشت برابر ؤ.

په روغتیایي برخه کې هم یو مرکزي روغتون چې د الحضرت محمد ظاهر شاه په وخت کې جوړ سوی ؤ، چې اوس د هلمند نفوس ته په کتو سره د هلمند د خلکو ستونزې نه سي حل کولای، په ولسوالیو کې هم د پام وړ روغتیایي خدمات څومره چې لازم ؤ نه دي ترسره سوي ښه مثال یې د ښځینه ډاکټرانو دی چې په ولسوالیو کې د نشت په مانا دی، یوازې ښځینه نه بلکې نارینه ډاکټران هم په ولسوالیو کې نسته او که وي د ګوتو په شمېر، په اکثره ولسوالیو کې خپل سري ډاکټري روانه ده، چې له امله یې ډېرو خلکو ته مرګ ژوبله اوړي.

په بنسټیزو کارونو کې چې د هلمند د خلکو لومړۍ غوښتنه د کجکي بند رغول و، دا کار ونه سو، د بست تصدۍ ونه رغول سوه، د کوکنارو بدیل ورنه کړل سو، د بست تصدۍ رغول د کوکنارو لپاره یو ښه بدیل و خو له بده مرغه هیڅ پاملرنه ورته ونه سوه او په مجموع کې د هلمند کرنیزو محصولاتو ته مارکېټ پیدا نه سو، چې دا په هلمند کې یوه لویه ستونزه ګڼل کیږي، د هلمند ډېری کروندګر خپلې کرنیزې ځمکې له دې امله شاړې پرېږدي چې حاصلات یې مارکېټ نه لري او اکثره وخت له پاکستان سوداګر راځي او په ډېره ټیټه بیه له دوی حاصلات اخلي چې د دوی کړی مصرف او خواري هم نه راګرځوي.

د صنعتي پارک نه جوړل یو بله ناکامي ده چې دولت په تشو ژمنو د هلمند خلک تېر ایستل خو تر اوسه یې عملي ګام نه دی پورته کړی.

په وروستیو کلونو کې په هلمند کې دومره ډېر دولتي غصب وسو چې په بل هیڅ ولایت کې به نه وي سوی، عامه شتمنۍ غصب سوې او د دولت

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ځمکې چې د ښوونځیو، روغتونونو او پارکونو لپاره په نقشه کې نیول سوې وې، له بده مرغه د زورواکو لخوا په پراخه کچه غصب سوې چې په دې غصب کې ځايي دولتي اداره، وکیلان، قومندانان، قومي سپین ږيري او د سیمې بانفوذه خلک ښکېل دي.

هلمند ته چي له مرکزه کوم والیان ګمارل کېده ډېری یې د خپلو شخصي ګټو د ځمکو خرڅولو په فکر کې ؤ، دا چې هلمند یو له هغه ولایتونو څخه ؤ چې تر ډېرو ولایتونو زیاتې پیسې په خاص ډول نړیوالې ټولنې ولګولې زه پوره باوري یم چې ډيرو ولایتونو ته به دومره پیسې نه وي راغلې.

په عدلي او قضایي برخه کې داسې ستونزې تکرار سوې چې د عدالت نوم یې له منځه یووړ، اوس مهمه داده چې نوی حکومت که د هلمند رهبریت ته پاملرنه ونه کړي ژمن او پر وطن مین اشخاص ونه ګماري او ټینګه اراده رامنځته نه کړي؛ د هلمند موجوده امنیتي ستونزو، بې روزګارۍ او د ولس باور ته کار ونه کړي دا به ډېره مشکله وي چې دا پراخ ولایت دي د امن کور سي.

دا منو چې دلته استخباراتي جنګ دی او موږ د پاکستان سره پراخه پوله لرو او ډېرې ستونزې له دغه پولې هم راپېښې دي او په دې خبره هم باید ټینګ باور ولرو چې ښه حکومت داري ، خلکو ته ښه خدماتو وړاندې کول، ټولنیز عدالت ، او یو ځواب ګویه اداره کولای سي د هلمند په دغه پرتو ستونزو کې مثبت رول ولوبوي.

زه دا نه وایم چې بیخي هیڅ نه دي سوي او یا ټول اشخاص ژمن نه و، خو هغه مرستو او پیسو په پرتله چې هلمند ته راغلې دغه کارونه او کړنې د نشت په مانا دي.

وړاندیز مې دا دی چې؛ په ملکي او نظامي برخه کې باید پاک او ژمن کسان چې په سر کي یې والي دی هلمند کې پر دنده وګمارل سي، د مرکز او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسي استازو بې ځایه مداخلې بندې سي، د ولسونو سره ګډ کار وسي، مکافات او مجازات رامنځته سي، که پورته ستونزو ته پاملرنه ونه سي د هلمند جګړه به نوره هم پراخه سي او بیابه یې قابو کول ډېره ستونزمنه خبره وي.

د یوه ښه هلمند او خپلواک افغانستان په هیله!

۲۹/۱۰/۱۳۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شخصیت جوړونه په مادیاتو کې که په معنویاتو کې؟

انساني ژوند د مادي او معنوي دواړو اړخونو څخه جوړ دی، دواړه اړخونه ځان ته بیلې ماناوې لري، په ژوند کې د انساني ضرورتونو او ژوند کولو خبره چې کیږي د مادیاتو خبره ورسره لازمي ده، په ژوند کې خوراک، څښاک، جامې او نېور اړتیاوې لکه: کور او نور لوازم د مادي ژوند یوه برخه ګڼل کیږي، هغه ضرورتونه چې انسان ورته په ژوند کې اړتیا ولري د ژوند یو ضرورت بلل کیږي، د انسان خواهشات او غوښتنې خو ډیرې دي دلته بیا قناعت ډېر مهم دی ځینې کسان په ختیین کور قناعت نه کوي د لوړو منزلونو خوبونهویني په عادي خوړو او کالیو قناعت نه کوي هرڅه زیات غواړي همدغه



هیرس او نه قناعت د انسان معنوي ژوند ته صدمه رسوي په معنوي ژوند کې انسان د دغه خیالونو خلاص وي او فکر یې د لوړو اهدافو او ارزښتونو لپاره وي د انسانانو د ژوند د ښېګنې د خیر لپاره فکر کوي.

هر کله چې په انساني ژوند کې مادي غوښتنې تر خپل حد زیاتې سي نو د انسان معنویت ته هم زیان رسوي، په اوسنیو حالاتو کې مادیت پر معنویت دومره حاکم سوی دی چې ډېری انسانان یوازې ژوند او ښېګنه په پیسو کې ویني چې تر ډېره حده ددې بدې پدیدې پر هغه چا هم ډېر تاثیرات شیندلي دي چې هغوی په معنویت باور لري.

د اسلام مبارک دین په ډېر تاکید سره همدا خبره کوي چې یو انسان پر بل انسان برتري نه لري د انسانانو برتري فقط په تقوا او پرهیزګارۍ کې نغښتې ده او همدارنګه که نور ادیان او مذهبونه وګورو په هغوی کې هم بد

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ښه انسان هغه دی چې تقوا ولري، که تاریخ ته ولاړ سو نو هغه انسانان ډېر ځلېدلي دي چې پر معنویت یې باور درلودلی دی معنویت د انسان په شخصیت جوړولو کې مهم او اساسي رول لري، شخصیت جوړونه پرته له معنویت نه لاس ته نه سي راتلای، معنویت په نمایشي ډول هیڅ کله جوړېدلای نه سي ترڅو چې یو انسان معنوي اوصاف ونه لري.

په معنوي اوصافو کې ریښتنولي، حقیقت ته تسلیمېدل، ښېګڼه او د خلکو خدمت اړین او ضروري دی، په معنوي ژوند کې باوري انسانان د ظلم او بې عدالتۍ نه سخت رنج وړي او د تاریخ پر وړاندې د مسؤلیت احساس کوي کله هم داسې کړنه نه ترسره کوي چې سبا د تاریخ مسؤله وي معنوي خلک کله هم قدرت او پیسو ته داسې سر نه ټیټوي چې وجدان او ضمیر یې ورسره نه مني، معنوي انسانانو ته وجدان او ضمیر دومره مهم وي چې په معمولي اشتباه سره هم فکر کوي، نو د ژوند په ټولو چارو کې د معنوي ژوند لپاره باضمیره او باوجدانه انسانان ډېر مهم او اساسي رول لوبولای سي، هیڅ کله بې مسؤلیته او د تاریخ څخه نه بېریدونکي کسان لوی او درانه کارونه نه سي کولای ځکه هغوی معنویت ترک کړی او مادیاتو ته یې مخه کړې ده، کله کله څوک داسې فکر کوي چې ته یو لوی کس یې یا یو لوی منصف ته ورسېږې نو خامخا باید بلند منزلي او ډېر موټران او باډیګارډان ولرې؛ داسي نه ده، زه به د خپل هېواد د یو وزیر محمدګل خان مومند یادونه وکړم چې هغه ددې هېواد یو تکړه وزیر ؤ خو د ژوند تر وروستیو شېبو پورې یې په کرایې کور کې ژوند کاوه؛ زموږ او ستاسې د هېواد په تاریخ کې چې ارواښاد مومند بابا کوم ښه نوم لري بل څوک یې نه لري او نوم به یې تر ابده ژوندی وي.

په پای کې مې ځوانانو ته دا مشوره ده چې؛ باید پر معنوي ژوند باور ولرئ ځکه چې د هېواد او د خلکو راتلونکی ورڅخه ډېره تمه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ازاد د مدني مبارزې رښتيني څېره

شهيد قاضي محمد اسماعيل ازاد د مدني مبارزې هغه رښتيني څېره ده چې، ساری يې ډېر کم ليدل کيږي. که څه هم په افغانستان کې مدني هڅې او مبارزه ډېره مخينه لري، خو د مدني ټولنې له نوم او اصطلاح سره خلک تر ډېره نا اشنا دي.
په وروستيو کلونو کې چې افغانستان د نوې پرمختيايي نړۍ پر لور ګامونه پورته کړل، مطبوعات رامنځته سول، ورسره سم ځينو فعاله او ويښو ځوانانو بېلابېلې ټولنې جوړې کړې او مدني هڅې يې پيل کړې چې ځينو سمو او پر ځای مدني ټولنو او د دغه ټولنو غړيو او د دوی کارونو ښې پايلې ورکړې او تر اوسه يې کارونه سم دي خو ځينې بيا د مدني ټولنو له نوم بده ګټه واخيسته، چې ټولنې يې تر ډېره پروژه يې وې، د يو چا لپاره يې کار کوه چې اوس هم دغه ډول ډېرې ټولنې شتون لري چې موږ او تاسو يې خپله وينو او له ولس نه سي پټېدلی.
رښتيني مبارزه او مبارزين هيڅوک نه هېروي، د دوی کارونه هر چا ته څرګند وي، زموږ په ټولنه کې اوس هم ډېری ځوانان او د ويښ ضمير خاوندان سته چې پاکه مبارزه کوي او له پاکې او سپېڅلې مبارزې يو ډول خوند اخلي.
د دغه پاکو مبارزينو په کتار کې يو هم ارواښاد قاضي محمد اسماعيل ازاد و، نوموړی د مدني مبارزينو رښتينی استازی و، کومې تمې او هيلې چې له مدني ټولنو او مدني فعالانو کيږي هغه صفتونه ټول په قاضي محمد اسماعيل ازاد کې موجود و، هر وخت يې د ولس د حق لپاره مخامخ، رسنيو، ګردي مېزونو، غونډو، ولسي لاريونو او پاڅونونو کې فعاله ونډه اخيسته او تر بل هر چا به مخکې حاضر و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړي يو پاک شخصيت درلود، که څه هم له غريبې کورنۍ څخه و، په مادي لحاظ يې څه نه لرل خو خداي ج ښکلی معنوي ژوند ورکړی و، فکر يې سم و، د خلکو لپاره ډېرې هيلې، ارمانونه، تمې او اميدونه لرل. د هر ظالم په مخکې به يې پوره جرآت خبرې کولې او د دې ولس روا حقونه به يې ترې غوښتل، پر نيمګړتياو به يې نيوکې کولې، ملي ارزښتونو او ملي شتمنيو ته ژمن و، خوا يې پرې بدوله، اسلامي او کلتوري ارزښتونو دفاع او ساتنه يې موخه وه، چې همدغه ټول د يو پاک مدني فعال صفات دي.
همدغه سپېڅلتوب زه له شهيد قاضي محمد اسماعيل ازاد سره اشنا کړم.
نږدې درې کاله وړاندې چې مو کله هلمند کې د هلمند مدني ټولنې بنسټ کېښود، نو سملاسي يې زنګ راووهه، مبارکي يې راکړه، ويې هڅولم، د ژر ليدو هيله راڅخه وکړه چې بايد ووينو.
څه موده وروسته زه پلازمېنې کابل ته ورغلم، هلته مو سره وليدل، ټولې خبرې يې پر مبارزې، يووالي او رسالت باندې کولې، تر ټولو لومړی يې راته وويل: پاکه او سپېڅلې مبارزه وکړئ، ټولنه مو له هر ډول معاملو پاکه وساتئ، د هيچا ګوتخندنې ته مه وارخطا کېږئ، په دې سره به له يوې خوا تاسو برياليي ياست او بل پلو به درباندې ولس باور پيدا کړي. څه موده وروسته هلمند کې د وخت د اداري لخوا د هلمند مدني ټولنې ځينو غړيو ته ګواښونه وسول، رسنۍ راباندې وتړل سوې، په ځانګړي توګه د هلمند ملي تلويزيون. زموږ اواز او خبرونه به يې نه خپرول، شهيد محمد اسماعيل ازاد راته وويل، له هيچا مه ببرېږئ، موږ درسره يو، ستاسو مبارزه به حتماً ځای نيسي.
په ډېرې خواشيني سره بايد ووايم چې ازاد صيب اوس زموږ په منځ کې نسته، هغه شهيد سو، هغه خپل ډېر ارمانونه او هيلې چې د دې ولس لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې لرلې قبر ته يوړې. زه د هغه له مرګه په داسې حال کې خبر سوم چې له هېواده د باندې وم.
دا چې اروابناد قاضي محمد اسماعيل ازاد پاک مبارز انسان و، د خدايي خدمت روحيه پکې ژوندۍ وه، له ټولو مدني بنسټونو او مدني فعالانو هيله کووم چې د نوموړې هيلې او ارمانونه چې هغه د دې ولس لپاره لرل، بايد پوره يې کړي، د هغه په څېر مبارزه دې وکړي او پر پل يې پل کښېږدي.
د دغه ډول مبارزينو او پاکو مدني فعالانو ياد به تل ژوندی وي او مبارزه او فکر به يې د دې ټولنې او ولس پر ذهنونو او فکرونو خپور وي.
د اروابناد قاضي محمد اسماعيل ازاد پر ګور دې نُور سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عمومي سړک او د چارواکو موټریز کاروان

د الله ج په دې پراخه نړۍ کې ډول ډول مخلوقات ژوند کوي. په انساني ژوند کې چې د انساني کرامت خبره کیږي نو دا مالومه خبره ده چې؛ انسان تر نورو مخلوقاتو افضل او غوره دی او دا د نړۍ تر ټولو ستر کتاب قرانکریم کې هم لوی خدای ج ځو ځایه په ښکاره ویلي دي چې: ((ما انسان په ټولو مخلوقاتو کې غوره او اشرف پیدا کړی دی.))

د انسان غوره والی په دې مانا نه دی چې یو انسان تر بل انسان ځان غوره وګڼي او لويي وکړي، یا هم زوره ور پر کمزوري ظلم وکړي، بلکې هر انسان تر بل انسان باید ځان کښته وګڼي او دا سې فکر وکړي چې زه د نړۍ تر ټولو کمزوری او کم انسان یم.

زموږ په ټولنه کې تر ډېره دغه انساني کرامت چې خدای ج یې هم په څرګنده توګه دعوه کوي چې ما د نړۍ په مخلوقاتو کې فقط انسانانو ته پر نورو مخلوقاتو برتري ورکړې ده، خو له بده مرغه انسانانو دغه کرامت تر پښو لاندې کړی او هر چا فقط ځان ته د دغه کرامت حق ورکړی دی او دا سې فکر کوي چې فقط زه انسان یم، زما دې عزت وسي، زما درناوی دې وسي، ماته دې هر کشر او مشر لاس په نامه ولاړ وي، خو زه به د نورو انسانانو پروا هم نه ساتم.

زموږ د ټولنې خلک چې ډېری یې غریبانان، بې وسه او مجبوره خلک دي، په ډېرې عاجزۍ او بې وسۍ ګرځي، خو د دغه عاجزو او بې وسه خلکو له ډلې چې هر څوک یو مقام ته ورسیږي، واک تر لاسه کړي، پیسې پیدا کړي نو بیا یې خپله عاجزي او فقیري هېره وي او هر ظلم چې یې پر زړه وي کوي یې، د سپین ږیري، ماشوم، ښځې او نورو بې وسه خلکو هیڅ پروا نه ساتي، حتی په ډېرو سیمو کې د خپلو موټرانو تر ټېر لاندې کړي دي او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې باندې مونږ او تاسې لسګونه مثالونه لرو، ليدلي مو دي، اوريدلي مو دي او لا به يې هم ووينو.

د بېلګې په ډول به د سترګو ليدلی حال دلته رانقل کړم:

((هلمند کې د يو لوړ پوړي چارواکي د موټرو کاروان په ډېرې بدماشۍ، لوېيي او تکبر پر سړک روان و، پر سړک روانو خلکو هر څا هڅه کوله چې له سړک خپل ځان يو لوري ته کړي، هسې نه د مغروره چارواکي د موټر ترټاير لاندې نه سي، په دې وخت کې چې ما د چارواکو د موټرو د کاروان سپېل کاوه او فکر وړی وم چې د غلاو پر پيسو لوی سوي او واک ته رسېدلي چارواکي ولې دومره بې پروا دي، بل لور ته مې پام سو يو ماشوم يو کمزوری سپين ږيری ترلاس نيولی و، په ډېرې خوارۍ يې او تېزۍ يې هڅه کوله چې ځان تر سړک بل لوري ته تېر کړي هسې نه چې د موټرو تر ټېرونو لاندې نه سي، خو خدای ج رحم وکړ، مخکې له دې چې د دغه ظالم چارواکي موټر تر سپين ږيري راورسيږي نو سپين ږيری تر سړک تېر سوی و، خو که څو ثانيې هم تم سوی وای نو ممکن د چارواکو لخوا سپين ږيری پر موټر وهل سوی وای. د دغه حالت پر ليدو مې زړه ډېر درد وکړ، او دومره خپه سوم چې په دې ټولنه کې راته او سېدل ګران سول.))

سره له دې چې مونږ او زمونږ د ټولنې خلک د اسلام قوي دعوه هم کوي او وايي چې مونږ د نړۍ تر ټولو ستر مسلمانان يو، پر اسلامي ارزښتونو خپل سرونه قربانوو، او هر هغه څوک چې د اسلام پر ضد کومه کړنه کوي زمونږ د ټولنې خلک يې پر وړاندې جنګ ته متې بډ وهي او د سر او مال په قربانۍ د اسلامي مقدساتو او د اسلام د مبارک دين ساتنه کوي.

خو خبره دا ده ولې هغه حکمونه، پر ځان نه عملي کوي چې دغه سپېڅلي دين مونږ ته روښانه کړي، د اسلام سپېڅلی دين د بشريت نجات غواړي، له يو انسان څخه د بل انسان کرامت او درناوي غوښتنه کوي، پر مظلوم او بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسه د شفقت امر کوي، غریب سره د ژوند د اړتیاو د پوره کولو هېله کوي، نو موږ به په خپله ټولنه کې دغه ډول خلک څنګه تعریفوو چې په ډېر ظلم، لویې او تکبر پر سړک تیریږي او نور خلک ترې د ډار او وحشت اند ېښنه لري.

داسې هم نه سي کېدای چې د چارواکو او زورواکو د موټرانو لپاره دې جلا لار او سړکونه جوړ سي او د مظلومو او غریبو خلکو لپاره دې جلا جوړ سي چې دوی تله راتله پرې کوي او نه داسې تر اوسه په ټوله نړۍ کې سوي دي.

زموږ تر اسلامي ټولنې وراخوا په نوره نړۍ کې لا د انسانیت احترم کیږي، پر مظلوم رحم کیږي، د مشر قدر او احترام کیږي، حتی په بهرنیو هېوادونو کې کشران که چارواکي وي او که نور خلک وي د مشر، بې وسه او سپین ږیرو مشرانو دومره درناوی او احترام کوي چې په موټر کې ورته خپله چوکۍ پرېږدي او پر خپل ځای یې کښېنوي.

پوښتنه دا ده چې موږ ولې انساني کرامت تر پښو لاندې کړې دی؟

موږ چې د اسلام د سپېڅلي دین لپاره خپل سر قربانوو، خپل اولادونه مال او شتمنۍ قربانوو، نو بیا ولې ددغه دین لخوا روښانه سوي حکمونه، د ژوند کولو طریقې، راشه درشه نه مراعتوو؟

موږ به غیرې اسلامي ټولنې او نورې نړۍ ته خپل دین څنګه تبلیغوو چې موږ خپله پر ځان نه دی عملي کړی؟

هغه خلک چې دغه ډول کړنې کوي، ظلم کوي، رحم یې پر زړه کې نه وي او نور انسانان ورته انسانان نه ښکاري، دوی خپله نا اهله دي، د دغه خلکو سمه روزنه نه ده سوې، که یې بګراونډ وګورو نو هیڅ به نه وي، ذهنیت او فکر یې داسې جوړ دی چې ظلم باید وکړي، غلاوې وکړي، وژنې وکړي او په دې ډول ویره خپره کړي او په ټولنه کې ځان د زورواکي په توګه مطرح

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي ترڅو د هرې ناوړه کړنې پر خلاف يې ږغ پورته کولو جرات ونه کړي او هر څه چې يې خوښه وي ويې کړي.
ترڅو چې مو ټولنه کې دغه ډول نا اهله او ظالم چارواکي حاکمان وي او مظلوم يې هم پر وړاندې ترلې خوله ناست وي، نو نه به د ظلم څپې ورکې سي او نه به مو ټولنه جوړه سي.
راځئ د هر ظلم او ناوړه عمل پر وړاندې لاسونه سره يو کړو، مبارزه وکړو، قرباني ورکړو، ترڅو مو راتلونکی نسل او راتلونکې ټولنه د دغه ډول چارواکو، ظالمانو او نااهله مشرانو له شتون څخه پاکه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کيسې ګټل د مردانو کار دی

نړۍ کې درې ډوله خلک ژوند کوي، يو ډول يې هغه دي چې ستر خلک دي، ښه ښه کارونه کوي، په خپل ژوند کې معنويت ته ډېر ارزښت ورکوي چې تاريخ يې هم په نوم وياړي او تل يې خلک په ښه ډول يادوي او نمانځي يې چې زموږ او ستاسو په ټولنه او هېواد کې يې هم ډېرې بېلګې سته، چې وروسته به پرې رڼا واچوو.

دويمه ډله يې د ماديات او معنوياتو ترمنځ منځلاري دي، چې کله پر معنوياتو ماديات ته ارزښت ورکوي او کله پر ماديات معنوياتو ته ارزښت ورکوي، دغه خلک نه معنوياتو ته تسليمېږي او نه مادياتو ته، تل دوه زړي وي، چې دغه ډول خلکو څخه هم تاريخ ښه مخينه او ښه بېلګه نه لري، چې دا ډول خلک هم زموږ په ټولنه کې ډېر تر ستر ګو کيږي.

دريېمه ډله هغه خلک دي چې د لومړۍ ډلې په خلاف مادياتو ته ارزښت ورکوي، ټول کار يې د مادياتو سره وي او په دې فکر کې وي چې څنګه پيسې پيدا کړي، څنګه خپل جېبونه ډک کړي، څنګه د خلکو پر حقوقو تېرى وکړي او... چې دا ډول خلک زموږ په اوسنۍ ټولنه کې ډېر زيات تر ستر ګو کيږي او موږ تاسو يې عملاً وينو.

هغه خلک چې پر معنوياتو باور لري او په لومړۍ ډله کې راځي، دغه سپېڅلي خلک دي او ددې خاورې رښتيني خدمتګاران او د ښه احساس خاوندان دي، تاريخ د دغه ډول خلکو له نومونو ډک دی، په خپل وخت کې هم په ښه نوم ياد سوي دي، اوس هم په ښه نوم يادېږي، خلک يې په پوره وياړ نومونه اخلي او ترڅو چې دا نړۍ وي تاريخ به پرې وياړي او نومونه به يې ژوندي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې دا نه چې عالمان، پوهان، ادیبان، شاعران او لیکوالان په دغه ډله کې راځي، بلکې پاچاهان، ولسمشران، وزیران، لوی لوی دولتي مامورین او چارواکو کې هم داسې خلک تېر سوي دي چې پر معنویاتو یې باور درلود، مادیات یې نه خوښول، زموږ په هېواد کې که څه هم دغه ډول خلک ډېر تېر سوي دي خو زه به یې فقط وزیر محمد ګل خان مومند بابا څخه د بېلګې په توګه یادونه وکړم، نوموړی هم شاعر و، هم لیکوال و، ترڅنګ یې دولتي وزیر و او په لوړ پوسټ کې یې کار کاوه، خو نوموړي خپل کور نه درلود او په کرایي کور کې اوسېده.

وزیر مومند بابا کولی سول چې ځانته لوی کور پیدا کړي، ځانته د ځینو اوسنیو چارواکو په شان لوی لوی مارکېټونه پیدا کړي خو نوموړی چې پاک انسان و، د وطن پرستۍ احساس پکې ژوندی و، غل نه و پر مادیاتو یې تکیه نه کوله، فقط معنویات رغول یې غوښتل، ذهنیتونه جوړل یې کار و، ژبې او هېواد ته یې خدمت کاوه، نو ځکه یې کور نه درلود او د کور د پیدا کېدو فکر هم ورسره نه و، د دغه انسان په نوم باندې اوس تاریخ ویاړي، خلک یې په خپلو خبرو کې یادوي او د ډېرو کیسو انسان تېر سوی دی، نو ځکه هغه یو متل دی چې وایي: «پښتون کیسې ګټي، هندو پیسې ګټي.»

دویمه ډله چې د معنویاتو او مادیاتو ترمنځ ما منځلاري یاد کړي دي دوی هم د تاریخ په زرینو پاڼو کې نه شي راتلی، دوی د وخت سره ګرځي، که یې په معنویاتو کې ګټه وي او خپل ځان پکې سرلوړی بولي نو معنویاتو ته ارزښت ورکوي، که معنویاتو کې خپله ګټه ونه ویني او د مادیاتو د ترلاسه کولو زمینه ورته برابره وي نو معنویاتو تر پښو لاندې کوي، که داسې ووایم دغه ډول خلک داسې جوړ دي چې معنویاتو باندې ځان مادیاتو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسوي، احساس لرونکي او وطن دوسته نه وي، فقط د خپل نوم د لوړولو لپاره کوښښ کوي.

دربیمه ډله یې هغه خلک دي چې، فقط د مادیاتو د ترلاسه کولو کوښښ او هڅه کوي، دغه ډله خلک معنویاتو ته هیڅ ارزښت نه ورکوي، ملي شتمنۍ یې تر پښو لاندې کړي وي، سترګې یې پټې وي، ولس او هېواد په لوی لاس د اور کندې ته ور ټېل وهي.

د دغه ډلې خلکو بېلګې موږ په اوسنۍ ټولنه کې ډېرې لرو، ځینې فاسد او غله چارواکي چې د مادیاتو د ترلاسه کولو او د جېب د ډکولو لپاره ان د خلکو عزتونه هم پر نورو پلوري، پر خاوره او ددې ولس پر سرونو معاملې کوي، نوم او نښان تر خاورې لاندې کوي او فقط پیسې ګټي.

دغه ډله خلک د تاریخ پاڼو په خپلو تورو لېستونو کې ثبت کړي دي، که په تېرو دورو دغه ډول خلک تېر سوي دي موږ او تاسې یې اوس لولو، په بده یې یادوو، کرنې یې غندو، حتی خپلو ماشومانو ته یې لا کیسې کوو او تر څو چې دا نړۍ وي، دغه خلک به دغه ډول تور وي، سپین به سي او تاریخ به لعنت ورباندې وایي.

څوک چې د تاریخ څخه بېربرې هغه کیسې ګټي، هغه کسان چې کیسې نه ګټي هغه په ارزښتونو باور نه لري.

دلته هدف دا نه دی چې ټول خلک دې پر کور کېنېني او د خپل نفقې پیدا کولو په غم کې نه وي، نه داسې نه ده، په مشروع طریقه پیسې پیدا کول عبادت دی، طبعي خبره ده چې هر انسان د خپل ژوند تېرولو لپاره کار کولو او پیسو پیدا کېدو ته اړتیا لري، خو زما هدف له هغه خلکو دی چې مړښت نه لري، د نورو پر پیسو یې خېټې پړسولي دي، غلاوې کوي، چور کوي، وطن او خاوره خرڅوي خو د خپل جېب ډکولو په نشه کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا یوه منل سوې خبره ده څوک چې مادیاتو ته تسلیم وي، هغه له معنویاتو لیرې وي او تاریخ د سترو خلکو له کتاره باسي.

نو په د مادیاتو په لټون کې دومره غرقېدل هم نه دي پکار چې معنوي ارزښتونه تر پښو لاندې کړو، تاریخ او راتلونکی نسل راباندې لعنت و وایي.

راځئ، د حلال رزق او نفقې د پیدا کولو سره سره معنویاتو ته ډېره پاملرنه وکړو، ترڅو مو راتلونکی نسل پر پلونه پل کېږدي او مادیاتو پرستۍ ذهنیت یې له منځه ولاړ سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مدني ټولنې باید تعریف شي

که څه هم مدني ټولنه تاریخي مخینه لري او د اسلامي مدني ټولنو رامنځته کوونکی د دې نړۍ ستر انسان او لارښود حضرت محمد ((ص)) دی، خو زموږ په ټولنه کې له بده مرغه مدني ټولنې یا سمې تعریف سوي نه دي او یا یې د همدغه سپېڅلي نوم په وسیله خلکو ناسم کارونه کړي دي چې اوس ورځ‌ځه زموږ د ټولنې خلک نفرت او کرکه کوي.
مدني ټولنه یوازې په اسلام کې نه بلکې په نوره نړۍ کې هم غربي پوهانو پېښې پخوا مدني ټولنې جوړې کړې دي خو د اسلامي مدني ټولنو سره توپیر دا دی چې غیر اسلامي مدني ټولنې فقط د دې نړۍ د ژوند د هوسا کولو غوښتنه کوي خو اسلامي مدني ټولنې هم په دې نړۍ کې د ژوند تېرولو لپاره هڅې کوي او هم د اخیرت لپاره د خلکو فکرونه جوړوي.
په دې وروستیو کې د هېوا ځینو علماو وویل مدني ټولنې باید بندې سي، د دوی دفترونه بند سي او د فعالیتونو مخه یې باید ونیول سي.
اوس مهال که موږ او تاسې وګورو په افغانستان کې د مدني ټولنو اچار جوړ سوی دی، پاک او نا پاک نه دي مالوم، هر چا د خپلو موخو او خپل هدف لپاره ټولنه جوړه کړې ده، په ټولنیزو شبکو او ځینو نورو رسنیو کې یې ځانته تبلیغات کوي او زموږ د ټولنې د بدبخته خلکو پر سترګو د دوکې خاورې شیندي.
زموږ د ټولنې عام ولس ملامت نه دی، دا خلک چې د مدني ټولنې له نوم بد وړي زه یې نه ملامتووم، ځکه دوی د مدني ټولنې په پوښ کې داسې انسانان لیدلي چې دا ادرس یې بدنام کړی دی او پر وړاندې یې د خلکو کرکه راپاروله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ په ټولنه مدني ټولنې باید تعریف سي، څنګه چې د مدني ټولنې ارزښت د اسلام په مبارک دین کې بیان سوی، څنګه چې د مدني ټولنې موخې دي، باید په هماغه ډول خلکو ته ور وپېژندل سي او مدني ټولنې هم باید د خپلو ارزښتونو سره سمې کړنې وکړي، اسلامیت او افغانیت په پام کې ونیسي، د ظلم پر وړاندې باید مبارزه وکړي، د هېواد اساسي قانون ته احترام ولري او د ولس ریښتینی اواز باید منعکس کړي.
اوس زموږ په هېواد کې لویه ستونزه دا ده چې سلګونه ټولنې د مدني ټولنو په نوم فعالیت کوي، حقیقي او غیر حقیقي مدني ټولنې نه پېژندل کیږي لکه مخکې چې مو یادونه وکړه یو چار او ګډوله جوړه ده، چې همدغه ګډولې پاکې ټولنې هم له ځان سره بدنامې کړي او پر وړاندې یې د خلکو حساسیتونه پاریدلي دي.
مرکز کې مې څو ځل ددې خبرې یادونه له ملګرو سره کړې ده چې راځئ یو یون به راپیل کړو او د ټول هېواد په کچه په هر ولایت کې چې څومره ټولنې دي ټولې به ارزیابي کړو، د دوی کارونه، بګراونډ او فعالیتونه به وګور چې چا څومره کار کړی دی، خلک څومره ترې خوشاله دي، له دغه ارزونې وروسته به ټولې پاکې او ریښتینې مدني ټولنې ترې راوباسو، یو قوي چتر به جوړ کړو او د ناپاکو ټولنو پر وړاندې به یو کلکه مبارزه پیل کړو او په دې توګه به یې د ناسم فعالیت مخه ونیسو او ریښتیني مدني فعالیت ته به لار پرانیستل سي خو زما پر دغه خبره چا غوږ ونه ګراوه.

له هغه وروسته اوس هره ورځ په مرکز کابل او په ټولو ولایتونو کې ورځ تر بلې مدني ټولنې جوړېږي چې اکثره یې پروژه یې بنې لري او د شخصي موخو په غرض جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به له خپلې تجربې درته ووایم، کله چې مو په هلمند کې د هلمند مدني ټولنه جوړه کړه، لومړیو کې عامو خلکو پېژندله هم نه. هر چا به ویل دا یو دولتي ارګان دی، دولت معاش ورکوي خو وروسته چې مو څو حرکتونه وکړل نو د هلمند له بېلابېلو ولسوالیو دفتر ته ولسونه رامات سول، خپلې ستونزې به یې راسره شریکولې. په سیمه کې به یې د دولتي چارواکو له ظلمونو شکایت کاوه. موږ به هم د دوی ستونزې له دولتي چارواکو سره په همږغۍ حلولې، د ظالم او فاسدو چارواکو پر وړاندې به مو د همدغه ولس په ملتیا ږغ پورته کاوه. لنډه دا چې زموږ شتون نور نو فاسدو او ظالمو چارواکو ته هم د هلمند په مرکز او هم ولسوالیو کې سرد دردی جوړ سو، نو فاسدو چارواکو د دې لپاره چې د مدني ټولنو نوم پیکه کړي، د دې لپاره چې د مدني ټولنو پر وړاندې د خلکو کرکه او غصه پیدا کړي نو دوی خپله هم د مدني ټولنو په نوم ډلګۍ جوړې کړې، چې د همدغه ټولنو پر مټ خپل ظلمونه او فساد پټوي او تر پردې لاندې هماغه د پخوا پشان ظلمونه کوي، غلاوې کوي او عام ولس یې ترې سرې سترګې ژاړي. خو زما عام او بېچاره ولس په دې نه پوهېږي چې غوړه مالې ټولنې همدغه چارواکو د دې لپاره جوړې کړي دي چې د ولس رښتینی ږغ د دوی پر ستوني کې ور وچ کړي.

اوس هم خپل هغه پخواني وړاندیز ته راځم، له وړاندیز مخکې دا یادونه باید وکړم چې نور دې تش په نوم او پروژه یي مدني ټولنې د توبې پر اوبو ځانونه ومینځي، له غوړه مالۍ او غلامۍ دې راووځي، د پاکې او سپېڅلې مبارزې پر ډګر دې خپلې سینې د ظالمو او فاسدو چارواکو پر وړاندې سپر ونیسي.

په مرکز کابل کې مې رښتیني مدني فعالانو ته وړاندیز دا دی چې راځئ حساب سره وکړو، ټولې ټولنې و ارزوو، حساب ورسره وکړو، پاکې او نا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکې سره بېلې کړو، د ناپاکو پر وړاندې لاسونه یو کړو او رښتې یې وکاږو.
ترڅو چې مدني ټولنې پاکې او سپېڅلې نه سي، رښتیني مبارزه ونه کړي، پاک او ناپاک سره بېل نه کړي یانې خدایي خدمتګاري ونه کړي، ترڅو چې مدني ټولنې د حق خبره ونه کړي، ترڅو چې مدني ټولنې له پروژه یي حالته را ونه وځي نو په هیڅ صورت ورته مدني ټولنه نه شو ویلی، فاسدې، او پروژه یي ټولنې ورته ویلی سو.
پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي ارزښتونه او د چارواکو لوبه

زموږ د هېواد روانو حالاتو ته په کتو سره تر ټولو دردونکې خبره دا ده چې، زموږ ځيني بنسټونه بيخي له منځه ولاړل. د معنويت او ارزښتونو پر وړاندې داسې څه وسول چې، هر څه يې له منځه يوړل. بدبختانه بايد ووايم چې پخواني ولسمشر ښاغلي کرزي د حکومت په موده کې په دې هېواد کې د فساد داسې تخمونه وکرل سول چې له منځه وړل به يې کلونه وخت واخلي.

ددې هېواد هغه بنسټونه چې د هېواد ژغورنې ملي مسؤليت يې بايد ترسره کړی وای تخريب او ويجاړ سول.

چې په لومړي سر کې رسنۍ راځي، رسنۍ د يو هېواد او ټولنې څارګر بنسټ بلل کيږي، رښتيني رسنۍ هېواد د پرمختګ پر لور بيايي او کاږه چارواکي لارې ته سموي، د ولس د زړونو ترجماني کوي، حقيقتونه راسپړي، له ډول ډول رازونو پرده پورته کوي او بالاخره په فساد روږدي چارواکي چې يو ځل يې فساد رسنيز سي بيا په ژوند فساد ته زړه نه ښه کوي او که کوي يې هم په ډېر تکليف او ستونزه.

له بده مرغه زموږ په هېواد او په ځانګړي ډول د ښاغلي کرزي په حکومت کې رسنۍ درباري سوې، هر چا ځانته رسنۍ جوړې کړې، د پارلمان له وکيله واخله تر والي، ښاروال او زورواکي پورې، هر چا ته اجازه ورکول سوه چې خپله رسنۍ جوړه کړي او خپلې منفي کړنې پرې پټې کړي، پر خپل ظلم او فساد پرده واچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه کار په هلمند کې هم ترسره سو، ډېر داسې والیان راغلل چې دولتي او شخصي رسنۍ یې خپل شخصي ملکیت وګرځاوه، ځان ته به یې په رسنیو برآت ورکاوه، له دې ډلې په دې وروستیو کې یو هم د خاور په نوم سیمه ییز تلویزیون دی چې د کابل خاور تلویزیون څانګه ده خو نشرات او خپرونې یې سیمه ییزې دي، فقط د ښاروالۍ پر منفي کړنو پرده اچوي د دوی په خوښه تبلیغات کوي، د غصب سویو ځمکو په اړه دروغجن اسناد وړاندې کوي او د خلکو سترګو کې خاورې شیندي چې نه ځمکې غصب سوي دي او نه چارواکي ظالمان دي، همدې یوه خبره باندې د خلکو ټولې نیوکې رد کړي چې دا ماسټر پلان دی باید پلی او عملي سي.

دا تلویزیون د هلمند د ښاروال لخوا جوړ سوی دی، حتی مېلمانه ورته د ښاروال په خوښه او غوښتنه رابلل کیږي، رښتیني ځوانان چې د ولس رښتیني اواز پورته کول غواړي په دغه تلویزیون کې پرې بندیز دی، چې ښه مثال یې د هلمند مدني ټولنې دی، نه د هلمند مدني ټولنې خبر اخلي او نه هم ددې ټولنې کوم غړی هلته مېلمه کوي، ځکه چې هلمند مدني ټولنې هر غړی د پاک نفس او وېښ وجدان څښتن دی او حقیقت ترې وېل کیږي.

ددې ترڅنګ یو شمېر نورې رسنۍ هم درباري سوي دي، د دولتي چارواکو تر تاثیر لاندې دي، زه د اطلاعات او کلتور وزارت باندې ږغ کووم چې پاکې او ناپاکې رسنۍ دې ولس ته وروپېژني، که د اطلاعات او کلتور وزارت دا کار ونه کړي نو هلمند مدني ټولنه به ولس ته په ډاګه کړي چې هلمند کې پاکې او ناپاکې رسنۍ کومې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم بنسټ چې بدنام سو، ممکن په نورو ولایتونو کې هم داسې پېښې سوي وي مدني ټولنې دي، نږدې درې کاله وړاندې هلمند مدني ټولنه جوړه سوه، د دولت د هرې منفي کړنې پر وړاندې یې خپل اواز پورته کړ او د دولت د هرې مثبت ګام ملاتړ یې وکړ، په دې وروستیو کې چې ځایي دولتي چارواکي تر ډېره پورې په فساد کې ښکېل سول نو د خپل برآت لپاره یې مدني ټولنې جوړې کړې، چې هره ورځ د دولتي چارواکو په دربار راټول وي او د هغوی د ناپاکو کړنو دفاع کوي، دا بنسټ هم دولتي چارواکو بدنام کړ او د ځینو ناپوهه ځوانانو پر احساساتو یې لوبې وکړې خو کاشکې چې زموږ ځوانان په دې ارزښت پوهېدلی چې یو وخت به تاریخ ته هر څه څرګندیږي، نن سبا انټرنټي زمانه ده هیڅ خبره او کړنه نه سي پټېدلی او خلک تر دې پورې رسېدلي چې د هر چا په حرکت یو ځوک پوهېدلی سي.

بل پلو د ځوکۍ خرڅولو دود دومره عام سو چې په ځوانانو کې هم د هېواد پرستۍ انګېزه ووژل سوه، هر ځوک په دې فکر کې دی چې څنګه یوه داسې ځوکۍ پیدا کړي چې ښې ډېرې پیسې پکې وي، غلا او فساد ته پکې ښه زمینه برابره وي.

له بده مرغه ځوک چې یو پوسټ ته ټاکل کیږي او یا ورته ځان کاندیدوي نو د مادي ګټې په فکر وي، که معنویت تر خاورو لاندې کیږي هم پروا نه کوي خو چې دی پکې پیسې پیدا کولی سي، غلا پکې کولی سي او خپل جېب ډکولی سي هماغه پوسټ او ځوکۍ پسې زور او حملې وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلمند کې د دولتي مدني ټولنو بازار تر دې پورې ګرم دی چې ولس هم په دې پوهېدلی چې دولتي چارواکو مدني ټولنې جوړې کړې دي، نن یو شمېر قومي مشران د خپلو ستونزو او اواز پورته کېدو په موخه خپل کور هلمند مدني ټولنې ته راغلي و، جالبه دا وه د دوی له خولې مې واورېدل چې دولتي چارواکو د ځان د خلاصون او دفاع په موخه یو شمېر مدني ټولنې جوړې کړې دي.

دا د شرم ځای دی چې ځینې ځوانان پیدا کیږي او د دولتي چارواکو په اشاره مدني بنسټونه بدناموي.

زه پر ځوانانو ږغ کووم چې میدان ته دې راووځي د دولتي چارواکو په ناروا او منفي اشارو دې نه تېروځي، دا کار پرته له تاوان کومه ګټه نه کوي، یو وخت به ددې ولس راتلونکی نسل په دې اړه قضاوت کوي، راځئ، ولس، تاریخ او ټولنې ته خپل رښتینی مسؤلیت ترسره کړئ، دومره څه خو باید ددې ولس لپاره وکړئ چې خپل وجدان ته سرې ځواب ولري او هیڅ وخت خجالت نه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي لوبډله که ملي ټغر؟

د افغانستان په روانه جګړه کې ددغه هېواد د خاورې دښمنانو د خپل فزيکي وس سره سره چې په دې هېواد کې يې د جګړې لپاره وکاروه، ترڅنګ يې د افغانانو د يو ځای راټولېدو د مخنيوي لپاره هم خپلې هڅې ونه سپمولې چې دا لوبه لا اوس هم روانه ده او ددغه خاورې دښمنان نهايي کوښښ کوي چې، د افغانانو يو وجود ته صدمه ورسوي او دا لوبې ترسره هم سوې، د شمال او جنوب، د پښتو او فارسي او نورو بېلابېلو نومونو باندې افغانان سره وجنګول او دوی د يو والي مخه ونيول سوه او پر دې اوس هم کار شروع دی چې افغان سره يو نه سي او په بېلابېلو نومونو يې سره وويشي، تور او سپين رامنځته کړي يو افغان په بل وټکوي او په پايله کې د افغانانو يو موټي والی کمزوری کړي.
زموږ په هېواد کې دولتي او شخصي ارګانونو، ټولنو، شوارګانو، ديني عالمانو، قومي مشرانو، بهرنيو اسلامي خواخوږو هېوادونو او نورو ډېرو کړيو هڅه وکړه چې په دې هېواد کې يووالی رامنځته کړي خو ونه توانېدل، ميلياردونه ډالر مصرف سول، د خلکو په خوښه کارونه وسول، غوښتنې ومنل سوې خو بيا هم داسې طرحه وړاندې نه سوه چې له مخې يې افغانانو ته داسې روحيه او ذهنيت ورکړل سي چې تاسې ټول يو وجود او يو ملت ياست.
که څه هم پورته يادونه وسوه چې د ملي راټولېدنې او يووالي لپاره ډېرې هڅې وسوې خو بيا هم دا کار ترسره نه سو، او بيا په داسې يو هېواد کې چې کورنۍ جګړه پکې روانه وي خلکو ته د ملي يووالي انګېزه ورکول او دغه انګېزه په برياليتوب منحلېدل ستونزمنه خبره لا څه چې له امکانه ليرې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانانو ته د ملي يووالي انګېزه چې رښتيا هم افغانانو ځانونه يو وښوول، د هېواد ترڅنګ د ټولې نړۍ په لر او بر کې افغانان پر يو وخت وخندېدل، وژړېدل، خوښي يې وکړه، په ملي کچه د ټولو احساسات راوپارېدل، د افغان په نوم يې وويارل او پرته له دې چې مليادونه ډالر مصرف سي، بې له دې چې په يوه نوم او بل نوم غله او فاسد چارواکي له بهرنيو مرستې راجلب کړي او خپل جوالونه پرې ډک کړي، پرته له دې چې بهرني خواخوږي د افغانانو د يووالي لپاره فکر ووهي نو دغه کار ترسره سو، افغانانو سره يو سول دوی خپل ملي يووالی په ثبوت ورساوه.

دغه ملي يووالي لومړی په ټوله کې د افغان لوبغاړو او په ځانګړي ډول د کرېکټ ملي لوبډلې رامنځته کړ.

افغان کرېکټ ملي لوبډله چې په لومړي ځل په ۲۰۰۱ ز کې جوړه سوه، په ۲۰۰۹ ز کې يې په رسمي ډول په نړيوالو سياليو کې برخه واخيسته، په ډېر لږ وخت کې د سيمې ترڅنګ په ټوله نړۍ کې وځلېده، افغانستان او او افغانان يې خلکو ته وروپېژندل او دا يې ثابته کړه چې که د سيمې او نړۍ استخباراتو او نورو دښمنانانو افغانان پر ډلو ډلو ويشلي دي، خپلو کې يې په جنګ اخته کړي دي، خو بيا هم دوی يو دي، افغانان دي، پر افغانيت وياړي او غواړي چې ټول افغانان يو سي او نړۍ ته هم دا وښايي چې ((موږ د نړۍ هغه ملت يو چې ټوټه کول مو ګران دي)).

د افغان کرېکټ ملي لوبډله چې په ډېر کم وخت کې يې په نړيوالو لوبو کې د سيمې په کچه سيالۍ وکړې او د پاکستان په څېر داسې قوي لوبډلې يې په ګونډو کړې چې په دغه لوبه کې ۵۰ کلنه تجربه لري.

د افغانستان لپاره تر ټولو په زړه پوري لا دا ده چې په ډېره کمه موده کې يې تر نړيوال جام هم ځان ورساوه، که څه هم د کرېکټ مبصرين فقط په نړيوال جام کې د افغانانو ګډون د ټولې نړۍ لپاره حيرانوونکی بولي خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان په دغه جام کې یوازې ګډون نه بلکې سکاټلنډ ته یې ماتې هم ورکړه او مخکې نورې لوبې هم لرې.
موږ او تاسې ولیدل افغان کرېکټ لوبډلې ډېرې بریاوې راوړې، د هر برې سره سم په ټول هېواد کې په ملي کچه پښتون او فارسوان، تاجک او ازبک په شمال او جنوب کې افغانان راووتل، ویې خندل، خوښۍ یې وکړې او پراخه کچه یې جشنونه جوړ کړل، د افغانانو دغه یووالی لکه مخکې چې مو یادونه وکړه هیچا رامنځنته نه کړ، یوازې همدا لوبډله چې په ډېرو کمو امکاناتو یې له نړۍ سره ډغرې ووهلې افغانان یې پر یوه ټغر راټول کړل.
څو ورځې مخکې چې د کرېکټ په روان نړیوال جام کې د افغانستان او سکاټلېنډ ترمنځ سیالي روانه وه، زه په یوه هټۍ کې ناست وم، هلته ډول ډول خلک ناست و، د کرېکټ لوبه یې کتله، د افغان لوبغاړو د هر منډې، هرې څلوریزې او هرې شپږیزې سره به یې بې واکه چکچکې او شور کاوه، کله چې به کوم افغان لوبغاړی وسوځېد نو د ناستو خلکو څېرې به مړاوې سوې او یو ډول خپګان به پرې خپور سو.
دا هر څه د یوې ملي انګېزې له مخې کېدل، په هر افغان کې د هېواد پرستۍ او ملي یووالي انګېزه ژوندۍ سوې وه، کله چې مو بیا دغه لوبه وکتله نو داسې افغان به نه و چې له سترګو یې اوښکې توی سوي نه وي، ان تر دې چې په ننګرهار کې د یوې لیسې مدیر له ډېرې خوشالۍ زړه ودرېد او خپل روح یې حق ته وسپاره.

ومو لیدل چې د هېواد په لر او بر کې ولسي وګړو، دولتي خلکو، سیاسینو، مدني فعالانو، ځوانانو او بالاخره چې هر چا د افغان په نوم رږغ کاوه او ځان یې افغان باله بې سارې خوښي او خوشالي وکړه، په ډېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولایتونو کې ځوانان د ښار واټنونه ته راووتل او د ملي لوبغاړو دغه بری یې په ملي توګه بدرګه کړ.

زموږ دغه لوبډله چې افغانانو ته یې د ملي یووالي روحیه ورکړه، کله چې بری راوړي موږ یې ستاینه کوو، اتلان، زمریان، مېړني یې بولو، پړې ویاړو، د فېس بوک په فروپایل د دوی انځورونه راځړوو، خو کله چې ځوانه او تنکۍ لوبډله چې ډېره کمه تجربه لري کومې قوي لوبډلې ته لوبه وبایلي نو موږ افغانان څومره احساساتي خلک یو، څومره بې انصافه یو، څومره ظالمان یو، همدغه لوبغاړي چې د لوبې د ګټلو پر وخت یې زمریان او اتلان بولو، ښکنځل ورته کوو، او په داسې نومونو یې یادوو چې ان په عادي ژوند کې په دغه نومونو یادولو انسان شرمیږي، موږ نه د خوښۍ زغم لرو او نه د خپګان.

د خپلې لوبډلې بري او ماتې ته حساب مه کوئ، دې ته حساب وکړئ چې په دومره لږه موده کې زموږ ملي لوبډله د څومره سترو بریاو شاهده ده، د افغانستان پر وړاندې یې د نورو نړۍ فکر بدل کړ.

په هر صورت باید ملي لوبډله وستایل سي، لکه څنګه چې افغانان خپله لوبډله د بریا په وخت کې ستایې، د دوی پر وړاندې خپل احساسات ښکاره کوي، خوښي ښيي او جشنونه جوړوي، کله چې افغان لوبډله د خپلې کمې تجربې له امله لوبه وبایلې، باید دوی ته ډاډ حوصله ورکړل سي، د دوی هڅې چې د لوبې د بري لپاره یې کړي دي وستایل سي، دوی که لوبه وګټي او که یې وبایلي دننه په هېواد کې باید ددوی لپاره د خوښۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بدرګې جشنونه جوړ سي او د دوی هر احساس او هره هڅه باید وستایل سي.

بل پلو دولت هم ملي لوبډلې ته په پام کولو کې پاتې دی، نور هېوادونه چې خپلو ملي لوبډلو ته څومره پاملرنه کوي، څومره امکانات چې د دوی په لاس کې ورکوي، له بده مرغه زموږ حکومت خپلې لوبډلې ته نه دي ورکړي، دولت باید افغان ملي لوبډلې ته جدي پاملرنه وکړي.

په وروستیو کې له هېوادوالو یو ځل بیا هېله کووم چې په ټولنیزو شبکو کې هغه ځوانانو پسې له ردو بدو ویلو جدي ډډه وکړئ کومو ځوانانو چې افغانان پر یوه ټغر راټول کړل او افغانانو ته یې د ملي یووالي روحیه ورکړه.

د یو موټي افغانستان په هېله!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وینا که عمل؟

په مجلسونو، غونډو او دریځونو کې ډېرې ښې خبرې کیږي هر یو د اسلامیت، افغانیت او وطن پرستۍ ډیرې ښې بیانې ورکوي، که سړی دغو بیانیو ته ښه ځیر سي نو پوره باوري به سي چې زموږ په ټولنه کې هیڅ ډول ستونزې نسته او دا هېواد ډیر رښتین او پاک اشخاص لري، خو دا خبره برعکس ده په عمل کې ویناوال داسې نه دي، موږ باید د ویناوالو، سیاسینو او مسؤلینو کړنې محاسبه کړو چې دوی په رښتیا څومره پاک، رښتیني او وطن دوسته انسانان دي.

کله چې مو د اعمالو ارزیابي پیل کړه د هر چا د ژوند بېګراونډ په ښه ډول مطالعه کړو نو بیا موږ ښه تشخیص هم کولای سو بیا که خبري کمې هم وکړي پروا نه کوي ځکه چې په عمل کې یې ځان ښودلی دی.

زموږ د ژوندانه په ډګر کې یو عملي ژوند ته ډېره اړتیا ده ترڅو چې مو د عمل ریښتني لار تعقیب کړې نه وي نو د موجوده بدبختیو او ناخوالو څخه ځان نه سو خلاصولای.

هغه خلک چې وینا او کړنه یې یوه ده، هغه خلک چې څه یې پر زړه وي هغه پر خوله راوړي له بده مرغه داسې کسان زموږ په ټولنه یا له نشت سره برابر دي او که کوم لرو هغه هم د ګوتو په شمېر دي.

کله کله د دریځ پر سر د ځینو ویناوالو خبرو ته چې د دوی د فساد دغندلو، د هېواد جوړونې او ملي احساس خبرې اورم ګوته په غاښ پاتې سم، داسې فکر کووم چې د هېواد رښتیني بچیان همدا دي، دا هېواد دوی ته اړتیا لري او زموږ خوبونه په رښتینولۍ بدلیږي، که موږ یوازې د یو چا په وینا دوکه نه شو او په عملي ژوند کې د دوی کړنې وګورو، د دوی اعمال وګورو نو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو لوی فاسد به دی وي، د پردې تر شا به لوی غدار همدغه وي خو د دریځ پر سر به زموږ د ویده او ناچاره ولس په سترګو کې خاورې شیندي.
د ټولنې په ټولو برخو کې دې ته ورته ډېرې بېلګې لرو ترڅو چې مو له وینا پرته د رښتیني ژوند په ډګر کې د عمل اتل نه وي پېژندلی نو پر هر چا باور مه کوئ، د وینا تر شا له خپل هر مشر سره حساب وکړئ، خپل حق ترې وغواړئ.
یو څوک د خپل استازي او خپل مشر په توګه منل هغه وخت کېږي چې دغه ښاغلی مطالعه شي، دده د ژوند شالید وکتل سي، د ده کورنۍ وپېژندل سي او بیا باور پرې وسي.
له بده مرغه زموږ په ټولنه کې که هوښیار او باتجربه قومي مخور لرو بل پلو مو د پوهې کچه کمه ده عام ولس مو ډېر ژر دوکه کېږي او د خپلې رښتینولۍ او صداقت له مخې په هر چا باور کوي، خو موږ باید تل ځیر و اوسو، اوس هغه پخوانی صداقت او رښتینولي په مشرانو کې نه ده پاتې، یو شاعر په خپل شعر کې څومره ښه ویلي دي:

خدایه څه شول هغه ښکلي ښکلي خلک
په ظاهر او په باطن سپېڅلي خلک

رښتیا هم چې اوس مو مشران هغه مشران نه دي پاتې چې څومره په خوله ځان سپېڅلی ښيي باید په زړه هم دغه شان سپېڅلی وي، د زړه او خولې خبره یې یوه وي.
ددې لپاره چې په ټولنه کې مو روانه بدبختي ختمه سي، تر ټولو لومړی کار زموږ سمه ټاکنه ده، داسې مشران باید وټاکو چې خبرې لږ کوي خو عمل او کارونه یې د دې ټولنې د بېچاره ولس د زخمونو ټکور سي، له ټاکنې وروسته باید مشران هغه ډول کار وکړي چې خلکو باور پرې کړی دی، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت محمد ((ص)) د یو حدیث شریف ژباړه ده: "په تاسې کې هر یو څروونکی دی او له هر یو به د خپلې رمې پوښتنه کیږي"
د پورته حدیث شریف شننې ته که راسو د یو مشر مسؤلیت ترې څرګندیږي، د هر مشر څخه به د خپل مسؤلیت په اړه پوښتنه کیږي، او زموږ په ټولنه کې هر څوک مشر دی، مشري لومړی له خپل کوره پیلیږي، د کور له مشر به د خپلو کور د نورو وګړو په اړه پوښتنه کیږي، دغه راز له مور او پلار به د خپلو اولادونو پوښتنه کیږي او...
نو راځئ چې د ښه راتلونکي لپاره په خپله ټاکنه کې ښه ځیر و اوسو، یوازې په ویناو دو که نه شو بلکې د یو شخص عملي ژوند ته هم سر ورښکاره کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هلمند کې د معاصر ادب مخکښ

محمد اسماعیل شریعتیار د خلیفه ملا قطب الدین زوی، د دین محمد لمسی، په ختهٔ علیزی په ۱۳۵۱ل کې زېږېدلی دی.
تر څلورم ټولګي یې د لښکرګاه د ذکورو په لېسه کې زده کړې کړي دي، په ۱۳۵۹ل کې یې پاکستان ته د خپلې کورنۍ سره هجرت وکړ او د کویټې په پنجپایي کمپ کې یې هستوګنه غوره کړه، چې تر شپږم ټولګي پورې یې د کمپ د امام ابوحنیفه په ښوونځي کې او بیا په کویټه کې د شهید غلام محمد نیازي، په ثانوي ښوونځي کې تر ۱۱ ټولګي پورې زده کړې ورسولې.
الحاج محمد اسماعیل شریعتیار دولسم ټولګی په ۱۳۸۱ ل کې د هلمند د لښکرګاه ښار د ذکورو په لېسه کې پای ته رسولی دی.
ښاغلي شریعتیار له دې وروسته د ژورنالېزم په برخه کې ۱۲ بېلابېل کورسونه ولوستل، د کلید، بګړۍ او شملې مجلې سره همکار هم پاتې سو.
نوموړی په هلمند کې د بست فرهنګي ټولنې له بنسټګرو شمېرل کېږي چې بیا یې وروسته د هلمند ادبي بهیر رامنځته کړ.
ښاغلی شریعتیار اوس مهال د هلمند مدني ټولنې د فرهنګي چارو د کمیسون مسؤل دی.
محمد اسماعیل شریعتیار چې په هلمند کې د ادب په ډګر کې سرلاری بلل کېږي، بېلابېل خپرنیز کتابونه یې لیکلي دي، پنځونې او ژباړې یې کړې دي.
شریعتیار صیب په (( هلمند کې ټوکیدلي ګلونه )) په نوم شعري ټولګه کې د خپل زړه خبرې وپنځولې، د ((زوړ افق او نوې رڼا )) باندې د تصوف پر عالمانو پراته ګردونه وڅنډل، د ((تصوفي لاربښود )) په ترڅ کې یې د دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

علم په اړه د خلکو شکونه لیرې کړل او د ((مثبت قدم پر اصله لار)) یې تصوف نور هم روښانه کړ.
په هلمند کې دغه د تصوف څېړونکي یوازې پر شعر او تصوف بسنه ونه کړه بلکې خپل مینوال یې د ((هلمند پوله پر پوله)) وګرځول.
الحاج محمد اسماعیل شریعتیار په هلمند کې د اوسنیو ډېرو شاعرانو او خبریالانو استاد او لارښود پاتې شوی دی، د بست فرهنګي ټولنې له هغه مخکښانو څخه یو دی چې، ډېرو شاعرانو ته یې د شعر پر نازکه لار د تګ چل ورزده کړ او د خیال تر دنګو غرونو یې تاو راتاو کړل.
دغه راز یې په هلمند کې ځینې خبریالان د خبریالۍ پر باریکیو او د دغه مسلک په ژورو پوه کړل، لارې یې وروښودې او د ژورنالېزم پر اغزن ډګر کې یې د ژوند کولو طریقه ورزده کړه.
ښاغلي شریعتیار یوازې د قلم په سیالۍ کې د سترېیا تر کچې ځغاستې نه دي کړي، بلکې په هلمند کې یې مشاعرو، سمینارونو، غونډو او ادبي بنډارونو ته هم لېښې بډ وهلي دي، لاس په کار سوی دی چې تر اوسه بېلابېلې غونډې او مشاعرې ترتیبوي، تازه ټوکیدلي ګلان او د هلمند نور شاعران او لیکوال پرې راټول وي او ان په هر ادبي مجلس کې یې بې پوښتنې نه پاتې کیږي.
ښاغلی محمد اسماعیل شریعتیار چې له تحقیق سره بې ساري مینه لري، ډېری وخت پر څېړنه بوخت وي، چې د همدې فن سره د لېونۍ مینې له امله یې کتاب پلورنځی جوړ کړی دی، چې له یوې خوا پرې د خپل تحقیق تنده ماتوي او بل پلو خلکو ته د همدغه لارې کتابونه ورکوي، د کتاب پر ارزښت یې پوه کوي او د مطالعې د حوصلې لبوالتیا یې ډېره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه له شریعتیار صیب سره له ډېره وخته پېژنم، چې یوه شېبه ورسره څوک کښېني نو پرته له ادبي او علمي خبرو به ترې بل څه وانوري، ډېر خوږ انسان دی. پر خپل کلتور او ژبه ټینګ ولاړ دی.
په ادبي او علمي خبرو کې د سیمې په کچه خبرې نه کوي، بلکې د داسې خبرې پلوي کوي چې د ټول هېواد په کچه وي، د ژبني او لهجوي تعاصباتو سخت مخالف دی.
شریعتیار درونډ او سنګین انسان دی، همېشه یې د پښتنو ستر ویاړ بګړۍ پر سر وي، اوږدې جامې کوي او توره اوږده ږیره لري.
ښاغلی شریعتیار دیني زده کړې هم کړي دي، ملا دی، فقه یې لوستې ده او پر دلایلو کې دومره تکړه دی چې په ډېر لږ وخت کې مخاطب قانع کوي.
په هلمند کې د ادب دغه مخکښ او سرلاري تازه یو کتاب ژباړلی دی چې دا مهال تر چاپ لاندې دی او په نږدې ورځو کې به د لوستوالو تر لاسو ورسیږي.
شریعتیار صیب داسې اثار هم لري چې چاپ ته لارې څاري:
حجت السالکین (پښتو ژباړه)
عقیدوي مسایل
د زمینداور د سلطاني کور تاریخچه.
په پای کې الحاج محمد اسماعیل شریعتیار ته اوږد اوخوشاله ژوند غواړم او د نوموړي د عالمانه فکر د خپرېدو هیله مند یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د یوویشتمې پېړۍ څلور مخکښ شاعران



د نړۍ له پیدا ایښنت سره سم چې کله چې د انکشافاتو او پرمختک خبره کیږي په هغو کې د ساینس د پرمختګ سره چې په ټولنه کې د انساني ژوند د روغتیا درملنه کوي همدا شان شاعر بیا د انساني ټولنې روحاني علاج کوي.

د شعر او شاعرۍ په اړه بېلا بېلې خبرې کیږي او لا به هم وسي. ځینې خلک داسې خبرې کوي چې شاعر یوازې خیالي خبرې کوي او شاعري کومه مانا نه لري، نه داسې نه ده شاعر روح پالي، روزنه یې کوي، ټولنې ته خپل عیبونه ور په ګوته کوي، ژبې ته پرمختګ ورکوي او ژوندۍ یې ساتي.

شاعر په خدای ج او ښکلا مئین دی او ټول کار یې له ښکلاګانو سره وي، خو دا هم منل سوې خبره ده چې شاعر په یوه ټولنه کې ژوند کوي او خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول مواد له ټولنې اخلي او بېرته يې ټولنې ته ورکوي، دا چې له تېرو څو لسيزو راهيسې زموږ په ټولنه کې جګړه روانه ده، نو مالومه خبره ده چې شاعران مو هم جګړې متاثره کړي دي او د شعر ډېره منځپانګه يې همدا جګړه ده.
شاعران په هره زمانه کې ډېر وي، خو هغه څوک چې ښه شعر ليکي هغه د ګوتو په شمېر وي.
د شعر ټاکنه داسې ده لکه مېوه، طبعاً انسانان بېلابېلې مېوې خوښوي، شعر هم داسې دی، چاته يو ډول شعر خوند ورکړي، چاته بل ډول، خو دا بيا په هنري ذوق پورې اړه لري، کره کتونکي وايي، هرڅومره چې د يو لوستونکي هنري ذوق ډېر وي، په هماغه اندازه ژر په شعر پوهېدلی سي، خو د چا چې ذوق کم وي، ښايي په ډېری شعرونو ونه پوهېږي او بل ډول مانا ترې واخلي، چې همدغه کار د ډېری شاعرانو د شعرونو په وړاندې د خلکو پراخ غبرګونونه هم راپارولي دي.
شاعري پخپله خبرې دي خو د زړه خبري ځکه فلسفه له دماغ او شعر له زړه رښا اخلي، او په ډېر لوی هنر سره کيږي، چې څومره د يو شاعر هنري ذوق پياوړی وي، هومره يې شعر هم پياوړی وي او ښه زړه راکښون لري، جذبه، د وطن مينه، د ولس راوېښوونه، الهامي خبرې او نور ډېر څه پکې وي.پښتو ادب په خپلو بېلابېلو دورو کې لوی لوی عالمان، نثر ليکونکي او شاعران روزلي دي، کار يې کړی دی او همدا وجه ده چې د پښتو ژبې کچکول تر دې دمه له ښکلو مرغلرو ډک دی.
زه يې يوازې د معاصرې دورې په څو مخکښو شاعرانو خبرې کووم، د هر يو د شعر د چينې بهانده ځړوبيو ته به څو شېبې تم سو او له پراخې شاعرۍ به يې لږ خواږه راواخلو.که څه هم د پښتو ادب معاصره دوره د نورو دورو په پرتله له هره پلوه بريالۍ ده، په دغه دوره کې نثر ته تر يوه بريده کار وسو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړې وسوې او حتی د ګڼ شمېر شاعرانو په لرلو سره پښتو شعر ډېر پیاوړی سو.
لکه مخکې چې مو وویل: شاعران ډېر دي خو هغه څوک چې ښه شعر لیکي هغه کم دی، معاصره دوره کې هم که موږ شاعران ډېر لرو، خو سم او نوښتګر شاعران چې هر یو یې جلا سبک لري کم دی، چې له ډلې یې زه ځلورو مخکښو شاعرانو پر هنري ځمکه لنډ مزل کووم، هېله ده له هنري کروندې به یې تاسو هم یو څه حاصل واخلئ.هغه شاعر چې په معاصره دوره کې د خپل سبک خاوند دی او پښتو ژبې ته یې ښکلي، نوښتګر او تل پاتې شعرونه لیکلي (عبدالباري جهاني) دی.
ښاغلی عبدالباري جهاني د ارواښاد حاجي عبدالاحمد لودین زوی دی چې د کندهار ښار د بامیزو په کوڅه کې زېږېدلی دی. د کندهار په میرویس نیکه لیسه کې یې زده کړې کړي او تر هغه وروسته په (۱۳۵۲ش) کال د کابل پوهنتون له بشري علومو او ادبیاتو پوهنځي څخه فارغ شوی دی، چې تر ننه پورې ژوندی دی او د خپل ژوند په بېلابېلو مودو کې یې په هېواد کې دننه او بهر بېلابېلې دندې ترسره کړې دي او ګڼ شمېر پښتو اثار یې لیکلي او ژباړلي دي.
ښاغلي جهاني صاحب پښتو شعر کې دمثنوي په برخه کې ډېر کار کړی دی، چې سوچه د ولس په ژبه یې پخواني نکلونه په منثوي فورم کې وړاندې کړي دي، چې ډېری مشاعرو کې ورته خلک په ځیر غوږ وي او له جهاني صاحب څخه د بېلابېلو نکلونو د ویلو غوښتنې کوي.په ډېری مثنوي ګانو کې یې ددې ټولنې رښتینی انځور هم وړاندې کړی دی، زه به یې دلته د بېلګې په ډول یوه منثوي را واخلم:

نه ځان مرګی سو خبر په جنتونو
نه راوړي چا کیسې د کوثرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه د حورو چا راوړي دي خبري
نه په غاړه يې ليدلي مرغلري
مولوي ورته ليدلي دي خوبونه
سپيني حوري د ياقوتو سره تختونه
دې وطن کي دي جګړې د پيريانانو
د جنت او د دوږخ د شيطانانو
له يوې چينې اوبه ورته رسيږي
د يوه بادار په کلي کي لوييږي

پورته بيتونه چې د يوې اوږدې منثوي يوه برخه ده، زموږ د اوسنۍ ټولنې عکاسي ده، جنګ، ځانمرګی، خور، ملا، دوږخ، شيطان او نور هغه نومونه دي چې موږ او تاسو په ربښتيني ژوند کې ورسره بوخت يو، ښايي **۵۰** کاله مخکې به چا دلته ځانمرګی نه پېژانده خو اوس زموږ ماشومان هم په دې خبر دي چې ځانمرګی څه شی دی، نو دغه موضوع په خورا ښکلې بڼه جهاني صاحب په دغه مثنوي کې را اخيستې او دغه ګونګ تصويره يې پرده پورته کړې ده.

لکه مخکې چې مو وويل، جهاني صاحب د مثنوي په برخه کې ډېر کار کړی دی او که ووايو زموږ د ټولنې هره موضوع يې په دغه فورم کې را اخيستې مبالغه به نه وي، خو ددې ترڅنګ يې د شعر په نورو بېلابېلو فورمونو کې هم کار کړی دی.جهاني صاحب چې په مثنوي ليکلو کې څومره بريالی دی، ترڅنګ يې غزل هم قوي دی او ځانله سبک لري، چې اوس ډېری شاعران د نوموړي پر سبک روان دي.

جهاني صاحب په خپل يو غزل کې د پښتون قوم په استازيتوب وايي چې موږ پوهېږو، خپل تګلوری پېژنو خو نوره نړۍ مو ورته نه پرېږدي، هغه ښه په ډاګه دا خبره کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ که مي کعبې که بتخانې ته اړولی دی
ما د خپل جانان د کوڅې لوری پیژندلی دی
شیخه چي په شک مي درته وکتل معذور یمه
ما دي د کوثر په نوم د زهرو جام چښلی دی
نن دي جهاني لکه پانوس لمبه لمبه وینم
بیا دي څه الهام د زړه په ښار کي اورېدلی دی

ښاغلي عبدالباري جهاني هر ډول شاعري کړې ده او په غزل کې يې هم هر ډول موضوعات راوړي دي، ځينې غزلې يې هېله ورکوونکې دي، د خپلې ټولنې لپاره زيري لري او هر عاشق ته د خپلې معشوقې د وصال او رسېدو خبر ورکوي او دغه توري تياري چې زموږ ټولنه پکې ايساره ده، د سپين سهار او رڼاګانو په راتلو سره ددې د ختمېدو زېری ورکوي خپله هم هېله من دی او نورو ته هم هېلې ورکوي:

تیارو د بیلتانه ته به مي بیرته رڼا راسي
د اوښکو ترګریوانه به مي خپله لیلا راسي
ازل مي دي په وینو کي نغمې راته کرلي
مطربه چي رباب در سره وینم نڅا راسي

که څه هم ښاغلی جهاني صاحب خلکو ته هېلې، زيري او ډاډ ورکوي، خو بل پلو د ټولنې يوه قشر ته خبر داری هم ورکوي او دا خبر داری په دې مانا چې لاس په کار سي، بيده پاتې نه سي او ټولنې ته کار وکړي، خپله يوه مثنوي چې شاعرانو ته يې ليکلې په يوه برخه کې د اوسنيو حالاتو څومره روڼ تصوير وړاندې کړی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ستا د ابا مینه تالا سوې
چه تندي کي دي سجدي ورته ساتلې
د ګلونو پر غوندۍ اورونه اوري
وږمه ځي تر ارغوانه پښه نیولي
پر کورورنو د بلا ساه ده ختلي
له بانو تر ګریوانه د اوښکو کوردی
له زلمو شونډو موسکا ده کوچیدلي
پر اوږو د اوښکو ووته له ښاره
د خندا جنازه ولاړه غم لړلي

وايي د شعر مانا د شاعر سره وي، خو جهاني صاحب د ولس پر ژبه دومره عام فهمه شعرونه لیکلي چې هر پښتون لوستوال پرې پوهېږي او د همدې ولس د زړونو خبرې دي.جهاني صاحب لوی شاعر دی، په هنر يې ډېرې لیکنې سوي دي او لا به هم وسي، خو د هغه د شعر په هر بیت یو کتاب لیکل کېدلی سي، خو دا زموږ د ځوانانو دنده ده چې د جهاني صاحب په څېر د مخکښو او سرلارو شاعرانو بیتونه وشني، پېغامونه يې وسپړل سي او ټولنې ته يې وړاندې سي، خو دا هر څه په یوه تن نا ممکن دي، ما په همدې پلمه د ځینو شاعرانو د هنر په اړه د څه لیکلو لپاره په دې خاطر د څه ویلو تکل وکړ چې نور ځوانان دغه برخې ته متوجه سي په اخر کي ویلای سو چې د ښاغلي جهاني شعرونو کي بیتونه ناڅي او په شور وي.

د پښتو معاصرې دورې بل لوی او مخکښ شاعر ښاغلی( درویش درانی ) دی.

درویش درانی که څه هم په سویلي پښتونخوا کې زېږېدلی دی، خو په اصل کې د افغانستان د کندهار ولایت د ارغستان ولسوالۍ څخه یې کورنۍ هلته کډه شوې او همهلته اوسېدلې ده.درویش درانی یو له هغو شاعرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه دی چې د افغانستان وروستۍ غمیزه یې په پوره هنر سره انځور کړې ده.

درویش درانی چې په انګلیسي ژبه کې ماسټري لري د پښتو د غزل ناوې یې په ښېلا ښېلو نوښتونو داسې پوښلې ده چې د اوسنۍ زماني شاعران ورته لاهم ګوته په غاښ دي.درویش درانی د شعر په ټولو تخنیکونو پوهېږي، وزن پوهنه کې ژوره مطالعه لري، چې همدغه برکت دی چې ښه غزل لیکي، دده ځیني غزلونه د پښتو ژبې شهکارونه ګڼل سوي دي.دا چې ښاغلی درویش درانی هم زموږ په اوسنۍ ټولنه کې ژوند کوي نو حتمي خبره ده چې دده پر هنر به هم اوسنیو حالاتو ژوره اغېزه کړې وي، نو ځکه په خپل یوه غزل کې دې پایلې ته رسیږي چې نور ستړي یو، راځئ چې سوله وکړو:

منزل لیري، لاره ورانه زه هم ستړی ته هم ستړی
څه دي خوښه ده ارمانه زه هم ستړی ته هم ستړی
نه مې ته شې هېرولای، نه زما له خیاله وزې
ځه پخلا به شو جانانه زه هم ستړی ته هم ستړی

د وروستي بیت دوهمه نیم بیتي یې د سولې لپاره لویه بلنه ده، خپل دښمن ته جانان ویل د شعر په نازکه ژبه، نو ولې به سوله نه کوي.دغه راز نني عصر کې انسان دومره ازاد نه دی لکه پخوا چې و، بوختیاوې ډېرې دي، کارونه ډېر سول، نږدې هر وګړی د مسؤلیت احساس کوي او یا د خپل ژوند پرمخ بېولو لپاره مسؤلیت ورترغاړې دی او زموږ د ټولنې خلک بیا خدایي په زندان کې ژوند کوي، دغه خبره ښاغلي درویش دراني په ډېر ښکلي انداز د خپل غزل په یو بیت کې راټوله کړې ده:

ته خو بهار غوندي ازاد یې کله کله راځه
زه لکه ونه یم تقدیر په زولنو تړلی

بله خبره دا چې پښتو ژبه کې یو متل وایي: «ښه مه کوه بد نسته»

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسني عصر کې چې چاته ښه لار ورښيي، که چاته وايي چې دا کار درته تاوان کوي، که داسې وکړې نو ګټه به دې ډېره وي، دستي درته وايي ته په دې خبره کې خپل هدف لرې، بس نو مشکل به درته جوړ وي، چاته سمه لار هم نه سې ښوولی، همدغه خبره ښاغلي دروېش دراني په خپل يو بيت کې راخيستې ده، چې هم وطن سلامت غواړي او هم سر:

رښتيا هم وايم، خوشالي د ملت هم غواړمه
عجب ساده يمه لا سر سلامت هم غواړمه
که ستوری نه يم د اسمان تمنا هم نه کوم
که يم ګلاب نو بيا د خاورو قربت هم غواړمه

نن سبا که دې رښتيا ويل، د دراني صاحب خبره سر به دې سلامت نه وي.په دې ټولنه، دې هېواد او دې خاوره چې څوک خوا بدوي او په دې درد بدلي ولس يې زړه خوږېږي نو هغه به خود خدای ج ته لاسونه لپه کوي او د جنګ د بندېدو غوښتنه به ترې کوي.ښاغلي دروېش دراني غزل ډېر ژور خو په ډېر ساده انداز کي وړاندي کوي دی د خپل غزل په لاندې دوه بيتونو کې په څومره ښه انداز دغه غوښتنه کړې ده، لومړی بيت يې کې يې له خدايه دغه جګړه وروستۍ جګړه غوښتې ده، ورپسې بيت کې يې د ټولنې خلکو ته هم د جګړې د بندېدو نسخه ښوولې ده، او دا يې ورته ويلي دي که يو والی راسي، ټول په يوه خوله او يو لاس سو نو جګړه به ارو مرو زموږ له وطنه کډه کوي:

چي بيا نه توره پورته سي نه سر په وينو رنګ سي
باداره دغه جنګ دي دوطن اخري جنګ سي
چي زړونه سره يو کړو او لاسونه سره ورکړو
دا کاڼي به لعلونه سي دا بوټي به لونګ سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

درویش د پښتو ژبې هغه نوښتګر شاعر دی، چې ځانله سبک او لار لري، نوموړی سره له دې چې پښتو ژبه او ادبیاتو کې ژوره مطالعه لري ترڅنګ یې نړیوال ادبیات هم مطالعه کړي دي، پوهان وایي څومره چې مطالعه ډېره وي او څومره چې لیکل ډېر وي په هماغه اندازه لیکوال او شاعر تکړه وي او نوي نوي شیان لیکي، د ښاغلي درویش په هنر که هر څومره لیکل وسي، بیا به هم بس نه وي، ډېر څه پرې لیکل سوي دي، خو ما هم هغه د چا خبره له خپلې زاویې ورته وکتل، ډېرې خبرې مې زړه کې دي، خو که هر څومره یې ولیکم، بیا هم نه بسیږي، ځوانانو شاعرانو ته د نوموړي د شعرونو او هنر د لوستلو بلنه ورکووم او هیله کووم چې د نوموړي په هنر خبرې وکړي او پیغامونه یې راوسپړي.

د معاصرې دورې په مخکښو شاعرانو کې بل لوی شاعر (رحمت شاه سائل) دی، رحمت شاه "سائل" د امین ګل زوی دی چې په ۱۳۲۸ هـ ل کال د پېښور د ملاکنډ ایجنسۍ د درګی د سیمې د ورتیر په نوم کلي کې زېږېدلی دی. زده کړه یې تر څلورم ټولګي پورې کړې، خو په لیک لوست ډېر ښه پوهیږي. رحمت شاه "سائل" د برې پښتونخوا یو پیاوړی شاعر دی چې د شعرونو ګڼ شمېر ټولګې یې خپرې سوي. د ده شعرونه د ګڼ شمېر سندرغاړو لخوا وییل سوي دي.
سایل صاحب یو (انقلابي) شاعر دی، پښتو او پښتونولۍ ته یې ډېر څه لیکلي دي، په پښتو، پښتونولۍ او پښتونخوا مئین دی، د پښتو د مینې لپاره یې لاندې بیتونه ښه ښکارندویي کوي:

زما په دواړو اوږو ناستو پرښتو ولیکئ
زما په سر که څه لیکئ نو په پښتو ولیکئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاکې مينې ګناه کارو چې منکر پرې نشئ
د رقيبانو الزامونه په تندو وليکئ

د يو ليکوال په کتاب کې مې د سايل صيب د شعرونو په اړه ولوستل چې د نوموړي شعرونه له شوخۍ ډک چوي، اوس چې هر وخت د سايل صيب شعرونه لولم نو همدغه خبره مې فکر ته راسي.ګودر، منګی، مينه، ماذيګر او نور زموږ د پښتني ټولنې سمبولونه دي، دا چې سايل صاحب د مينې شاعر دی، د غزل شوخي يې ډېره ده، په ډېر ښکلي انداز ګودرونه، مازيګري او تنهايي په خپلو شعرونو کې انځوروي:

سايل صاحب وايي:

په څومره خلکو کې تنها وي سړی
چې زړه لري او د زړه سر نه لري
په خوله خو اوس هم خلک مينې کوي
په شونډو پاړ په زړه پرهر نه لري
مازديګری په زړه د ننه ژاړي
پېغلې منګی لري ګودر نه لري

وايي هغه عالم چې علم يې کړی وي او نور ته يې ګټه نه رسيږي د هغه خره په څېر دی چې کتابونه پرې بار وي او څوک ګټه ترې نه سي اخيستلی، ښاغلی سايل دغه خبره په هنري انداز کړې ده، له هغه ښايست يې پنا غوښتې ده چې پرهرونه نه سي ټکورولی، چې يو څوک د مظلوم د درد دوا کېدلی نه سي نو د هغه ښايست او ښه والی څه مانا؟

سايل صاحب په دې اړه وايي:

چې په خندا ورته د خوږ زړه پرهرونه نشي
چېرې دې هم ستا د ښايست غوټۍ ګلونه نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې ښاغلی رحمت شاه سایل د مینې شاعر دی، شوخه او انقلابي شاعري کوي، په شعرونو کې یې شعریت هم خوندي ساتلی دی او د ځانګړي سبک خاوند دی، په لاندې بیتونو کې یې هنري ښکلا ځومره ښه ځای کړې ده:

ما درله د ګل جنازه نه راوړه
راغلم خو په لاس کې مې لمبه راوړه

پاڅه خوبولې سترګې پرانیزه
ما درله د ورځ رڼا په شپه راوړه

نو ښاغلی رحمت شاه سایل هم د پښتو ژبې د سرلارو او مخکښو شاعرانو په کتار کې د ځانګړي سبک څښتن دی، چې د هېواد په لر او بر کې یې ټول پښتانه پېژني، د نوموړي د شعر ښاپېرۍ دې ژوندۍ وي او قلم دې یې تاند وي.

په خپل وار سره د خپلو ادب په معاصره دوره کې د راز او ناز شاعر حاجي (پیرمحمد کاروان) دی،

حاجي پیرمحمد کاروان د حاجي نورمحمد زوی، د افغانستان د خوست ولایت د تڼیو ولسوالۍ اوسېدونکی دی. ښاغلي کاروان: لومړنۍ زدکړې تر دوولسم ټولګي پورې په خوست کې کړې دي او په ماشومتوب کې د قرآن شریف او یوځو نورو دیني درسونو کتابونه هم لکه خلاصه، منیه، او ځینې نور ابتدایي دیني کتابونه هم لوستي دي ښاغلي کاروان خپلې لوړې زده کړې د کابل پوهنتون د شریعاتو پوهنځي کې سرته رسولي دي.ښاغلی کاروان چې د پښتو ازاد شعر سرلاری هم بلل کیږي، ترڅنګ یې په ښېل انداز ښکلي نظمونه لیکلي او غزلونه یې خو یې په داسې لهجه او انداز پنځولي دي چې د کاڼو په زړونو کې هم اوبه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی کاروان په غزل دومره ډېر مئین دی چې ځان د غزل لېونی بولي او وايي:

دي ملنګ دي لېوني کاروان ته ګوره
په غزل پسې له کوره راوتلی

دغه راز ښاغلی کاروان پښتو او پښتونولۍ ته دومره ژمن دی چې په هیڅ ډول اغیار ته سر نه ټېټوي او مخامخ خپل قاتل ته هم خاندي، په لاندې څو بیتونو کې يې د پښتني ښکلا څومره ښه درک لګولی سو:

د غرونو خلک یو کارونه د بازار نه کوو
شډل پډل ګرځو هیڅ ډول او سینګار نه کوو
د سرقاتل ته هم سلام کوو سلام يې اخلو
ولو يې مخامخ د شا نه پرې ګوذار نه کوو

کاروان صاحب ملنګ او صوفي شاعر دی، دی خپله وايي په کوچنیوالي کې د ښاپېریو او دېوانو کیسو ډېر اغېز پرې کړی، چې همدغه اغېز يې اوس په شعر او هنر هم پروت دی.ستار، رباب، ملنګ، پاچا، ځانې هغه لغاتونه دي چې کاروان صاحب يې په خپلو شعرونو کې ډېر راوړي، دغه راز کاروان صاحب ځانګړی سبک او بېلابېل سنبولونه هم لري، سندریزې چینې، چنارونه، ګودرونه، نښترونه، کلی او نور هغه څه دي چې د نوموړي په شاعرۍ کې له ورایه ښکاري.د کاروان صاحب د شعر ژبه ډېره خوږه ده، په هر چا اغېز کوي او خوند ورکوي، نوموړي ډېرو باریکو مسایلو ته هم پام کړی دی او تر ډېره يې نازکخیالي هم کړې ده.کاروان صاحب هم له حالاتو اغېزمن دی، خو دا چې هرې ژړا پسې خندا او هر ماښام پسې سبا ضرور راځي، نو کاروان صاحب هم خپلې ټولنې ته زېری ورکوي او د داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت د راتلو خبر ورکوي چې له ظالمو حکمرانانو به خلک خلاص وي او ارام ژوند به لري.

وخت به راځي چې غاښ د زهرو به ښامار نه لري
منصور به ګرځي مستانه ملا به دار نه لري

دغه راز د اوسنیو حالاتو بشپړ انځور یې په لاندې بیت کې ښه په ډاګه کېږي:

مارغان دې راشي زموږ لپو کې دې ځالې وکړي
غر مو نښتر نه لري ، کلې مو چنار نه لري

نږدې هر وګړی د خپل تېر ژوند او په ځانګړي ډول د خپل ماشومتوب ارمان کوي او دا ارمان حتماً په زړه کې ورګرځي چې کاشکې زه یو وار ماشوم سوی وای، د خپلې مور په غېږ کې مې سر ایښی وای، په کوڅه کې مو د نورو ماشومانو سره شوخي او جنګ کړی وای، خپلې مورجانې غصه راته کړې وای او وروسته یې پر سر لاس راتېر کړی وای او بې غمه ژوند مې لرلی، کاروان صاحب ځینې داسې ښکلي او شهکار غزلونه هم لیکلي دي چې سړی خپل ماشومتوب ته وروليي، مور ته یې لیکل سوي لاندې بیتونه څومره ښکلي لري او هر لوستونکي ته خپله خوږه مور مخته ودروي:

موري موري تږی یم په لپه کې او به راکړه
زړه دې رانه وړی دی بې زړه یمه لږ زړه راکړه

بیا درته ماشوم شومه نکریزې مې په لاس کېږده
خوله زما ترخه ده هله یو موټی خواږه راکړه

ما د ژوند په لوبه کې ګربوان تر لمن وشلاوه
تار په ستن کې واچوه تنی د ګربوانه راکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښاغلي پیر محمد کاروان د شعري چینې او به دومره سپنې، رڼې او خوږې دي، چې هیڅوک یې پر څښلو نه مړیږي، د شعرونو لوستل یې لوستونکي ته نوره تلوسه هم ورکوي، نو مالومه خبره ده چې پر شعرونو یې لیکل او خبرې کول ډېر وخت غواړي، ما د خپل کمزوري فکر له مخې د دوی ځینې بیتونه وشنل او د خپل فکر له مخې مې د دوی پېغام وسپړه، د دغه مخکښو او سرلارو شاعرانو هر بیت شاهکار دی، په هر بیت یې یو یو کتاب خبرې کیږي، خو نور کار به ځوانانو شاعرانو او څېړونکو ته پرېږدو چې په د دوی په بېلابېلو بیتونو کې وګرځي، د ټولنې لپاره ترې هر ډول خبرې راوباسي او خپرې یې سي.ځوانو شاعرانو ته مې لارښوونه دا ده چې د دغه څلورو نامتو او نورو شاعرانو شعرونه دې په دقت ولولي، شعر لیکل او شعر ویل دې ترې زده کړي، د شعر په تخنیکونو دې ځان پوه کړي ترڅو دوی هم په واقعي او رښتیني ډول شعر ولیکي او د شعر د لیکلو حق ادا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سبا پلاران

د يوې ټولنې راتلونکې له ماشومانو سره تړلې دی، څومره چې په يوه ټولنه کې د ماشومانو سالمه او پوره روزنه وسي، نو په همدې ډول به د هغه هېواد راتلونکې ښه وي.
په دې کې هيڅ شک نسته چې؛ په ماشومانو پورې د سبا راتلونکې تړلې دی، د اسلام په مبارک دين کې هم ماشومانو ته ستر ارزښت ورکول سوی دی. زموږ خوږ پيغمبر حضرت محمد ص له ماشومانو سره ډېره مينه کوله، هغه ص به هر وخت د ماشومانو پر سر لاس تېراوه، د حضرت محمد ص لمسيان حسن حسين ورباندې دومره ګران و چې ده ص به لمونځ کاوه نو لمسيان به يې پر اوږو ناست و، دغه راز ځينو عالمانو ماشومانو ته د ناوکيو(نانځکو ) جواز هم ورکړی دی، دوی وايي چې په دې کار سره ماشومان کولی سي د سبا لپاره د خپل ټولنيز ژوند زده کړه وکړي.
د اسلام مبارک دين سره له دې چې د انسان د ژوند بېلابېل اړخونه يې څېړلي دي، ګټورې لارښوونې پکې سته، د ماشوم روزنې او د ماشوم حقوقو په اړه يې هم ډېر څه بيان کړي دي.
د ماشوم له پيدا کېدو سره سم د مور او پلار لخوا سم او نيک نوم ټاکل، په اوومه ورځ يې سر خرېل او صدقه کول، د ماشوم د نفقې او زده کړې لپاره د مور او پلار جدي پاملرنه او دې ته ورته نور ډېر مسايل چې بايد يوه کورنۍ يې ماشوم ته په پام کې ونيسي د اسلام سپېڅلي دين په ډاګه بيان کړي دي.
اوس به خپلې ټولنې ته راسو چې موږ د ماشوم لپاره څه کړي دي، د دوی حقوق مو څومره پر ځای کړي دي؟
يوه لويه ستونزه چې زموږ هېواد او زموږ د ټولنې ماشومان ورسره مخ دي شاقه کارونه دي، د شاقه کارونو لوی لامل دا دی چې ډېرې ماشومانو په تېرو جګړو کې يا خپل پلار، يا ورور او يا هم د کور سرپرستان له لاسه ورکړي دي نو دوی مجبور دي چې يا هم په لارو کوڅو او بازارونو کې فقر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي او یا هم شاقه کارونه وکړي، دلته د یوې خبرې یادول اړین بولم چې زموږ په ټولنه کې ملي سوداګر او یا هم هغه خلک چې اقتصاد یې برابر دی هم بې وسه ماشومانو ته پاملرنه نه ده کړې او دا د دوی مسؤلیت دی چې بې د بې وسه ماشومانو لاس نیوی وکړي او دوی ته د ښه ژوند کولو زمینه برابره کړي.

زموږ په ټولنه کې ماشومان له ډېرو ستونزو سره مخ دي، یوازې دا نه چې د ماشومانو ډېری برخه مو له زده کړو محرومه ده بلکې دوی په اروایي ناروغیو هم اخته دي، بل پلو په تېر حکومت کې زموږ په هېواد کې د ماشومانو د ودې او دوی ته د پاملرنې په نوم ځینې پروګرامونه جوړ سول، پروژې پلې سوې خو دا هر څه تش په نامه او نمایش لپاره و. ته راسه زموږ بازارونه وګوره سلګونه ماشومان د ډوډۍ پیدا کولو لپاره یا فقر کوي او یا هم زړې ګونۍ ورسره وي او پلاسټیکان ټولوي، د پروژو هغه مسؤلین چې د ماشومانو د ودې لپاره یې میلینونه افغانۍ مصرف کړې د کومو ماشومانو لپاره یې مصرف کړې؟ کوم ماشوم ته یې د ژوند اسانتیاوې برابرې کړې دي؟

که زموږ حکومتونو ماشوم ته پاملرنه نه ده کړې، موسیساتو تش په نوم پروژې پلې کړې، نړیوالې ټولنې په دقیق ډول مرسته ونه کړه، بل پلو زموږ لیکوالو هم د ماشوم حق نه دی ادا کړی.

په پښتو ادب کې چې لویه تشه لیدل کیږي د ماشوم ادبیات دي، څو د ګوتو په شمار لیکوالو د خپل توان او وس سره سم ځینې کتابګوټي د ماشومانو لپاره لیکلي دي نور نو زموږ په هېواد کې د ماشومانو دنیاګۍ ورانه ده.

ماشومان مو دومره بې وسه دي چې هر وخت یې موږ او تاسې د جنسي تیري شاهدان یو، په جنګ کې وژل کیږي، کورنیو کې وهل کیږي، په زوره ناوړه او سختو فعالیتونو ته اړ کیږي حتی تر دې پورې ځینو کورنیو چې وس او توان یې هم پوره وي، اقتصاد یې هم ښه وي خو د نه پوهاوي له امله یې ماشومان له زده کړو محرم وي، څو ورځې مخکې د هلمند ګڼ نفوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسوالۍ ګرمسېر ته ولاړم دغه ولسوالۍ شاوخوا ۳۰۰۰۰۰ درې لاکه نفوس لري خو چې د پوهنې له مسؤلینو مو پوښتنه وکړه په دغه لویه ولسوالۍ کې شاوخوا ۹۰۰۰ نهه زره ماشومان ښوونځیو ته ځي، چې دا شمېره ډېره کمه ده، دا زموږ د کورنیو په ځانګړي ډول د مور او پلار نا خبرتیا او نه پوهاوی دی چې په خپلو ماشومانو زده کړه نه کوي، هغه څوک چې ماشومان ښوونځیو ته استوي هم د عادت له مخې یې استوي، پوښتنه یې نه کوي چې دوی څه لولي، هڅونه او تشویق یې نسته.

په وروستیو کې له نړېوالې کمېټې غوښتنه کووم چې په افغانستان کې دې د ماشومانو ژوند ته پاملرنه وکړي، دوی ته دې د زده کړو او د ژوند نورې اسانتیاوې برابرې کړي، په خپل هېواد کې له درنو کورنیو په خاص ډول له مور او پلار چې د خپل ماشوم مسؤلیت ورترغاړې دی د ماشوم اسلامي او ټولنیزې روزنې ته باید جدي پاملرنه وکړي، دیني عالمان او لوستي خلک باید عامه پوهاوی خپور کړي.

راځئ د ټولنې هغه برخه چې د هېواد راتلونکی د دوی په لاسو کې د خپل افغاني، اسلامي او وجداني مسؤلیت له مخې وروزو او خاصه پاملرنه ورته وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د هلمند کوچنی اختر

اخترونه د الله ج هغه ستره تحفه اوخوشحالي ده چې په کال کې دوه ځلې راځي یو کوچنی اختر او بل هم لوی اختر، د اسلام مبارک دین د انسانانو د خوښۍ لپاره دوه اخترونه رامنځ ته کړي دي.
د اختر جوړښت له خوشحالیو څخه دی، په هره سیمه کې بیا په بېلابېل ډول اختر لمانځل کیږي، په افغانستان کې په ډېرو سیمو کې د اختر لمانځل فرق لري، داچې هلمند کې اختر څه ډول لمانځل کیږي، لنډ مزل به پرې وکړو:

اختر ته نږدې ورځې او شپې ګڼه ګوڼه زیاته وي، زیاتره خلک د اختر د خوشالیو لپاره سوداوې کوي.
د اختر په لومړۍ شپه زیاتره ماشومان بېلابېلې لوبې او ساتېرۍ ترسره کوي، لکه: د بابوصاحب لمبه
سورسورانکي، د پټاکیو چاودنه، د اورلګیت د خاشو څخه جوړسوی ټکان او داسې نورې لوبې کوي.

د شپې له لوري ډېری ماشومان د ټوکر څخه جوړ سوی غونډوسکی (توپ) په تیلو وهلي ټوکرونو ته چې سورسورانکې ورته وایي اور اچوي او ځرخوي يې دلته ماشومان خوشحاله کیږي هوا ته يې غورځوي او خوشالۍ کوي.
د اختر په سهار په لویو ښارونو کې خلک د اختر لمانځه ته ځي او هلته یو له بل سره د لمانځه وروسته د اخترمبارکۍ کوي خو په کلیو او بانډو کې چې د اختر لمونځونه نه کیږي نو هلته یوازې د سهار له لمانځه وروسته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا صیب له نصیحت له ختم څخه یو بل په غېږ کې نیسي او د اختر مبارکۍ ورکوي.



خلک د اخترونو په رارسېدو سره خپل ځان لپاره خولۍ، کالي، څپلۍ، پټوان او نور توکي رانیسي، دوی سهار نوې جامې اغوندي چې ډېری جامې یې ښه په وریښمو هم جوړې کړي وي.

له دې وروسته په کلیو کې د هلمند په اکثره سیمو کې خلک د اختر په لومړي سهار وریجې پخوي او مسجدونو ته یې وړي چې د هلمند کې ورته د «اختر کاسه» هم ویل کیږي.
غوښې، د شیدو او غوړیو وریجې، حلوا او چای هم راوړل کیږي، خو ډېری یې وریجې پخې سوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې وروسته بيا يو د بل کوټې (حجرې) يا مېلمه خونو ته ځي او هلته يو له بل سره سترې مشي کوي او دا ورځ په خوښيو او خوشحاليو سره لمانځي او تيروي يې.

ماشومان له خپلو پلرونو د اختر ميلې غواړي د کليو دوکانونو ته ځي، پاپړ، بېسکويټ پلمبټکونه او نور پلاستيکي د لوبو سامانونه رانيسي او دا ورځ په خوښۍ سره داسې لمانځي چې د اختر کالي يې تر ماښامه داسې خيرن کړي وي چې ته وايه بلې ورځې ته به يې نه وي ساتلي.



تنکۍ جينکۍ (نجوني) او تنکي ماشومان د اختر په شپه خپل لاسونه په نکريزو سره کوي مختلفې نقشې پرې کاږي، سهار وختي د لاسونو له پريولولو وروسته هر ماشوم يو بل ته لاسونه ښکاره کوي او بې ساري خوښۍ ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اخترپه دویمه ورځ هر ماشوم او ځوان د اختر مېلو ته ځي چې د کلیو په مهمو ځایونو او یا هم د بازارونو په ځینو ځایونو کې جوړېږي ډېری خلک د مېلو په ورځو کې له خپلو پلرونو پیسې اخلي چې بیا بېلابېل توکي پرې رانیسي، د بایسکل چلونې ترڅنګ زانګو کې زنګېدل، په سماوار یا



هوټلونو کې چای خوړل، میټایي رانیول، هګۍ جنګول چې تر ټولو مهم دود دی ډیری ځوانان دا کارترسره کوي.
اخترونو کې ټول خلک خپلو کورونو ته بېلابېلې وچې مېوې، روغانۍ، پتاسې، کلچې، سره نخود، مایچې او نور شیان راوړي، چې بیا یې هغه خلکو ته کوټو ته راباسي چې د اختر په ځانګړو ورځو کې د دوی مېلمانه کیږي او خپله یې هم خوري.
په پخوانیو وختونو کې اخترونه ښه لمانځل کېدل، خلک به په ورځو ورځو د مېلو لپاره ولسوالیو اوان ولایتوته تلل، د خلکو ترمنځ مینه وه، یووالی و او اوسنۍ بدبختیانې نه وې، خو له تېرو څو کلونو راهیسې چې په هیواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې جنګ جګړې، ورور وژنه ډېره سوې او دا کار ترسره کيږي، خلک ناهيلي سوي او له مجبورۍ يې په ډېرې اختريزو دودونو خاورې اړولي دي. بمي بريدونه، ځان وژونکې حملې او تروريستي يا غلچکي بريدونو ترسره کېدل هغه څه دي چې، د خلکو نه خپل ځان خوښيږي او نه يې هم ماشومان چې ميله ځايونو ته لاړسي او خوشالياني وکړي.
خو دا چې اخترونه همهاغه دي خو وخت بدل سوی، د وخت ببرته راويستو لپاره لاس په کاريدل په کار دي ترڅو اخترونه، خوښۍ او خوشحالۍ مو سره يو سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د هلمند ستوری

عبدالستار ستوري نوم مې اوربدلی و خو لیدلی مې نه و، په لومړي ځل مې ښاغلی ستوری په یو ادبي بانډار کې ولیدی چې رښتیا سي ډېر خوږ راباندې ولګېدی، ستوری لکه څنګه چې یې تخلص ستوری و همدغسې یې د رڼاپلوشې راباندې ولګېدې، ددې پرځای چې دده پر شاعرۍ خبرې وکړم بیا هم غواړم چې دده د شخصیت پر بېلابېلو اړخونو یو څه رڼا واچووم.

د انسان فطرت داسې دی چې کوښښ کوي هرڅوک ځان په ټولنه کې خوږ معرفي کړي ځیني بیا داسې وي چې هر څومره هڅه وکړي د ټولنې منځ ته ځان نه سي رسولای دا هم قدرتي صلاحیت دی چې الله تعالی ج یې چاته ورکوي.

ستوری د خپلې پوهې او شاعرۍ سره - سره دومره ولسي سړی دی چې کله دی پر ستېج خبرې کوي زموږ د ټولنې د لوستو وګړو څخه نیولې بیا تر کرونده ګره پورې ټول ورته غوږ وي ځکه چې دی د ولس په ژبه خبرې کوي، ځکه چې نوموړی یو تکړه ژورنالېست دی، ډېره فصیحه ژبه لري او د خپلې فصیحې ژبې ترڅنګ ډېر رښتیني او هغه تریخ حقیقتونه چې څوک یې نه سي ویلای ستوری یې په ډانګ پېیلي ډول وایي، دا یو حقیقت دی چې د یو پوه، عالم، شاعر، لیکوال اونقاد یواځې په همدې علمیت باندې د ټولنې د درد دوا کېدلای نه سي تر څو په عمل کې ټولنې ته څه وړاندې نه کړي ستوری چې څه لیکي په عمل کې د ټولنې لپاره عملي مبارزه هم پر مخ بیايي، د مبارزې ښه بېلګه یې (هلمند مدني ټولنه) کې مبارزه ده، ستوری د هلمند مدني ټولنې له بنسټګرو څخه دی او هلته یې خپل ځان خپل د ټولنې په وړاندې ثابت کړی دی، د ټولنې پر هرې ناخوالې او درد یې آواز

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته کړی دی او د هر ظالم ، ناروا ، نا اهله ، فاسداو جابر پر خلاف یې خبره کړې ده او د مظلوم لاس نیوی یې کړی دی.
وایي شاعر د ټولنې د نورو اشخاصو سره فرق دادی چې کله څه اوري اوویني یې ډېر ژر د حالاتو څخه متاثره کیږي او د شعر په نامه الفاظ د ملغلرو په ډول سره پیيي ځکه چې دا د شاعر کمال دی، ښاغلي ستوري په غزل کې داسې نوې خبر ې او الفاظ سته چې په ځوانو شاعرانو کې ډېر کم لیدل کیږي، ځانګړنه یې داده چې د ټولنې د حالاتو سره سمه شاعري کوي دا چې دی په یو داسې ټولنه کې اوسیږي چې هر ګړۍ یې دغم، جنازو او ویر خبري کیږي ستوري خپل په شاعرۍ کې دغم اه او د اود دردېدلو اوښکو راز ډېر ښه انځور کړی دی.
ویل کیږي شاعران په زړه ډېر صادقه وي، هر چا باندې باور کوي، ستوری صیب هم داسې دی، ځوک چې ډېر ورباندې ګران وي، د هم هغه له لاسه ورته ستونزه پېښېږي لکه لاندې بیت:

خاونده ! موږ چې زړه دچازړه سره تړلی
هغه بیاراته ماین په یوه پله پوري تړلی

دغه راز د هغه دوه مخو ملایانو څېرې یې هم خپل ولس ته څرګندې کړې دي چې، په خوله یې د اسلام خبرې وي خو په زړه کې یې د اسلامي امت د تباهۍ خبرې ګرځي، نه پوهېږم د ستوري هدف به په لاندې بیت کې د کوم مولانا څخه وي خو ما چې هر څومره فکر وکړه، هغه مولانا فضل الرحمن یادوي چې په افغانستان کې د جهاد فتواوې ورکوي، خو پاکستان کې یې نه ورکوي، راځئ دغه بیت ته یې څو شېبې تم سو:

داستادمولاناخودي خدای دواړي ورخطاکړي
په رنګ باندي حضرت وو نورپه سره پوري تړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستوری کلیوالي شاعر دی او په یوه کلیواله سیمه کې ژوند کوي، دا چې شاعر له ټولنې مواد اخلي او لکه مخکې چې مو یادونه وکړه له ټولنې اغېزمن کیږي نو ستوری صیب هم له کلیوالي ښکلا متاثره دی، په لاندې غزل کې یې په پرلپسې توګه کلیوالي ښکلا ناځي:

لکه مور چې د خپل ناوي لور په سر کې لاري باسي
دا سي ګراني ستا هر نازمي په ځیګر کې لاري باسي
ستا سل خمه دي د ګراني د منګي بلکه وا خلي
چې هر غړپ یې له مستۍ نه په کوثر کې لاري باسي
مورکه سل ځلي خوران یو بې غیرته مو خوښ نه دي
دلته هر ځوان هلمندی دی په سنګر کې لاري باسي
زما د زړه کشمیر له خروښه تاج محل ته لاره وکړه
اوس په سرو سکروټو خوښ دی په مجمر کې لاري باسي

هوښیار خلک تل د یووالي غوښتنه کوي، ځکه یووالي کې قوت وي او کوم ملت چې یو وي نو هغه هیڅ طاقت نه سي ماتولی، د مبارزې ستر سرلاري پاچاخان هم دغه خبره کړې ده چې اوس یې د یو متل بڼه غوره کړې ده، هغه به تل پښتنو ته ویل: «یو کېږو، ګني ورکېږو.»
ښاغلی ستوری هم خپل ولس ته دغه پېغام ورکوي او وایي که سره یو نه سی نو پنجاب به مو په خړ خېبر کې لارې جوړوي او د پښتنو له بې اتفاقۍ به ناوړه ګټه اخلي:

مورې پښتنانه که سره یو نسوو، نو خوار به سو ټول
داتور مخي پنجاپیان مو په خېبر کې لارې باسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عبدالستار ستوري ځيني غزلونه لکه د ستورو ځليږي، لکه څنګه چې پښتانه دوديز خلک دي او د اسلام د سپېڅلي دين وروسته پښتني دودونه داسې دي چې حجاب پرده او حيا پکې ډېره ده، په داسې ټولنه کې چې حجاب او پرده ډېره وي، نو حتماً عاشق او معشوقه چې سره مخامخ کيږي يو له بل به شرميږي او ډېره حيا به کوي.
حمزه بابا دغه مطلب کلونه وړاندې داسې په خپل يو بيت کې راخيستی:

پلو دې له مخ اخلم پښتنې خو دا مې واوره
زمرۍ غوندې به ګورې شرمېدل به پکې نه وي

ښاغلي عبدالستار ستوری هم د دغه شان يو حالت سره مخ کيږي او ښېواکه يې دغه حالت په خپل غزل کې راوړی دی، د غزل نور بيتونه بيا د ټولنې نورې خواوې انځوروي:

چې يار په سترګوو وويني کوچنی سې ستار ستوريه
په سمه ژبه ګونګ سې څنګه شی سې ستار ستوريه.
جالبه دغه نه ده چې ته څوک يې او د چازوی
مهمه داده ياره چی سړی سې ستار ستوريه.

زموږ په ټولنه کې بېلابېل خلک ژوند کوي، داسې يوه ټولنه مو ده چې په نن زمانه کې پکې يو نا څرګنده جګړه روانه ده، ښکېلې خواوې دواړه افغانان دي او دواړه ددې خاورې بچيان دي، ښاغلی عبدالستار ستوری د انساني عاطفې له مخې پر دواړو زړه سيځي او زړه يې درد کوي.
نو موږ ته دا مهمه نه ده چې څوک دی، خو له خپل افغان او خپل هېوادوال ځان قربانوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې وطن د هر طالب او هر عسکر بلا واخلې
ترې وګرځې ترې جار سې ترې لوګی سې ستار ستوریه.

مخکې مو هم یادونه وکړه د ستوري صیب په شاعرۍ کې تر ډېره کلیوالي سنبولونه ښکاري، کټ مټ هغه خبرې کوي چې موږ او تاسو یې په عادي ژوند کې د یو کلیوال له خولې اورو، شین اسمان، سپوږمۍ، ستوري، کېږدۍ، کوچۍ، جګ جګ غرونه، دریاب، کاروان، شپېلۍ، لنګۍ او نور کلیوالي سنبولونه هغه څه دي چې په لاندې بیتو کې مو کلیوالي ښکلا سترګو ته دروي:

زموږ دا شین اسمان بې ستورو دغه ستوري سپوږمۍ غواړي،
کېږدۍ پړ مخي چپه ده کېږدۍ خړه کوچۍ غواړي
پاس د جګو غرو د شانه لمر د سره دریاب په غېږ سو،
، زموږ کاروان یې کړېږي سوره یوه مسته شپېلۍ غواړي
ګراني ته چې مې دا سرراته د نازپه ګوتو رمنځۍ
دا بې باکه هلمندي دی یوه خړه لنګۍ غواړي

ستار ستوری نبغ زموږ د ټولنې شاتګ ته هم ګوته نیسي، خپل ولس ته د هغه خلکو په اړه پېغور ورکوي چې یو وخت زموږ د نیکونو نوکران و، خو زموږ په ټولنه کې د شته ناخوالو، بدبختیو او زموږ د خپل منځي بې لاریو او اختلافاتو هغوی ته دومره جرآت ورکړی چې په ښکاره ډول زموږ په داخلي چارو کې لاس وهنې کوي، هر څه چې یې زړه غواړي کوي او هر څه چې غواړي په زغرده یې غواړي، لاندې بیت:

هغه زموږ د نیکه اس ته چې یې د ختوا خور جوړ کړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هغه تورسیندی اوس ګرځي یوه پیغله کابلۍ غواړي

ښاغلی عبدالستار ستوری، چې د پوهنتون استاد دی، تکړه مبارز دی، سره له دې چې ډله ډله محصلین ترې راتاو وي او د دوی ستونزې هواروي ترڅنګ یې تل هلمند مدني ټولنه کې د هلمند د بېلابېلو ولسوالیو ولسي خلک پرې راغونډ وي او د دوی مشکلات حلوي.
ددې ترڅنګ ستوری صیب یوه تکړه ویاند هم دی، لوی کمال یې دا دی چې په بېلابېلو برخو کې کار کوي، هلمند پوهنتون کې د کرنې پوهنځي کې درس ورکوي، مدني ټولنه کې خدايي خدمتګاري کوي، پښتو ادب باندې غزل لوروي، بست راډیو کې دیني او علمي خپرونې مخته وړي چې راډیويي خپرونې یې هم خورا مینوال لري، ښايي دا هم د ستوري د شخصیت بېلابېل هنرونه وي چې په خپل ځان کې یې روزلي دي او ټول یې پر یو وخت په کار اچولي دي.
که څېرې ښاغلي ستوري فقط هنري ژوند پر مخ وړله نو زه په ډاډ ویلی شم چې نوموړی به د پښتو ژبې په غزل کې داسې ستوري پېیلي وای چې د پښتو ادب اسمان به پرې د تل لپاره ښایسته وای، دا چې نوموړی د دومره بوخت ژوند سره سره کله کله د زړه درد شعر کړي دا یې هم پښتو ژبې ته لوی خدمت دی، ددې ترڅنګ ښاغلي ستوري په پښتو ژبه لسګونه بېلابېلې تحقیقي مقالې هم لیکلي چې په ډېری سمینارونو او غونډو کې یې له خلکو سره شریکې کړي دي.
وروستیو کې ښاغلي ستوري ته ښکلی ژوند غواړم او د پښتو ادب پر اسمان یې د پوهې ستوري راښه غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هلمند کې د قلم اتل او مبارزې سرلاري

زموږ په ټولنه کې ماشاالله اوس لیکوالان بیخي ډېر دي، په هره برخه کې لیکنې کوي او د لیکوالۍ ډګر مو ښه تود دی، خو د کیفیت له مخې که ورته وګورو فقط د ګوتو په شمېر لیکوالان لرو چې لیکنې او لیکوالي یې د دې ټولنې د درد دوا کیږي، نور ټول یا تکراري شیان لیکل کیږي او یا هم داسې څه دي چې دا ټولنه اوس اړتیا نه ورته لري.
په ښه لیکوالۍ کې هم ځینې لیکوالان ښايي له دې امله ښه لیکوالي وکړي چې د ژوند ډېرې تودې سړې یې لیدلي وي، عمر یې ډېر وي او له هر پلوه تجربه لري.
خو ځینې داسې لیکوال هم سته چې په ډېر کم عمر کې یې پخه لیکوالي کړې ده او د مشرانو او پخو لیکوالو په کتار کې ولاړ دي.
د دغه لیکوالو په کتار کې چې عمر یې کم دی خو پخه لیکوالي یې کړې یو هم د هلمند ولایت ځوان لیکوال او تاریخ پوه ښاغلی شریف الله دوست دی.
ښاغلي دوست شاوخوا شل تاریخي او څېړنیز اثار لیکلي دي. دوست زموږ د هېواد داسې یو لیکوال دی چې، په ډېر کم عمر کې یې پخه لیکوالي کړې ده او داسې لیکوال ډېر کم لیدل کیږي.
شریف الله دوست د پښتو ادب د پلازمېنې هلمند په معاصر ادب کې ښه ترجماني وکړه، دی د خپلې لیکوالۍ ترڅنګ د هر ادبي، مدني مجلس څراغ او بنسټګر دی.
ښاغلی دوست د خپل ادبي چوپړ ترڅنګ په هلمند کې د مدني ټولنې له بنسټګرو څخه دی، دی ډېر سپېڅلی انسان دی، دا رښتیا ده څوک چې په رښتیا علم وکړي او عمل ورباندې وکړي هغه به د خیر او ښېګڼې سړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دده لیکوالي د هېواد په کچه دده د عمر څخه لوړه بولم، همدارنګه په همدغه سرشاره ځوانۍ کې دده سپېڅلتوب، تقوا او پرهېزګاري راته په نننۍ عصر او ځوانانو کې کم ساري ښکاري.

کله ناکله ځینو دوستانو چې ښاغلی شریف الله دوست یې سم نه وي مطالعه کړی، هغوی دوست ډېر انتقادي بولي، نه اصلاً داسې نه ده، دا د فطرت خبره ده چې هیڅکله پاک انسان ناپاکه خبره او ناوړه خبره د اورېدو او منلو زغم نه لري، په اصل کې د ښاغلي دوست همدغه خاصیت دی چې سپېڅلی دی.

دوست د خپلو ټولو خدمتونو سره سره ۲۵۰ بېلابېل تاریخي لرغوني توکي راټول کړي دي او په دې ارمان دی چې د یادو توکو څخه به یو موزیم جوړوي.

ښاغلی دوست ډېر عجب خاصیتونه لري، د هر ډول تعصب څخه خلاص دی، بدبختانه به ووایم چې یو شمېر ځوانان چې ځان ته د لوړ استعداد خاوندان هم وایي خو په کوچنیو قومي کړیو کې ځان راګیر کړي، ښاغلی دوست د دوی په وړاندې یوه ښه نمونه ده چې د هر ډول قومي تبعیضه خلاص دی، حتی د اهل هنودو د ستونزو په هوارۍ کې هم منډې ترړې کوي، ډېر اخلاص مند او هڅاند دی، تل یې په خوله د پاک او ناپاک خبره کیږي او دا یې په عمل کې هم ثابته کړې، چې د هر پاک ملاتړ کوي او د ناپاک په وړاندې مبارزه کوي.

په هلمند کې د ډېرو لیکوالو لارښود دی، ډېر کتابونه چې وګورو سریزه به ده پرې کښلې وي او د ده له لازمو مشورو وروسته به چاپ سوي وي.

ښاغلی شریف الله دوست کله کله وایي: ((که موږ لیکوالي او شاعري کوو او په عمل کې د خپلې ټولنې لپاره څه نه کوو، یانې د ظالم خلاف خبره او د مظلوم مرسته ونه کړو، نو بیا زموږ شاعري او لیکوالي مانا نه لري.)) دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره نوموړي په خپل ژوند کې ثابته کړه، هلمند مدني ټولنې مبارزه دده هڅه او تلاش دی او ډېره جالبه خو دا ده چې دی هر څه کوي پټ يې کوي، خپله مبارزه چاته نه ښکاره کوي او نه خلکو ته ځان څرګندوي، چې دا د اسلامي اصولو يو اصل هم دی چې ښه وکړه خو مه يې ښکاره کوه، دوست صيب همدا سې دی، تل چې ښه کوي او خدمت کوي پټ يې کوي.

د دوست په شخصيت او فکر که هرڅومره وږغېږو خبرې به مو خلاصې نه سي، دی يو فقير انسان دی، د هر ډول تکبر او غرور څخه ليرې دی، کله کله چې راسره په دسترخوان کښېني، زه ورته وايم دوست صيب! سبزي ده، دی راته وايي «پياز دې وي خو په نياز دې وي»

د نوموړي ژوند ډېر عادي دی، د ورځې په سوداګريزو چارو بوخت وي، خو ليکوالي او څېړنه ټوله د شپې کوي، سره له دې چې په نن زمانه کې ځوانان له ډېره کبره کاږه سرونه په لوکسو لوکسو موټرونو کې ګرځي خو دوست صيب، په يو زوړ بايسکل ګرځي او کله کله په پښو هم ګرځي.

زه د دوست په دوستۍ وياړم، نوموړی په رښتيني مانا د هر چا دوست دی او تل کوښښ کوي چې هرڅوک خپلې سينې ته نږدې کړي، له ستونزو، ارمانونو او هيلو يې خبر سي او ډاډ ورکړي.

شريف الله دوست سره له دې چې ډېر زيات مصروف دی، خو د خپل پياوړي فکر له برکته يې د ځانګړي مهال وېش له مخې هر څه ته وخت ورکړی دی، نوموړی يو ښه ليکوال دی، ښه مبارز دی، ښه خواخوږی دی، ښه مشر او ښه ورور دی.

که د ښاغلي دوست سره يوه شيبه کښېنې د يو عادي انسان په څېر چلند درسره کوي، ګنې دغه شان علم چې چا لرلی لکه ښاغلی دوست چې يې لري، نو که ځوان وای د تکبر او لويې به يې ساری نه وای، خو دوست دومره سنګين انسان دی، له عاجزۍ يې هرسړی اغېزمن کيږي، خو دغه ملنګ هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل کاروبار کوي، هم پخه لیکوالي کوي او هم د ټولنې د مظلوم قشر اواز پورته کوي چې کلونه کلونه یې مدني مبارزه وکړه، مبارزې یې هم همېشه رنګک راوړی دی، د دې مظلوم ولس لپاره یې هر رنګ پر ظالم لکه د توپ ګوذار دی او د دوست ډېری مخالفین نوموړی نه سي زغملی.
زه د ښاغلي دوست په ملګرتوب ویاړم، نوموړی زموږ د فکري سنګر ملګری دی، د ښاغلي دوست د اوږد عمر او د هغه د فکر د خپرېدو په هیله !

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قیس هاشمي شاعري او د اوسنۍ ټولنې انځور

د شعر نړۍ ډېره رنګینه ده، د شعر رنګیني په شاعر پورې اړه لري څومره چې شاعر خپله شاعرۍ کې نوښتګر وي په هماغه اندازه یې شعر هم له نوښتونو ډک وي او پر ښکلاګانو مالامال وي.
په پښتو شاعرۍ کې هغه شعر ته ښه ویل کیږي چې د ولس پر ژبه وي او خلک وربانديې وپوهیږي، د خپلې ټولنې رښتیني واقیعتونه ونغاړي، په رمز خبرې وکړي او د شعر په پسته ژبه خلک پوه کړي.
پخوا به ښه شعر هغه شعر ته ویل کېده چې؛ قافیه او ردیف به یې درلوده او یا به په بدیعي ښکلاو سنبال و، خو اوس پښتو ادب ته د ازاد شعر په راتلو سره پخواني نظریات چې دشعر په اړه و اکثره یې له منځه ولاړل او هغه وخت کې چې د ښه شعر لپاره کوم معیارټاکل سوی و هغه مات سو.
اوس قافیه، ردیف او بدیعي ښکلاوې د ښه شعر توکي نه بلل کیږي؛ بلکې ښه شعر هغه دی چې د ولس په ژبه وي، پېغام یې ښه وي او پر لوستونکي اغېز وکړي.
په دې وروستیو کې د هېواد ځینې شاعرانو د لنډکي شعرونو په نوم هم شعرونه لیکلي چې که ډېر اوږده سي تر لسو کلمو نه اوړي خو دومره ژور پېغام پکې پروت وي چې د پخوانیو اوږدو اوږدو نظمونو او داستانونو سره مقابله کولی سي.
په معاصره دوره کې هم ډېر داسې شاعران پیدا سول چې جادویي شعرونه یې ولیکل او له خولې د شعر لفظونه لکه د اور وورېدل، په پښتو شعر کې یې نوښت او ښکلا رامنځته کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو شعر په اوسني ډګر کې هغه څوک چې شاعري په نوښتونو سنبال ده او رسا د ولس په ژبه شاعري کوي د هلمند ولایت ځوان شاعر احمد قیس هاشمي دی.

هاشمي د اوسنيو حالاتو سره سم له زړه خبرې وباسي او خپلې معصومې کوکې د ټولنې د فرد فرد تر غوږو رسوي، لکه په دې بیت کې:

څومره چې زه څومره چې زه پوهېږم
دومره پوهېږم چې زه نه پوهېږم
نور نو يې نشته د ویلو حاجت
جانانه زه په رمازه پوهېږم
یو رکعت لنډ او بل يې اوږد وکړی
د ریا کاره پر لمانځه پوهېږم

که پورته بیتونو ته ځیر سو نو، قیس په یو پټ رمز کې خبرې کوي او بالاخره يې د دې ټولنې د ځینو خلکو چې په مذهبي جامه کې یو ډول او بل ډول دوکې خلکو ته ورکوي له هغې پرده پورته کوي او دغه خلک يې په واقعي ډول پېژندلي دي، زموږ په ټولنه کې ډېر داسې خلک سته چې ځینې مذهبي کارونه د ریا (ځان ښودنې) او شهرت لپاره کوي، بل پلو دا جرات هم ګران دی چې څوک د دغه ډول خلکو رازونه افشا کوي.

قیس په یوه داسې ټولنه کې ژوند کوي چې شپه ورځ پکې د جنګ خبرې دي، هره ورځ سیمه، کور او کلی د یوې پېښې شاهد وي، نو قیس هم له جنګه زاره چاودی دی او په معمولي ټک يې زړه غورزي او اند ښنمن کیږي چې خدای ج مکړه بیا چاودنه نه وي سوي، لکه لاندې بیت:

پام کوه پام کوه زړګی مې مه چوه پړک مه کوه
جنګ ویرولی یم په جاولو باندې ټک مه کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو ویشتمې پېږۍ پېغلې په دې باک نه راوړي
بربت دې قربان شم دومره خیال دې په ټوپک مه کوه

او یا لکه لاندې بیت چې له جنګه کرکه کوي او مخاطب مینې او ژوند کولو ته رابولي:

ایسته یې واچوه ټوپک دې له شپېلۍ ونیسه
زه به توت وڅنډمه ته راته څولۍ ونیسه

قیس هاشمي د هغه خلکو لاسونه نیسي چې ځمکه پر ازغیو پوښي او پر خپلې دوستۍ او مینې یې راضي کوي چې ترڅو بل ته په لاره کې کوهی ونه کیندي:

ده فرشوله په اغزو ما پاکوله لاره
اخر مې دوست کړ ورته پاکه نه شوه بله لاره

که څه هم د قیس په شاعرۍ کې نوې خبرې دي، او خپله هم دعوه کوي چې په شعر کې خپله لار لرم خو زما په فکر دا کار یې له مبالغې خالي نه دی خو بیا هم ځوان دی، احساسات لري که د نویو خبرو سره د قیس په څېر ځوان په شعر کې د خپلې لارې د جوړولو دعوه وکړي باید احساسات یې ژوبل نه کړو، لکه په یو بیت کې وایي:

قیسه څه خیر دی که یې زړه درته اوبه اوبه کړ
قیسه په شعر کې دې پیدا کړه ځانته خپله لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې مو هم يادونه وکړه چې قيس ددې ټولنې ځوان دی او په دې ټولنه کې ژوند کوي په خپل هنر کې يې ددې ټولنې انځورګري کړې ده.

چا نه راګرځوله زړه يې نه غوښت خپله نه تله
د پېښور ګرمۍ وهلې له کابله نه تله
تا که ژړلي وای په تللې مهاجرې پسې
وطنه نن به دې له غېږې څخه بله نه تله
په تلويزيون کې سوځولی مکتب ولې د شپې
سهار افغانه ښوونځي ته ويرېدلې نه تله

قيس هاشمي د اوسني دولت د مامورينو خبرې هم رسوا کړي دي او د مراجعينو سترې انځور داسې وړاندې کوي.

غريب سپين ږيری و نن ورولید د مامور وپښو ته
ويل يې بس دی ما دفتر په دفتر مه ګرځوئ

دغه تاند شاعر که نوې شاعري کوي نو د عمر په لحاظ دومره تجربه نه لري نو شايد د لږ عمر له وجې د نورو شاعرانو تر تاثير لاندې هم دی او په ځينو شعرونو کې يې د پښتنو د نورو شاعرانو سيوری ښکاري.

زه ليکم غزل ته کړه رڼا ډيوې
دا کار يې پر ما دا يې پرتا ډيوې
مه ورکوئ لوښې په واړه عمر
نه شمه ليدلی په ژړا ډيوې
نن يې د يار قبر غلط کړی دی
بلې يې نن سر ته کړې زما ډيوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

قیس په کم عمر کې داسې خبرې کوي چې تر ده ډېرې مشرانې دي، هر کلام یې زړه ته‌کوري لوی لامل یې دا دی چې؛ د ټولنې له غوښتنو سره سمه شاعري کوي؛ په دومره لږ عمر په شعر لیکلو کې داسې اوږده تجربه لوی مهارت او د شعر پر دښته مزل غواړي چې د شعر پر پراخه دښته د مزل او یون لارې قیس پیدا کړي دي، خو دا چې عمر یې ډېر کم دی شاید له دې امله ترې کله کله دغه لار ورکه سوې هم ده.

که زموږ په ټولنه کې د قیس هاشمي په څېر شاعرانو ته پاملرنه وسي، وهڅول سي او په شا وډبول سي نو لیرې نه ده چې د پښتو ادب لمن به له داسې مرغلرو ډکه سي چې پېړۍ وروسته به هم خپل قیمت له لاسه ورنه کړي.

د قیس هڅې تپانده او قلم یې تاند.

۳۰/۱۰/۱۳۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غزل په اننګو کې دویم ځلاند انسان

((د استاد محمد صدیق پسرلي د دویم تلین په مناسبت))

استاد محمد صدیق پسرلی څو بعدي شخصیت وو، هغه په ادبي ډګر کې د شعر پر نغري داسې غزل بل کړ چې، د نوښت تاوده به یې تر ډېره ساړه نه سي.

دغه لوی عالم د ادب په میدان کې له اوږده مزل وروسته دې ټولنې او په ځانګړي ډول د ادب لوستونکو، ښوونکو او مینه والو ته داسې څه راټول کړل چې تر ډېره به ورته په دغه برخه کې تورې لارې روښانه کړي.

نوموړي له شعره تر نثره، له غزله تر طنزه او په هره برخه کې چې یې اړتیا محسوس کړې یو څه لیکلي دي.

په سختو او ترخو ورځو کې یې هم خپله ژبه او ادب نه دی هېر کړی، د مهاجرت د ترخو شپو پر مهال یې خواره واره لیکوال راټول کړل، د نوي ادبي نسل روزنې ته یې ملا وتړله، په شپېتمو کلونو کې یې د سپېدې په نوم مجله چاپ کړه، چې تر ۱۳۷۴ل پورې دغه مجله چاپېده.

نوموړي په پېښور کې ډېری ځوانان وروزل چې له برکته یې اوس پښتو ادب د نوښتونو، ډېرښتونو او پرمختګونو مالامال دی.

د معاصرې دورې په سر کې چې د پښتو غزل په تن کې یې د نوښت ساه پوه کړه، هغه اروانباد حمزه بابا وو، تر حمزه بابا وروسته چې غزل یې په بېلابېلو نوښتونو وپسولو، د خیال نوې جامې یې ور په تن کړې، پر خلکو یې ولوستو، د ژوند رښتیني اړتیاوې یې پکې انځور کړې، هر چا پکې ځان ولید هغه اروانباد صدیق پسرلی وو، چې هر څه یې د خپلو تجربو پر اساس لیکلي دي، نو ښایي همدا لامل به وي چې غزل یې د هر چا زړه ته د سکون او به ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړي په نثر کې هم کار کړی دی، ناولونه يې ليکلي دي خو زما په اند ډېرې خبرې يې په شعر کې کړي دي، که د نوموړي شعرونو ته په دقيقو عينکو کې وګورو نو د ژوند ډېری داسې تجربې به ترې واخلو چې تر اوسه ترې نا خبره يو.

د نثر په اړه ويل کيږي چې بايد د ولس په ژبه وي، نو هم راښکون پکې وي او هم يې خلک لولي او ستړي کېږي پکې نه، خو استاد شعر کې هم دغه هنر کار کړی دی، نو ځکه يې شعر عام فهمه دی او هر څوک پرې پوهېږي، په لاندې بيتونو کې يې مشهورې محاورې راخيستې چې ډېری وخت زموږ او ستاسو د خلکو پر ژبه وي:

(۱)

له پېښې تېښته نشته، هر څه به آسان کړي الله
راځئ لومړی له کلي واخلو د ستم جنازه

مات لاس ځي غاړې ته، د مينې منډه وي تر حسنه
لکه مجبور پتنګ چې ستا مخې ته ږدم جنازه

څومره ښه يې ويلي دي، کټ مټ همدا خبره ده. په دې کې هيڅ شک نسته چې د نړۍ ټول ملتونه خپل هدف ته په رسېدو دي خو يو د دې ملنګ شاعر ملت دی چې خپل مراد ته ونه رسېده، ده ته خپل ملت تر هر چا ښه مالوم دی او د پاچاخان مبارزه هم د ده په مخکې تېره سوې ده خو د دې ټولو سره سره د ده ملت په يو درانه خوب ويده دی لکه ده چې ويلي دي چې پښتون يو مبخ کړی ټغر پروت دی او بل په عينې وخت کې علاج هم کوي او وايي که

(c) ketabton.com: The Digital Library

مو ځانځاني ختمه کړه، د علم او پوهې ډيوې مو هر کور کې بلې کړې، نو بيا به پښتون خپله هغه ورکه ومومي چې په ځان ځانۍ کې پسې ورک دی. (۲)

د مراد مزل ته هر څوک ور نږدې شو
يو پښتون لکه مېخ کړی ټغر پروت دی
که د ځان له جوړولو ور فارغ شو
په دې خاوره کې بې توله ثمر پروت دی

د استاد غضنفر له خولې مې ډېر اوريدلي چې پلار يې پر وطن مئين سړی وو، همېشه به يې ويل: «که د وطن دا لاره جوړه سي نو ګټه به يې دومره وي، که هاغه پلانی ځای جوړ سي نو فايده به دومره وي.»
رښتيني خلک پر نورو انسانو خپه کېږي او د دوی غم ورسره وي، د دې کار تر ټولو لوی ثبوت دا دی چې يو څوک په رښتيني ډول د خپلې خاورې او خپل هېواد سره مينه ولري. ځکه د خپل وطن سره مينه له انسانيت سره مينه ده. نو استاد صديق پسرلی د ملنګۍ په جامه کې هغه عظيم انسان وو چې د پاچاخان په څېر د ډېرو انسانو د پوهولو غم ورسره و او هر څوک يې هېوادنۍ مينې ته وربللو.
اروابناد پسرلی د اوسنۍ زمانې انسان دی، په هېواد کې شته ناخوالې په خپلو سترګوويني، په جنت وطن کې د افغانانو دوزخي شپې يې ځوروي، په دې خوږ وطن کې د ارام او هوساينې ارمان يې په لاندې څلوريزو کې ښه څرګندېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)

وطن باده، د وطن باده
د روح ارامه، د زړه مراده
کله به زړونه په تاتکور شي
کله به روح کړو، د رباندې ښاده

مخکې مو د استاد د شعر پر روانوالي خبرې وکړې، ښه شعر یوازې دا نه چې ښه پېغام له ځان سره لري، بلکې ښکلی انځور هم لري، ځکه د انځور په غېږ کې ښه پېغام وړاندې کېږي او اغېز هم ډېر وي. استاد خپل شعر او په ځانګړي ډول غزل کې بېلابېل مهارتونه ځای پر ځای کړي دي، ولسي محاورې، د هر چا د زړه خبرې، رښتیني انځورونه، نوي سمبولونه او دې ته ورته نور توکي، د شعر یوه ښه ځانګړنه یې دا هم ده چې ښه تصویر وړاندې کوي، راځئ په لاندې څلوریزه کې وګورو چې یوه شپه راته څنګه تصویروي:

(۴)

چې ستا په یاد مې شپه رونوله
تشه مینا مې راځنځوله
ستوري لاپټ وو دورو برستن کې
پسته اورورو، ورو شپه لمبوله

غزلې ډېرو خلکو لیکلي او ډېری شاعرانو په خپله زمانه کې دغه برخه کې پهلواني کړې ده، خو تر هر چا د حمزه بابا نوم ډېر یادېږي چې د پښتو غزل یې ځوان کړ، د پښتنو رښتیني انځور یې پکې ځای کړ، لوی لامل یې دا وو چې غزل کې یې خپلې تجربې ځای کړې او داسې جادو یې پرې وکړ چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقیقي مینې خاوندان خپله تنده پرې ماتوي او د مجازي مینې خاوندان خپل ځان پکې ويني.
له حمزه بابا راوروسته چې د غزل بڼ ته يې د خپل وجود وينه ورکړې او بېلابېل ګلان يې پکې کرلي دي اروانباد صديق پسرلی دی، استاد پسرلي هم د پښتو غزل ناوې ته نوې شال ور پر سر کړ، پر نوښتونو يې ولړو، سمبولونه يې ورته جوړ کړل او د دې ټولو شيانو په برکت يې پکې د خلکو غوښتنې ځای کړې، دا لاندې غزل يې د بېلګې په توګه وړاندې کووم چې په بېلابېلو ښکلاوو سمبال دی:

نه مري، مينه نه مري، زه که ومرم واله تربه يم
تا چې لاګړی نه وي اخيستی په ګودربه يم
سل ځلې که وره شم، که باران شم، که سېلاب شمه
هغه سمندر چې ومه، هغه سمندربه يم
ټولې مې کړې پېښې د هستۍ له ورږو تربو نه
پرې مې ږده درشل ته بې نيازه قلندربه يم
خيال د خورو زلفو دې چې ورک د آسمان وره کړمه
ستړګې که راواړوې د بل کهکشان لمربه يم
ستا د ښايستونو په عالم دې مازديګر نه شي
ما که نور هم وسوځې د کلي مازديګربه يم
ما ويل چې يم به يو څو دمه مېلمنه پرخه
شپه او ورځ چې غم رابانديږي ووري وچت غربه يم
ونيوله مجنون که له غمونو د صحرا لمن
زه ورته مورچل نيسم که لاړم په خبربه يم
ته مې د څپو پر سر نسکوره جام د ځګ ګڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره د ساقي په لاس کې پاته ډک ساغر به یم
خیر دی که وهلی یم شکونو په ذهنونو کې
دا لږې که ببرته شوې د مینې سپین سحر به یم
ژوند د واقعیت دی پسرلیه تر چرې لاندې
ښکلي تصور سره چې مل یمه بهتر به یم.

استاد پسرلی عظیم انسان وو، هغه د ادب سره دومره مینه درلوده چې خپل اولادونه یې هم په دغه برخه کې وروزل او د خوشال خان ختک په څېر یوه فرهنګي کورنۍ یې تر شا پرېښوده.
د استاد خبرې دومره پخې دي چې، پر هر بیت کتابونه لیکل کیږي، دا لږې خبرې د نوموړي په حق کې هیڅ دي، خو نوموړي دومره هنر پنځولی چې تر پېړیو پېړیو به نسلونه څېړنې ورباندې وکړي، هر اثر، هر غزل، هر بیت او هره کلمه به یې په څو څو ځل وشنل سي، هرڅوک به خپل ځان پکې ولټوي، له بېلابېلو زاویو به ورته وګوري او د هر وخت موجوده نسل لپاره به یې هره خبره یوه لویه تجربه او لارښوونکې شي.
د نوموړي په لاندې څلوریزه خپله لیکنه بشپړووم چې د دغه عظیم انسان شخصیت ترې څرګندیږي، پر ګور یې نور شه.

څوک د مرغلرو پیژندوی نه و
تل د سمندر ته ګوهر بیرته ورم
راغلم جهان ځای د اوسیدو نه و
کډه په زیږي مازدیګر بیرته ورم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فېسبوک او ټولنه

د فېس بوک کارونه د هرې ټولنې د فکر او کلتور استازیتوب کوي. د نړۍ له پرمختګ سره سم په ټولنیزو شبکو کې په رسنیزه برخه کې یو هم فېس بوک دی. دا یوه داسې رسنۍ ده چې، په ډېره اسانه او ژر څوک خپل پیغام تر بل چا رسولی سي، هره ټولنه او وګړي یې ځانته بېلابېل خصوصیات لري، زموږ د ټولني د نورو ټولنو سره توپیر دا دی چې؛ موږ کله ناکله د یو مثبتې ښکارندي( پدیدې) په کارونه کې یا ښه دقت نه کوو او یا افراط کوو.

اوس مهال د فېس بوک کارونه دومره ډېره سوې چې، لوستو خلکو ترڅنګ یې زموږ د ټولنې عام او نالوستي وګړي هم کاروي.

زه فېس بوک شبکه ستایم او کله کله چې ځینې له سانسوره ډکو رسنیو توپیري چلند ووینم، بیا له ځانه سره ووایم: «زنده باد فېس بوک» یانې په دې مانا چې فېس بوک د چا لخوا نه سي سانسورېدای او هر څوک کولی سي خپل د زړه خبره د ټولنې تر نورو وګړو ورسوي.

اوس راځم دې ته چې؛ زموږ په ټولنه کې د فېس بوک کارونه څنګه او څرنګه ده؟

زه خپله د فېس بوک په کارونه کې ډېر غښتلی نه یم خو علاقه او لېوالتیا ورسره لرم، لږ تر لږه شپه او ورځ کې دوه درې واره د فېس بوک نړۍ ته په دې خاطر سر ورښکاره کووم، چې د نویو مالوماتو ځان خبر کړم، زما په زړه کې چې څه راګرځي هغه له ملګرو سره شریک کړم او د ملګرو لخوا را استول سوي پېغامونه لولم.

کله کله خو فېس بوک کې داسې نادودې او چټیات هم لیکل سوي وي چې له فېس بوکه مې زړه تور کړي، سم او ډېر ورباندې وځورېږم. زموږ په ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د فېس بوک لويه برخه د مثبت استعمال پر ځای منفي کارول کېږي، د خلکو توهين کېږي، په وړاندې يې بې منطقه خبري کېږي، ملي نفاق ته لمن وهل کېږي او حتی ځينو محبوبو او د کار خلکو ته سپکې خبرې او حتی ښکنځل کېږي.

برعکس ځينې فېس بوکي کړنې مې بيا په دې خاطر خوښېږي چې نوښتګري وي، زه يې يوه بېلګه راوړم:

د هلمند يو تکړه ژورنالېست او ليکوال ښاغلی احمد شاه پاڅون همېشه پر خپله فېس بوک پاڼه مثبت شيان خپروي، خوږې جملې کاروي، لنډ پرمختيايي راپورونه خپروي، زموږ هېوادني توليداتو څخه فېس بوکيان خبروي او په ډېره مينه او علاقه د هېواد د مينې او پرمختګ په خاطر کمپاين کوي.

دغه راز د هېواد نامتو عالمان لکه ښاغلی ډاکټر عثمان بهيج چې تل پر خپله فېس بوک پاڼه علمي مطالب خپروي، نوي نوي لغاتونه او نور شيانو څخه هېوادوال خبروي.

دې ورته ډېرې بېلګې سته چې موږ او تاسو يې وينو ، فېس بوک سره له دې چې زموږ په ټولنه کې يې د دې له امله چې ډېری خلک مو نالوستي دي په سمه توګه نه کاوري او يا يې ممکن په کارونه ونه پوهېږي خو ډېری خلک يې بيا په سمه او مثبته توګه کاروي او ګټه يې هم دې ټولنې ته رسيږي.

خو مهمه خبره دا ده چې موږ بايد دا هر څه د يو ځانګړې مهال وېش له مخې وکړو ، زموږ د ټولنې ځوانان دومره ډېر پر فېس بوک روږدي دي چې، په دفترونو کې ترې خپل کارونه پاتې وي، د خپلو دوستانو سره، مور پلار، خوېند ، مېرمن او نورو خلکو سره خبرې او مجلس نه سي کولی، خپل ټول وخت پر فېس بوک مصرفوي چې دا هم زموږ ټولنې ته زيانمن تمامېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې ځوانان خو په پوهنتونونو او ښوونځیو کې چې استاد درس ورکوي لا دوی پر فېس بوک اخته وي.

هر شی د کارونې دوه مخه لري، ښه او بد ، خو دا بیا په کاروونکو پورې اړه لري، څوک سمه او پر ځای ګټه ترې اخلي او څوک یې بیا ناسم کاروي، فېس بوک هم زموږ په ټولنه کې په پورته دوه بڼو عام سوی دی.

فېس بوک او ټوله کې ټولنیزې رسنۍ باید د خپلې ټولنې د ګټې په موخه وکاروو ، د یووالي، ورورلۍ، سولې لپاره باید ګټور پېغامونه په بېلابېلو بڼو وړاندې کړو ، چې ډېری ځوانانو دا کار کړی هم دی، چا د شعر په نرمه ژبه په فېس بوکي نړۍ خپل پېغام رسولی، چا کیسې لیکلي او چا په نورو بڼو.

ددې ترڅنګ یو بل کار هم باید وسي، هغه څوک چې د ټولنې لپاره کار کوي او ټولنیزې شبکې په همدې موخه کاروي باید وستایل سي او تقدیر سي، په دې سره به په ځوانانو کې د ښه پېغام رسونې او خدمت حس هم ژوندی او ګړندی سي او ټولنې ته به مو هم ګټه ورسیږي.

راځئ یوازې فېس بوک نه بلکې د خپل ژوند ټولې چارې د یو مهال وېش له مخې تنظیم کړو ، زه په ډاډ ویلی سم چې په دغه وخت کې به مو هم خپل کارونه پر خپل وخت او پوره بریالیتوب سرته رسولي وي او هم به مو ټولنې ته لویه ګټه رسولي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولس ته د خپلواکۍ مبارکۍ او د وخت مشرانو ته پیغور

په اوسني وخت کې د خپلواکۍ ورځ نمانځل سره له دې چې ډېرو خلکو ته به یوه مسخره وي، خو د دغه ورځې یادول ملي ګټو او خپلواکۍ ته د ژمنتیا یو اصل دی.
د افغانستان له خپلواکۍ دا دی ۹۶ کاله تېر دي، پکار خو دا وه چې په دغه نږدې اته لسیزو کې باید زموږ هېواد په هره برخه کې دومره پرمختګ کړی وای چې نړۍ کې یې ساری نه وای، اقتصادي، روغتیایي، پوهنې، ساینس او نورو برخو کې باید زموږ د مثبتو حرکتونو او خوځښتونه برابر څوک نه وای، خو خبره داسې نه ده، هر څه سرچپه دي، په هره برخه کې وروسته پاتې ته مو نړۍ ګوته په غاښ ده، ترڅنګ یې په هره برخه کې زموږ له کمزورۍ ګټه اخلي او هر ډول ازمایښتونه راباندې کوي.
د افغانستان د خپلواکۍ اتل غازي امان الله خان سره له دې چې له نړیوالو یې خپلواکۍ ترلاسه کړه او د هېواد په تاریخ کې یې یو داسې کار وکړ چې تر قیامته به د هغه نوم د دې هېواد هر بچی په پوره ویاړ سره یادوي، ددې ترڅنګ د هغه وخت له نړۍ سره په هره برخه کې سیالي وکړه، اقتصاد ته یې وده ورکړه، معارف یې وغوړاوه.
د غازي امان الله خان دومره پر هېواد او ملي مسایلو مئین او ژمن شخص و، چې کله په دې خبر سو چې هېواد خرابیږي او د بربادۍ لوري ته ځي نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زورواکو په څېر يې خپل افغان ورور پسې ټوپک نه راوباسي، بلکې دا هېواد پرېږدي او ځي.
اوسنيو حالاتو ته به راسو، اوس چې د هېواد د خپلواکۍ د ۹۲ يمې کاليزې وخت رارسېدلی دی، افغانان يو بل ته مبارکۍ ورکوي، جنشونه جوړي، خو زموږ هېواد نن سبا په داسې يو حالت کې ښکېل دی چې هره ورځ افغانان وژل کيږي، بل پلو افغانان ډېر خطرناک خوبونه ويني او ورځ تر بلې يې اند ېښنې ډېرېږي او ډېری اند ېښنې يې پر حقيقت هم اوړي، اوس وخت کې د افغانستان خلک داسې فکر کوي چې خدای مه کړه، يو ځل بيا هېواد کنډر کنډر نه سي او هر څه له لاسه ورنه کړو.
اوسنۍ نا امني او نورې ستونزې هغه څه دي چې موجوده مشرانو ته لوی پېغور دی، ځکه غازي امان الله خان په داسې زمانه کې له نړۍ سره سيالي وکړه، چې د اوس په پرتله دومره امکانات نه و، خو بيا نوموړي په خپل قوي سياست هر څه ته وده ورکړه، ټول افغانان يې يو کړل، خپلواکي يې ترلاسه کړه، او په هرې برخې ته يې وده ورکړه.
اوس د افغانستان په چارو کې د ټولې نړۍ لاس وهنه کوي او د خپلو ګټو په موخه يې افغانستان کې په بېلابېلو چارو کې ځانونه ښکېل کړي، بل پلو مرکز زموږ د قومي حکومت او قوي ادارې نه شتون ولس له سختو اند ېښنو سره مخ کړی، بې باوري بله لويه ستونزه ده چې زموږ د مختګ مخه يې ډب کړې.
يوه داسې اداره لرو او په اداره کې داسې خلک راټول دي، چې ډېری يې ملي ګټو ته ژمن نه دي فقط خپلې ګټې او خپل قدرت او ځوکۍ لپاره کار کوي، ښه بېلګه يې ځينې لوړ پوړي دولتي چارواکي دي چې موږ او تاسو عملاً وليدل، چې کله پر يوه دولتي ځوکۍ ناست وي که دا حکومت او اداره هر ډول وي، په وړاندې يې هيڅ نه وايي، خو چې له ځوکۍ ليرې سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بې دندې سي، نو بيا د حکومت د هرې کړنې په وړاندې غبرګونونه ښکاره کوي او د خپلې څوکۍ د لاسته راوړلو لپاره هر ډول دولت ضد کړنې او فعاليتونه کوي.

دغه راز مو سياسيون هم دي، ناسم سياست کوي، د ولسي بې باورۍ لپاره ډول ډول خبرې کوي، يوه ورځ يې يو ډول دريځ وي، بله ورځ يې دريځ اوښتی وي، فقط د خپلو ګټو او قدرت لپاره سياست کوي، ډېر کم داسې سياسون به ولرو چې ملي ګټو ته ژمن وي او دې هېواد او خاورې لپاره رښتينی اواز پورته کړي.

ددې ترڅنګ ناسم اقتصاد، فساد کې د چارواکو بې حده ښکېلتيا او د قدرت د اړيکو، قوم، ګوند او نورو له مخې وېشه هغه څه دي چې زموږ اوسنی حکومت يې شاتګ ته اړ کړی او د ولس باور پرې ختم دی.

په اوسني وخت او نننی عصر کې زموږ چارواکي د قدرت لېوني دي، اديب، سياستوال، ملا، استاد او ددې ټولنې د هرې طبقې او هر مسلک خاوند يوازې او يوازې ددې کوښښ کوي چې څنګه ځان قدرت ته ورسوي، څنګه ملي ارزښتونه تر پښو لاندې کړي او خپلو ګټو ته په برې ځان ورسوي، بس همدغه دده برياليتوب او دده کاميابي ده.

اوسنۍ ټولې ستونزې، د ټولنې په وړاندې پرتې ننګونې، د خلکو اندېښنې او په ټوله کې د هېواد شاتګ د اوسنيو مشرانو لپاره په داسې حال کې پېغور دی چې د افغانستان د خپلواکۍ ۹۲يمه کليزه نمانځل کيږي، زه هم په خپل وار د نننی عصر مشرانو ته پېغور ورکووم او د نړۍ په لر او بر کې ټولو افغانانو ته د هېواد د خپلواکۍ مبارکي وايم.

تل دې وي افغانستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مبارزې پاچا

کله چې د خدايي خدمتګارۍ، عدم تشدد او عدم تعصب خبره کيږي؛ نو د پاچاخان بابا نوم ورسره څرګند يادېږي، خان بابا خپله مبارزه په داسې وخت کې پيل کړه چې د تشدد پر ضد خبره ډېره سخته وه.
زموږ سيمه، په تاريخي لحاظ د پرديو يرغلګرو لخوا همېشه تهديد سوې ده او کله چې دښمنان په نظامي جګړه کې پاتې راغلي او ماتې يې خوړلې ده نو بيا يې فکري جګړه پيل کړې ده او د خلکو ذهنيتونه يې په يو او بل فريب په بېلا بېلو لومو کې ګير کړي دي.
په داسې حالت کې يو قوم او ملت ته نجات ورکول او د دوی فکرونه له غلامۍ ژغورل اسانه خبره نه ده، پياوړي فکر، لوی زړه او پراخې فداکارۍ ته اړتيا لري.
هغه څوک چې د دې ملت د فکر سمولو، له غلامۍ ژغورلو او د سيمې له نورو قومونو سره د سيال کولو لپاره يې سپېڅلی جهاد پيل کړ د پښتو قوم ستر مبارز پاچا خان و.
د خان بابا فکر د ظلم پر خلاف، د مظلوم لاسنيوی، ټولنيز عدالت ته لاره هوارول او په ټوله کې د پښتون قوم د نورې نړۍ سره برابرول و؛ چې د دغه ارمان لپاره خان بابا خپل ټول ژوند قربان کړ او تر دې دمه يې لارويان د سر په بيه مبارزه کوي.
عدالت داسې يو خوږ نوم دی چې سړی يې په نوم اخيستلو هم ارامي او سوکالي محسوسوي؛ د نړۍ ډېرو ملتونو د عدم تشدد لپاره مبارزه وکړه چا چې د خپلو مشرانو دا لاره تعقيب کړه هغه ملتونه نن سوکاله، خوښ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارام، اباد او خپلواکه خاوره لري لکه په هندوستان کې ګاندي او په افریقا کې نیلسن منډیلا.
زموږ پښتون قوم هم د پاچاخان په نوم منډیلا او ګاندهي لري زموږ په جغرافیوي جوړښت کې پاچاخان د عدم تشدد بنسټ کېښود او دا فکر یوازې د پښتنو لپاره نه و بلکې د ټولې سیمې لپاره و، د سیمې ډېرې خلکو له دې څخه الهام واخیست خو موږ لاددې پر ځای چې؛ دا فکر په ځان کې خپور کړو، ملت جوړونې ته پام وکړو نو بر خلاف مو په پاچاخان پسې ملنډې ووهلې او هغه ته مو د لېوني لقب ورکړ، دغه ستر مبارز خپلې تجربې او مشورې له ګاندهي سره هم شریکې کړې چې له امله یې اوس هندوستان د سیمې په هېوادونو کې هسکه غړۍ ګرځي.
زموږ په ټولنه کې له پخوا څخه یو بد کلتور دود دی چې هغه وخت د یو چا پر ارزښت پوهېږو چې له لاسه مو ورکړي وي، هغه وخت ژاړو چې ژړا مو کومه ګټه نه کوي، هغه وخت د یو چا پر فکر خپل ځان او ټولنه پرمختللې بولو چې پر هغه فکر مو خروار خاورې باروي.

پاچاخان پښتنو ته ډېرې چغې ووهلې، ډېر مدني پېغامونه یې پرېښودل، د پښتنو د فکر روزلو لپاره کور په کور وګرځېد او هر چا ته یې دا چغه ووهله چې: (( یو کیږو ګنې ورکیږو. ))
اوسني مدني فعالیتونه کټ مټ د پاچاخان د فکر ترجماني ده، د هغه ویده ارمانونه دي چې د هېواد په لر او بر کې ځینو ځوانانو، ښوونکو او د ویښ ضمیر لرونکو اشخاصو لخوا چې د هېواد جوړونې، فکر جوړونې او په ټوله کې د ملي شتمنیو ساتنې، اسلامي او کلتوري ارزښتونو ژمنتیا لپاره متې نغاړلي دي او د خان بابا په هغه فکرونو روان دي چې نیمه پېړۍ مخکې یې د خپرولو کوښښ او هڅې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اوسني وخت کې ډېر وړ اشخاص او رښتيني مدني فعاليتونه لکه مخکې چې مو يادونه وکړه پر خپل ځای د تشدد پر خلاف دي خو ورسره د مدني ټولنو په نوم ځينې خلک او اشخاص د شخصي موخو لپاره چغې وهي، معاملې کوي او خبره دې حد ته رارسېدلې ده چې، د مدني ټولنو له نوم سره د ځينو خلکو حساسيت هم پيدا سوی دی، چې دا کار خپله د رښتيني مدني فعاليت پر وړاندې خنډونه پيدا کوي او د خان بابا د فکر د خپرولو مخه نيسي.

مدني فعاليت او د تشدد پر وړاندې چغه وهل د خان بابا په څېرر اشخاص غواړي، د هغه پشان کلک هوډ، سپېڅلی نيت، پاک زړه او لويه فدا کاري غواړي، اوس ځينې خلک چې د مدني فعاليت په نوم له غرضه ډک شعارونه پورته کوي هر چاته روښانه دي چې د دوی هدف رښتيا هم سپېڅلې مبارزه ده که د دې ويده ملت غولول !؟.

مبارزو او ويښو ځوانانو ته مې مشوره ده، که دوی غواړي په خپله سپېڅلې مبارزه کې بريالي شي، که دوی رښتيا د خپل ملت جوړول غواړي، که دوی رښتيا خپله ټولنه سمول غواړي، که دوی خپل قوم د نړۍ د نورو قومونو سره په يو کتار کې ودرول غواړي، که دوی خپل خلک له غلامۍ ژغورل غواړي نو د سپېڅلي پښتون ستر مبارز خان پاچان ژوند دې مطالعه کړي، د هغه پر مبارز ژوند دې مزل وکړي، خپل فکر دې د هغه د فکر تابع کړي او د هغه د ارمانونو تل ته دې ورښکته شي، بيا به د دوی مبارزه رښتيني، سپېڅلې، پاکه او د دې هېواد او خلکو د ګټو لپاره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملت ته د ملي تحریک ډالۍ

زموږ هېواد یو له هغه هېوادونو دی چې ګوندونه پکې ورځ تر بلې ډېرېږي، د ډېرو لږو یې هدف او تګلاره مالومه ده خو ډېر داسې تحریکونه او ګوندونه جوړ سول چې یو څه وخت یې ګوند فعالیت وکړ او بېرته تر خاورو لاندې سول.

ځینې داسې ګوندونه او تحریکونه هم پیدا سول چې فقط د خپل هدف او سیاسي موخو لپاره یې کار وکړ او اوس هم په خپلو سیاسي فعالیتونو او کارونو بوخت دي.

د پورته یادو سویو ګوندونو تر څنګ ځینې داسې ګوندونه او تحریکونه هم پیل سول چې یوازې یې په سیاست بسنه ونه کړه، بلکې د ملي حماسې تر سیورې لاندې یې په بېلابېلو برخو کې خپلو هېوادوال په سینه پورې ټېنګ ونیول، د خلکو اواز یې واورېد او پر خپلو مبارزو چغو یې د هېواد په ګوټ ګوټ کې ازانګه کړل.

هغه تحریک چې د سیاسي فعالیت ترڅنګ یې اسلامیت، افغانیت او انسانیت ته کار وکړ په هره برخه کې یې د خپلو هېوادوالو تشې درک کړې او بالاخره د کلتور او فرهنګ د کاروان یون یې ګړندی کړ د افغانستان ملي تحریک دی.

د افغانستان ملي تحریک یوازې دا نه چې په سیاسي برخه کې یې د پام وړ ګامونه واخیستل، د دې سربېره یې ټولنیز، پوهنیز، کلتوري، ادبي او بالاخره داسې ملي حرکتونه وکړل چې په رښتینې توګه یې دا وښوده چې ملي تحریک یوازې نوم نه بلکې د عمل په ډګر کې هم مخکښ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه تحریک د تېر یو کال په موده کې په بېلابېلو برخو کې نږدې ۵۰ لوی غونډې جوړې کړي دي، چې د اسلامي، کلتوري، ټولنیز او نورو ملي مسایلو د ساتنې او پرمختګ لپاره یې طرحې وړاندې کړي دي، ملي، اسلامي او کلتوري ارزښتونو باندې د یرغل مخه یې نیولې ده.
افغانستان ملي تحریک په دې وروستیو کې په فرهنګي ډګر کې داسې نوښتګر قدم واخیست چې د خلکو پام یې خپل لور ته وروا ړو.
((خپل ملت ته د ملي تحریک ډالۍ)) تر نوم لاندې یې شل عنوانه کتابونه تر چاپ وویستل او د یوې لویې غونډې په ترځ کې یې ملت ته وروپېژندل.
دغه کتابونه د بېلابېلو لیکوالو لخوا پر بېلابېلو موضوعاتو لیکل شوي او ترتیب سوي و او د بېلابېلو افغان فرهنګپالو لخوا یې د چاپ لګښت ورکړل سوی و.
دغه غونډه د تېر ۱۳۹۳ل کال د کب د میاشتې پر ۲۸مه نېټه د پنجشنبې په ورځ د کابل په ستار هوټل کې جوړه سوې وه چې د ملي تحریک د مشر استاد محمد اسماعیل یون ترڅنګ نورو فرهنګي شخصیتونو هم برخه پکې اخیستې وه.
اوس به راسو دې ته چې د ملي تحریک دغه حرکت څومره له نوښتونو ډک دی او څومره اړتیا ورته لیدل کیږي.
مخکې مو هم یادونه وکړه چې ملي تحریک د ملي مسایلو په اړه په بېلابېلو برخو کې کارونه کړي دي، غونډې یې جوړې کړي دي، ولایتونو ته یې سفرونه کړي دي، فرهنګي غونډې او مشاعرې یې جوړې کړي دي او دا دی زموږ د ټولنې او په تېره بیا د ادب او فرهنګ په برخه کې ستره اړتیا چې د کتاب چاپ دی دا یې هم ترسره کړ.
د کتاب چاپ زموږ ژبې او زموږ ټولنې ته ستره ډالۍ ده، ځکه په دغه برخه کې له بده مرغه موږ ډېر پاتې یو، له یوې خوا د کتاب ارزښت هم زموږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنه کې دومره نه پېژندل کيږي لکه په نوره نړۍ کې ښايي له همدې امله يې چاپ ته پام هم نه وي شوی او بل پلو مو د چاپ لړۍ ډېره کمزورې ده.
ملي تحريک چې ځان يې د عمل په ميدان کې ثابت کړی دی، دغه برخې ته هم پام کړی دی، تشه يې درک کړې ده او خپل ملت ته يې د کتاب د چاپ ډالۍ ورکړه.
دلته يوه خبره يادول اړين بولم، زموږ د ټولنې هغه طبقه چې ليکوالي کوي، مينه ورسره کوي او د کتاب پر ارزښت پوهېږي تر ډېره پورې امکانات نه لري، چې خپل کتاب چاپ کړي او خپل فکر تر نورو ورسوي، خو هغه خلک چې امکانات يې په لاس کې دي او د ليکوال د ارمانونو د پوره کېدو لپاره کوم خنډ سره نه سي مخ کېدلی ممکن د کتاب له ارزښت بې برخې وي او يا يې هم دغه تشه نه وي درک کړې.
زه په هېواد کې په نورو ګوندونو، تحريکونو، شخصي او نا شخصي ادارو ږغ کووم چې د ملي تحريک په څېر دې د نورو بېلابېلو فعاليتونو سربېره په فرهنګي ډګر کې کار وکړي، د مرکز تر څنګ دې په بېلابېلو ولايتونو کې فرهنګي غونډې او علمي سمينارونه جوړ کړي، مشاعرې دې جوړې کړي، کتابونه دې چاپ کړي او داسې خدمت دې وکړي چې تر ابده پورې هم دوی پرې ياديږي، هم ټولنې، هم ژبې او هم کلتور ته ستره غنی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مدني مبارزې ځوان وکیل

هسې خو هم زموږ د ټولنې خلکو په نننې عصر کې ټولې سترګې ځوانانو ته دي او د خپل امید لمنې یې ورته غوړولي دي.

هغه څوک چې په دې وروستیو کې ولس ډېر باور پرې کوي، هلمند کې د فعاله ځوانانو په منځ کې یو هم د ولایتي شورا ځوان وکیل ښاغلی بشیر احمد شاکر دی.

نوموړی مخکې تر دې چې ولایتي شورا ته راسي، هلمند مدني ټولنې له لارې یې خپله مبارزه کوله او د دې ولس د حق غوښتلو لپاره یې هر ځای د حق چغې وهلې.

د نوموړي همدغه پاکې مبارزې ولسونه اړ کړل، چې ده ته رایه ورکړي او تر ولایتي شورا یې ورسوي.

دی له هغه وکیلانو له ډلې و چې د ټاکنیزو مبارزو پر مهال یې پیسې مصرف نه کړې بلکې د ولسونو په باور او رایه دې شورا ته راغی.

ښاغلی شاکر چې ځوان دی، د هېواد جوړونې او دې ولس په اړه ډېر ښه فکر لري، د نوموړي سره زما د ملګرتیا یوازینی راز هم په دې کې دی چې ټینګ مبارز دی.

د هغه شخصیت بېلابېل اړخونه لري، زړه سوانده دی، د مظلومانو دوست دی، جرأتمند دی او د هر ډول ستونزې په وړاندې د ډغرو وهل چل یې زده دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړي په لږ وخت د ډېرو ولسونو زړونه وګټل، تل له خپله وسه اضافه کار کوي، رسنيو کې ډېر راڅرګنديږي، د خلکو د زړونو خبرې کوي او ښه خاصيت يې دا دی چې د لوی لوی چارواکو په وړاندې په زړورتيا خبرې کوي.

د ښاغلي شاکر شخصيت ډېر اړخونه لري، بايد ډېرې خبرې پرې وسي، په لنډه بايد ووايو چې د کار او عمل سړی دی، د دغه ډول ځوانانو بايد ملاتړ وسي، نور حوصله هم ورکول سي، د هېواد راتلونکی دوی ته ګوري.

هېواد مو دغه ډول ځوانانو ته اړتيا لري، د فکر او هڅو د غځېدو په هېله يې.

ډېر تفاوت دی په انسان کې د مانا په لحاظ
واړه مشغول دي ځينې ځان ځينې جهان جوړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په سعودي عرب کې بې پوښتنې افغانان

خدای ج چې پر خپلو انسانانو ورحمېږي نو بيت الله شريف ته د سفر د تللو امکانات ورته برابر کړي. زه هم د هغه نيکمرغه انسانانو له ډلې وم چې نږدې درې اونۍ وړاندې سعودي عربستان ته د عمرې کولو لپاره ولاړم. له عبادت پرته مې ځان سره دا تصميم هم نيولی و چې هلته به ميشت افغانانو سره وينم او د دوی له ژونده به ځان خبرووم.
کله چې مدينې منورې ته ورغلو، هلته ډېرې افغانان اوسېدل، سلګونه افغانانو کورنيو هلته ژوند کاوه. دوی يوه اتحاديه هم درلوده، ما يې مشر پيدا کړ او هلته د دوی پر ژوند، اسانتياو او ستونزو مې ورسره خبرې وکړې.
خبرو يې ډېر نا هيلی کړم. افغانستان چې د سعودي عربستان سره له پخوا اړيکې لري، زموږ وطن ته له دغه هېواده صحابه کرام راغلي. د اسلام دين يې خپور کړی او حتی د ژوند سره يې هم دلته کابل کې مخه ښه کړې چې يو شمېر صحابه کرام دلته ښخ هم دي.
ما چې د افغانانو له ژونده ځان خبر کړ ډېرې ستونزې يې درلودې لکه هيڅوک چې نه لري. لکه د پوښتنې ثوک چې يې نه وي او هر ثوک چې څه وغواړي پرې کولی شي.
د دوی يوه لويه ستونزه دا وه چې اقامې (د دوی د اوسېدو جوازونه) د پاکستان له لارې ورکول کېږي. دوی بايد پاکستان ته ولاړ سي او هلته دغه ستونزه هواره کړي او خپل کارونه خلاص کړي. يوازې د پخواني ولسمشر حامد کرزي په وخت کې د شپږو مياشتو لپاره يوه پروسه پيل سوه چې اقامې د افغانستان له لارې ورکول کېدې خو دا پروسه بېرته ودرېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسني ولسمشر محمد اشرف غني هم سعودي عرب کې له ميشتو افغانانو سره ژمنه کړې وه چې د اقامو ياده ستونزه به يې حلوي خو له بده مرغه تر اوسه هيڅ اقدام نه دی سوی.

يوه افغان راته وويل: «زموږ حکومت په دې برخه کې هيڅ توجوه نه ده کړې، موږ له ډېرو ستونزو سره مخ يو، د پاکستان حکومت په دې برخه کې ډېر کار کړی دی خپلو خلکو ته.»

د دوی خبرو فکر مند کړم، د سعودي عرب په ښېر هېواد چې افغانستان ورسره له پخوا اړيکې لري، حتی روژه او اختر د دوی د محکمې پر اجازه او اعلان کوي خو لا هم هلته زموږ حکومت داسې اړيکې نه دي جوړې کړي چې د افغانانو ستونزې دې هوارې سي.

مدينه منوره کې ميشتو افغانانو هلته د افغانستان له سفارت هم ګيله کوله. د افغانانو د اتحاديي مسؤلينو ويل تر اوسه يې د دوی هيڅ پوښتنه نه ده کړې. د افغانانو پر ستونزو يې سر نه دی ګرځولی. حتی افغانان چې سفارت ته ورسي هم وخت نه ورکول کېږي او نه پرېښودل کېږي.

يوه بله مهمه موضوع چې ما درک کړه دا وه چې د سعودي عربستان او پاکستان اړيکې ډېرې ښې وې. د افغانستان سره يې چنداني اړيکې نه وې جوړې. ښايي دا لامل وي يې چې هلته افغانان ستونزې لري او پاکستانيان يې نه لري.

د ملامتیۍ ټوله ګوته زموږ حکومت ته نيول کېږي. افغانان چې د نړۍ په ډېری هېوادونو کې ژوند کوي، سعودي عرب هم يو له هغه هېوادونو دی چې ډېر پښتانه پکې ژوند کوي. يا مسافر دي او يا هلته کورونه لري. دوی هلته له ښې ورځې نه او سېږي، مجبوريت هلته رسولي دي، داسې يو هېواد چې افغانستان ورسره په ډېری مسايلو کې شريک دی، په تېره بيا مذهبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشترکات، خو له بده مرغه زموږ اړيکې اوس هم دومره کمزورې دي چې د يو عادي افغان ستونزه نه سي حلولی.

دا سې کورنۍ مې هم هلته وليدې چې څو لسيزې يې هلته ژوند کړی دی خو پام نه دی ورته سوی. يوازې اوسني حکومت نه بلکې پخوانيو حکومتونو هم هلته خنډونه له منځه نه دي وړي.

د خلکو ستونزو. هلته ميشتو افغانانو ژوند. د دوی کړاونو. د دوی ګيلو چې له حکومته يې کوله، ډېر ناهيلی کړم.

حکومت بايد سعودي عربستان کې د افغانانو ژوند ته جدي پام وکړي او هلته د اوسېدو، کاروبار برابرولو، د ځايي حکومت سره د دوی اړيکو جوړولو کې بايد هڅې وکړي.

تر ټولو مهمه خبره چې د افغانستان حکومت بايد ورته پام وکړي، د سعودي ميشتو افغانانو اقامو(هلته د اوسيدو جوازونو ) ستونزه ده چې حکومت بايد غم وخوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پتیال د هېرولو نه دی

افغانستان یو له هغه هېوادونو دی چې، د ګلانو رژول پکې اسان کار دی خو د ګلانو روزل ډېر ګران تمامیږي، په دې هېواد کې به په ډېر همت او زحمت یو ګل وروزې، خو چې د ثمرې وخت یې راشي نو د بې رحمه خزان تر شا داسې لوګري راپیدا شي چې روزل شوی ګلاب په ډېرې اسانۍ ورژوي.
ارواښاد عبدالقدیم پتیال یو له هغه ګلانو څخه و چې په خپل زحمت او همت پر علم او پوهه زین کړي اس سپور و او د بریالیتوب د میدان له ځلورو خواو یې طوافونه کول.
پتیال هغه ځوان و چې، د ثمرې ورکولو وخت یې و، د هغه د پوهې ونې بېلابېلې څانګې لرلې، هر چا یې له مېوې ګټه اخیسته او هر څوک یې په خوند پوهېدل، خو هغه انسان چې د پتیال د پوهې درختهٔ(ونه) یې نوره مېوې ورکولو ته پرې نه ښوده نو مالومه خبره ده چې، د نوموړې د پوهې مېوه یې نه وه خوړلې.
ارواښاد پتیال څېړونکی و، کره کتونکی و، لیکوال و، شاعر و، خطاط و او د مظلوم کلک ملګری او د هر ډول ظلم پر وړاندې سخت مبارز و.
پتیال د کندهار د پوهې او ادب پر اسمان هغه روڼ ستوری و چې د خپلې پوهې پر شغلو یې ډېرې سترګې وبرېښولې.
پتیال شعر لیکه، له شعر سره یې ځانګړې مینه لرله، د کندهار ادبي بنډارونه او د انارګل مشاعره یې توده کړې وه، خپله یې پوخ شعر لیکه، شعر یې مینوال لرل، په خپل شعر د ډېرو مظلومو انسانانو زړونه ټکور

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي دي، هغه د خپلې خوږې ژبې پښتو سره ځانګړې مینه لرله، کله چې د اطلاعات او کلتور رئیس شو نو په کندهار کې یې ادبي یون پیل کړ، د کندهار ادبي ملګري یې پر یوه ټغر راټول کړل، خپلو ملګرو ته یې د مینې او یووالي درس ورکړ او په دې یې وپوهول چې زړونه څنګه خپلیږي.

د پښتو ادب له اسمان دغه پرېوتي ستوري د کندهار د ادب پر ځمکه د خپل زړه پر وینو داسې پنځونې وټوکولې چې ترڅو دا نړۍ وي نو ادبپال به یې له فصل حاصل اخلي.

نوموړی سره له دې چې شاعر و ځوان محقق و، په اوسنیو ځوانو څېړونکو کې پټیال ځانګړی ځای لاره، لویه حوصله یې لرله او د څېړنې په برخه کې یې بېلابېل کتابونه او سلګونه مقالې لیکلي دي.

د ((پردېس بېنوا)) په نوم یې د اروانباد بېنوا پر ژوند او آثارو مستقل کتاب ولیکو، د پښتو ژبې د فلکلور ستر خدمتګار اروانباد محمد ګل نوري پر ژوند او آثارو یې څېړنه وکړه، د ((زرپانې)) په نوم یې ناول ترجمه کړ او د ((انکار)) په نوم د زړه پر خوږو خبرو سوي زړونه ټکور کړل.

اروانباد پټیال د اطلاعات او کلتور د ریاست مسؤلیت په لوی بریالیتوب ترسره کړ، له دغې دندې وروسته د کندهار مرستیال والي شو، چې بوختیا یې نوره هم ډېره شوه خو د بوختیاو سره سره یې بیا هم ادبي هڅې فعاله ساتلې او بېلابېلو غونډو ته به یې تګ راتګ کاوه.

کله چې هلمند کې د اروانباد عبدالروف بېنوا په اړه علمي سمینار جوړ شو نو پټیال ورته له کندهاره راغی ما ورته وویل: پټیال صیب! امنیتي شرایط برابر نه دي خو بیا هم تاسې سیمینار ته راغلاست، هغه په ډېره خوږ انداز راته وویل: ((چې په هلمند کې د اروانباد بېنوا پر ژوند او فن سیمینار جوړیږي او زه را نه شم نو زړه به مې څنګه کرار شي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

پتیال رښتیا هم پر پښتو او پښتنو مئین و ، هغه د خپلې رسمي دندې پر مهال په کندهار کې د بېلابېلو لیکوالانو او شاعرانو لسګونه کتابونه چاپ کړل او په خپل دغه بې مثاله خدمت یې د پښتو ادب لمن له ډېرو مرغلرو ډکه کړه.

که د پتیال د ادبي شخصیت پر ځمکه مزل وکړو شاید پکې ورک شو ، هغه په خپل کم عمر کې ډېره څه وپنځول، چې هر چاته د لمر پشان روښانه دي.

دغه تاند ځوان یوازې پر شاعرۍ، لیکوالۍ ، څېړنې ، ژباړې، خطاطۍ او انځورګرۍ بسنه ونه کړه، بلکې د سیاست په ازغن ډګر کې هم قدم کېښود ، ددې هېواد حالت یې وشنل، کندهار ولایتي اداري ته یې په خپلې غښتلې مفکورې بېلابېلې طرحې وړاندې کړې او ددې هېواد د سیاسي حالت د روڼتیا لپاره یې بې مثاله کارونه وکړل.

عبدالقدیم پتیال یو خوږ شخصیت درلوده ، که به پنځه دقیقې ورسره څوک کښېناست نو د دغه د شخصیت له خوږو به یې حتما یو څه له ځان سره اخیستل، د هغه دنده د هېواد په لر او بر کې مینه خپرول وه، خو دا چې زموږ په ټولنه کې د مینې خپرېدل بدله وینه ده نو دغه خوږ ځوان په بدن کې لا د ځوانۍ وینه په جوش او خروش وه ، ددې هېواد ډېرې بچیان یې د پوهې انرژۍ ته خپلې هېلې غوړولې وې، خو د پوهې د بڼ دغه بې مثاله ونه د خزان بې رحمه بادونو وربېله د نورې مېوې توان یې ترې واخیست.

د اروا ښاد پتیال د پوهې ونه وچه وشوه، خو دغه ونې داسې مېوې ټولنې ته ورکړې دي چې تر قیامته به یې خلک پر خوږو نه مړېږي، د هغه اثار، لیکنې او شاهکارونه به ژوندي وي، د هغه یادونه خاطرې به ژوندۍ وي او بالاخره لوی کندهار به تل پتیال ژوندی بولي.

د پتیال د فکر د خوربدو په هېله !

۲۲/۱۰/۱۳۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګلالي ماشومان او ختر



کله چې اختر راوسيږي نو تر ټولو لومړی راته خپل ماشومتوب رایاد سي، چې ماشومان و نو اختر ته به ډېر خوشاله کېدلو، خوښۍ به مو کولې، ساتيري به مو کول.

خو کله کله ځيني ساتيري ماشوم ته په زيان تماميږي، ډول ډول خطرونه ورسره مخ وي، مونږ چې ماشومان و د بابو صيب لمبې په نوم به مو د اختر په شپه يوه لوبه کوله چې ډير خس وخشاک به مو راټول کړل، لويه غونډۍ به مو ترې جوړه کړې وه بيا به د اختر په شپه اور ورته اچول کېده ټول ماشومان به ترې راټول و، دغه اور به ځيني وخت ماشومانو ته خطر و، يا به ددوی پښې لاسونه پکې وسوځېدل يا به يې لمن اور واخيست، خو هغه ساده وخت و، څوک نه پوهېدل.

دغه ډول نور ډېرې سيمه ييزې لوبې وې چې ماشومانو به کولې او خطرناکې به وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اوس زمانه کې پټاکۍ او دې ورته نور توکي چې ماشومان يې اخترونو کې رانيسي او خپل سات پرې تېروي تر ډېره خطرناک دي، موږ او تاسې عملاً وليدل چې ډېرې ماشومانو ته زيانمن تمام سول.
په دې اړه لومړی رسنۍ مکلفې دي چې کور کې پلرونو، مېندو ته عامه پوهاوی ورکړي، چې اختر کې خپله هم ماشومانو ته دغه شيان وانخلي او ماشومان هم پرې نه ږدي چې دغه شيان رانيسي.
ګلونو ماشومانو ته مې پېغام دادی چې اختر کې مو خپلې خوشالۍ او ساتېرۍ وکړئ خو له خطرناکو لوبو او خطرناکو ساتېريو ځان وساتئ، ددې ترڅنګ ګلونه ماشومان دې خپلې روغتيا ته هم پام وکړي، هم دې مور او پلار خپلو نازکو ماشومانو ته پوره پام وکړي، دوی پرې نه ږدي چې اختر کې ډېر خوراکونه وکړي، خدای ج مه کړه ناروغ نه سي.
ماشوم مو راتلونکی دی، په اوسني وخت کې خپل ماشومانو بايد په هر څه خبر کړو، د ډېرو شيانو په اړه دوی ته مالومات ورکړو، د دوی ذهنيتونه بايد وروزو، تر څو د دغه ډول خطرونو څخه خوندي و اوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لړليک

سرليک ................................................ مخ
د زړه اوازونه ټولګه سوه .................................... ۱
زما خبرې ................................................... ۲
افغان سوله بيه نه لري ....................................... ٤
پر موږ قيامت دی ............................................ ۷
په افغانستان کې د امريکا ژوبل سياست!........................ ۱۱
بيده لا وژل کېږو!!! ........................................ ۱۵
تبليغات که واقعي جګړه ؟ ................................... ۱۹
د حکومت بديل لرو خو د نظام بديل نه لرو...................... ۲۳
د روسانو ماتې که د سيمې بريا؟.............................. ۲٦
د عدم تشدد پر مرکز د تشدد ډک بريد.......................... ۳۰
د يو بل ته ګوته پر ماشه ورونو مينډې پر يوه ټغر................. ۳۳
سياست که مسخرې؟؟ ......................................... ۳٦
زوږ دولت او اوسنی هلمند ..................................... ۳۹
شخصيت جوړونه په ماديا تو کې که په معنويا تو کې؟ ............ ٤۳
ازاد د مدني مبارزې رښتيني څېره............................... ٤۵
عمومي سړک او د چارواکو موټريز کاروان......................... ٤۸
کيسې ګټل د مردانو کار دی ................................... ۵۲
مدني ټولنې بايد تعريف شي..................................... ۵٦
ملي ارزښتونه او د چارواکو لوبه .............................. ٦۰

(c) ketabton.com: The Digital Library


ملي لوبډله که ملي ټغر؟........................................ ٦٤
وينا که عمل؟................................................ ٦٩
هلمند کې د معاصر ادب مخکښ ................................. ٧٢
د يوويشتمې پېړۍځلور مخکښ شاعران ........................... ٧٥
د سبا پلاران................................................. ٨٩
د هلمند کوچنی اختر ........................................... ٩٢
د هلمند ستوری ................................................ ٩٧
هلمند کې د قلم اتل او مبارزې سرلاری .......................... ١٠٣
د قيس هاشمي شاعري او د اوسنۍ ټولنې انځور ................. ١٠٧
د غزل په اننګو کې دويم ځلاند انسان........................... ١١٢
فېسبوک او ټولنه .............................................. ١١٨
ولس ته د خپلواکۍ مبارکۍ او د وخت مشرانو ته پېغور ......... ١٢١
د مبارزې پاچا................................................ ١٢٤
ملت ته د ملي تحريک ډالۍ .................................... ١٢٧
د مدني مبارزې ځوان وکيل...................................... ١٣٠
په سعودي عرب کې بې پوښتنې افغانان .......................... ١٣٢
پتيال د هېرولو نه دی .......................................... ١٣٥
ګلالي ماشومان او اختر........................................ ١٣٨

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک په هلمند کې د ملي تحریک له ولایتي څانګې څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زړه اوازونه

(د بېلابېلو لیکنو ټولګه)

سردار محمد همدرد

۱۳۹٤ لمریز کال

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۱۰۹

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**